لولاکستاد بابا

# د احمدشاه بابا تاریخ

تألیف عبدالحی حبیبی

طبع پښتو ټولنه

تاریخ طبع ۱۳۲۹ -

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# لوی احمد شاه بابا

او دده وېناوې

(۱) احمد شاه بابا، ادیب، شاعر، مصلح، مفکر

۲) داحمد شاه بابا داشعارو دیوان له درو نسخو څخه مکمل.

لیك او تصحیح د

عبدالحی حبیبي

د پښتو ټولنې عمومي مدیر، اود مطبوعاتو د ریاست معاون

کابل ۱۳۱۹ عمومي مطبعه



اعلیحضرت لوی احمدشاه بابا

بسم الله الرحمن الرحیم

# پیل

هر ملت ځني مفاخر لري، چه تل په هغو ویاړي او ژوندي
کوي ئې، دیوه ملت تاریخ هم له دغو څخه جوړیږي، او
هر څوك چه ئې ولولي نو په درناوي ورته ګوري، او
ددوی لوړتیا هیڅکله نه هېروي !

موږ پښتانه خو هم په تاریخ کښې یوه ښه برخه لرو، زموږ
نیکونه او پخواني مېړونه دخپل عصر نومیالي او بریالي وه
او د منځني ایشیا تاریخ ددوی په لوړو کارنامو روښن دی
نو موږ ته ښایي چه داخپل مشعشع تاریخ هېرنه کو، او تل
په دې کښې زیار وکاږو، چه زموږ زامن د خپلو نیکونو
او پخوانو پښتنو په لوړتیاو او مېړانو پوه وي، او هیڅکله
هغه خپل تاریخي برم هېرنه کي

په دې سلسله کښې نومیالي او لوړ مړونه، او دپښتنو
علمي، ادبي، حربي مفاخر په خپلو راتلونکو زامنو پیژندل

او ددوی ټوله لویه کار نامې ښوول او لیکل، داوسنیو پوهانو وظیفه ده.

نن ورځ زموږ هواد ښاغلی او لوړ تیاغوښتونکی حکومت تر سیوری لاندی، دلوړتیاو پرمخ یون لارپه ښه ډول ورو وروپر بکوی، او هغه ټوله چارې چه دیوه اولس دسموالی او لوړتوب د پاره غوښتلی کیږی، زموږ په ښادمن هواد کښې هم پالـلی کیږی!

پښتو ټولنه چه ددې نیکمرغ عصر، او داعلیحضرت ځلمی ټولواک محمد ظاهر شاه پښتون ددورې، دپښتو او پښتنو یوه خدمت کونکې موسسه ده، غواړی چه زیاتی پرنورو علمی اوادبی چارو، دپښتنو پخوانو نومیالو په معرفی کولو کښې هم برخه واخلی، او دوی دعلم او ادب له پلوه په پښتنو وپیژنی.

زموږ دهواد یولوی بریالی، او دپښتنو د تاریخ یوروڼ ستوری اعلیحضرت لوی احمد شاه بابادی، چه ددنیا تاریخ اوپښتانه دی یومشهور بریالی او سترفاتح ګڼی، مګر دده

علمی او ادبی مقام چا ته نه دی ښکاره ، او لږ خلق په دې
خبر دی ، چه دا نو میالی فاتح ، او د پښتونخوا ستر مېړه ،
د پښتو ژبې د ادب یو لوی روزونکو ، او غوره ادیب او
شاعر هم دی ، او دی د خپل عصر یو ښه عالم او مصلح مفکر
هم گڼل کېږی !

په دې کتاب کښې به موږ دغه خبری ، په ښه ډول خپلو
ښاغلو ویونکو ته څرگندی کړو ، او د لوی احمدشاه بابا
د شعر پښتو دیوان به هم در وړاندی کړو .

په (۱۳۱۷) کال چه ع ، ش ، سردار عالی محمد داؤد خان
د قندهار ملکی او عسکری مشر وو ، دوی د خپلو د معارف
غوښتو له لامله ، ما ته د اعلیحضرت احمد شاه بابا
د دیوان د چاپولو تشویق را کی ، ځکه چه دا د شعر مجموعه
تراوسه نه د چاپ شوې ، او که ځنی بدلی ئې مستشرقینو
مینډلی او چاپ کړی دی ، هغه هم ډېری غلطی دی ، او د شعر
پر اصولو نه سمېږی (۱)

---

(۱) راورټی په گلشن ، روه . او هیوز په کلید افغانی کښې
ځنی د احمدشاه بابا بدلی چاپ کړی دی .

نوددې ګرابنها دیوان تصحیح خوله‌یوې نسخې څخه ممکن‌نه و ، اولا زمه‌وه چه‌درې څلور نسخې و کتلی‌شی ، په‌دې کار کښې هم‌زه کامیاب شوم ، اوله بنه‌مرغه می درې‌زړې نسخې ومیندلی ، اودا کتاب می ځنی تصحیح او تکمیل کی ، چه دهغو نسخو تفصیل به‌ددې مقدمی‌په‌پای کښې دتوضیح ترعنوان لاندی وسی ، دا کتاب دوې برخی دی :

لمړی برخه : داعلیحضرت احمدشاه بابا پرشاعری اوعلمی اوادبی مقام اودده پرافکارو مفصله تبصره‌ده ، او ترسلو تنوپوری دده دمملکت علمی اوادبی رجال هم معرفی شوی دی ، چه دده ادبی اوعلمی معاصرین ګڼل کیږی .

دوهمه‌برخه‌دده‌مردف دشعر دیوان دی ، چه‌دتهجی حروفو پرترتیب تصحیح او تدوین شوی دی ، اوځای ځای حاشیه‌هم پرلیکلې شوې ده ، چه‌اوس تاسی ته‌وړاندی کیږی .

دمخه تردې چه‌تاسی په اصل کتاب پیلو کی ، بنه‌به‌وی

چه‌په‌دې مقدمه کښې لنډ لنډ دبریالی پلار احمدشاه بابا دژوندون سوانح هم ولولی که‌څه هم‌دغه تاریخی کار نامې بېل کتاب غواړی، مگر دلته د ضرورت له لامله موږ دده دژوندون وقایع لنډ ذکر کوو :

احمدشاه بابا دزمان خان زوی ددولت خان لمسی دسرمست خان کړوسی وو،چه دغه‌سرمست‌خان دشیرخان زوی، اودخواجه خضرخان لمسی اودسدوخان کړوسی کېدی، اودا هغه سدو خان دی، چه دا حمد شاه بابا قبیله‌دده له نېره وه، سدوزی خودیو پلرو یوه پښه ده؛ چه‌له‌سره بنوپښتنوڅخه د(اودل) له‌پښته گڼله‌کیږی(۱)

داحمدشاه باباه نیکه دولت‌خان دپښتنو مشر وو، چه دقندهار دښهر صفا په کلاو کښې دصفوی حکومت نائب الحکومه گرگین خان‌دی مړ کی، ځکه‌چه دارغسان، پښتانه له‌دغه جهته دگرگین خان سره وو جنگېده

(۱) حیات افغانی دمحمدحیات‌خان دلاهور طبع ص ۱۱۷ —اوخورشید جهان دشیر محمد گنداپور دلاهورطبع،

نو گرگين خان ددولت خان زوی رستم خان په مشر توپ ومانه، او داحمدشاه بابا پلار چه زمان خان نومېده، ديرغمل په ډول د گرگين په دربار کښ وو.

(ورسته چه دحاجي ميرويس خان مشهور مشر له خوا دصفويانو دحکومت کمبله تو له شوه، نو زمان خان په هرات کښ دپښتنو مشر وو، او په (۱۱۳۵ ھ) وفات شو، داحمدشاه بابا بل ورور ذولفقار خان هم يو مشهور پښتون حربي سړی دی، چه دهرات مشر وو، او د نادر افشار له خوا په (۱۱۵۰ ھ) کښ مازندران ته نفي شو (۱) له تاريخي پلټنو څخه ښکاريږي، چه احمد شاه بابا په (۱۱۳۵ ھ) په هرات کښ زوکړی، او مور ئې «زرغونه» نومېده، چه دقندهار دکوهك په کلي کښ ئې قبر دی، او خلق ئې «زرغونه انا» بولي.

په (۱۱۵۰ ھ) چه نادر افشار قندهار فتح کاوه، احمدشاه بابا د (۱۶) کالو او دده په دربار کښ وو،

(۱) وگوری تاريخ سلطانی دخالص قندهاری دبمبی طبع اوحيات افغانی اوخورشيد جهان

وروسته چه دخراسان په فتح آباد کښ د يکشنبې په شپه(۱۱)دجمادی‌الاخر(۱۱۶۰ ﻫ)نادرشاه مړ کړه‌سو نو احمد شاه بابا قندهار ته راغی، او دعمر پر (۲۵) کال په (۱۱۶۰ ﻫ) دقندهار دشیرسرخ په کلی کښ پاچا سو (۱) په دغه وخت کښ دشوال میاشت وه.

احمدشاه بابا ښه اخلاق درلوده، متشرع عادل عالم پاچاوو، دخلقو سره ئې ډېر ښه سلوك کاوه نادر افشار به‌ویل،چه ما تر احمدشاه بل نیك اخلاق سړی په‌ټوله ایران او توران کښ ندی لیدلی (۲) احمدشاه بابا چه پر تخت کښېنوست، ده‌یوملی حکومت تشکیل کړئ، چه دېښتنو مشران په سلا او اداره کښ ورسره مله وه، خارجی مؤرخینو داطرز فیوډل سیستم بللی دی (۳)

(۱) وگوری سراج التواریخ، حیات افغانی، تاریخ سلطانی، تاریخ احمدی د عبد الکریم. قلمی

(۲) دعبدالکریم تاریخ احمدی - قلمی

(۳) دملیسون افغانستان طبع ۲ لندن

(احمدشاه بابا دافغانستان په ملی وحدت کښې ډېر زیار وکیښ
او ټوله ملت ئې سره یو کړ، دخپلو رعایاؤ ته دمساوات
او پلار ګلوی په سترګه کاته، نو ئې دوی هم ترا وسه
«بابا» بولی (۱) ددې پوه او نومیالی پاچا دمملکت
داخلی اصلاحات ډېر دی) ده په دننه هواد کښې داخلی تشکیلات
سم کړه، عسکری، اداری، علمی، او مدنی اصلاحات ئې
وکړه، وزراء ئې مقرر کړه، دمالیئې دوائر، شرعی محاکم
ئې بنا کړه، پخپل حضور کښې ئې دیوان انشاء
او درباری دوائر جوړ کړه، عرض بیګی، مهماندار
باشی، اردو باشی، جارچی باشی میرآخور، خزانه دار
هرکاره باشی (استخبارات) ضبط بیګی او نور ده
ملکی مامورین وه، دحربی ادارو مرکز دفتر نظام
باله کېده، چه نقلیت او دسیورسات مامورین ئې
هم درلوده، عسکر پیاده، سپاه منظم وه، پر دغه علاوه
«ایله جاری» عسکر هم وه، داحمدشاه بابا په فتوحاتو کښې

(۱) تتمه البیان د سید جمال الدین د مصر طبع ص ۶۹

دغو منظمو او غیر منظمو لښکرو ډېر خدمتونه کړي دي.

احمدشاه بابا ځني عمراني خدمتونه هم کړي دي، په (۱۱۷٤ هـ) ئې د قندهار اوسني ښار جوړ کړئ، په (۱۱٦٦ هـ) ئې د کابل پر ښار جنگي کوټ را وگرزاوه، په شمالي ولایاتو کښې ئې د تاشقرغان ښار جوړ کړئ، په سند کښې په (۱۱۸۲ هـ) د ده نائب الحکومه غلام شاخان د حیدر آباد ښار بنا کړ، او په (۱۱۷۰ هـ) ئې په مکه معظمه کښې د پښتنو حاجي خانه جوړه کړه، علاوه پر دغه د ده په عصر کښې ډېرې ویالې او کاریزونه هم کښل شوي او مملکت په زرغون شوي دي، د قندهار مشهوره واله «پاتاو» هم د ده کښلې ده، چه اوس د قندهار شاه خوا په زرغونه دي، د ده د خپل مرقد خورا نفیسه او عالیشانه گنبده هم په خپل ژوندون کښې جوړه کړېده، او خرقه شریفه ئې له بدخشانه قندهار ته راوړه.

د احمدشاه بابا د عصر نښان د غنمو وزې، او توره او پېو ستوري وو، چه پرا کثرو سکوئې سته، د ده طلائي، نقرئي

اومسی سکې ډېرې دي، چه په قندهار، کابل، ملتان او نورو ښارو کښې وهلې شوې دي.

احمدشاه بابا دخپل عصر لوی فاتح دی، ده ډېر حربي سفرونه کړي دي، چه لاندې لنډ لنډ ذکر کېږي:

(۱) د (۱۱۶۱ ه) سفر چه په دې دوره کښې احمدشاه بابا کابل، پېښور، سندا ولاهورا وملتان دخپل مملکت ضمیمه کړه، او دېرش زره لښکر ورسره وه، او په سر هند کښې ئې دهندله امپراطورسره جګړه وکړه، او بیرته د پېښور او کابل له لارې قندهار ته راغی.

(۲) دوهم سفر د (۱۱۶۲ ه) دی، چه په دې سفر کښې ئو له پنجاب په افغانستان پورې و نښت، او داتړ ئې اصلاح کړې.

(۳) دریم سفر په (۱۱۶۳ ه) کښې وو، په دې سفر کښې احمد شاه بابا هرات او مشهد او نیشاپور ته ولاړ، او بلوچستان ئې دخپل مملکت ضمیمه کړئ.

(٤) څلورم سفر په (١١٦٤ ه) دی، چه احمدشاه بابا په دې سفر کښې ټوله خراسان ونیوی، او نیشا پور ئې فتح کړ، او «شهرخ میرزا» چه‌دنادرشاه له کورنۍ څخه هلته وو، بیر ته‌ئې پاچا کړ، اودده لورئی خپل زوی تیمور شاه ته و غوښته، وروسته احمد شاه هرات ته‌راغی، او لس (١٧) زره لښکرئې دشاه‌ولی‌خان‌وزیر اعظم په مشر توب، میمنی، مزار، اوقطغن ته‌واستول، چه‌هغه‌ځایونه ئې اصلاح کړه.

(٥) په‌پنځم سفر کښې احمدشاه‌بابا په (١١٦٤–١١٦٦ ه) بیا پنجاب ته‌ولاړ، او کشمیرئې فتح کړ، او داټك پرغاړو ئې ټوله‌دپښتنو ځایونه ولیدل.

(٦) په (١١٧٠ ه) بیا احمدشاه بابا پنجاب ته ولاړ، اودغه ځای ئې سم کړ، کشمیر ته‌ئې هم لښکر واستاوه، او بیر ته‌ئې لاس ته‌راوړ، اوپه‌جمعه ٧ دجمادی‌الاول دده‌بریالی لښکرپه‌ډهلی ننووت، اودمغولی شاهنشاهی مرکزئې فتح کړ، احمد شاه بابا دډهلی دمغولی

پاچا محمد عزیزالدین عالمگیر ثانی سره خپلوی وکړه، او هلته ئې وزراءاو دلښکر مشران مقرر کړل، پاچهی ئې هم هغه پاچا ته پرېښووه، او دپښتنو دېرش زره لښکر بې له دې چه دډهلی ښار ته تاوان ورسوی، تر یوې میاشتی هستوګی وروسته بیر ته پنجاب ته راغی، او پرلاری ئې دېر بدخواهان پرځای له شرارته کښېنول، او دپیښور له لاری کابل او قندهار ته ولاړ، په دې سفر کښې زموږ پلار هندوستان فتح کې، مگر بیرته ئې دهغه ځای پاچا ته وبا ښبه.

(۷) داحمدشاه بابا اوم سفر په (۱۱۷۳ ـ ۱۱۷٤هـ) کښې دی، په دې کال دده یو مشهور منصبدار او غښتلی ملګری نصیرخان بلوخ داستقلال اعلان وکی، نوپخپله احمدشاه بابا ددو لس زرو سپرو سره مستونګ ته ولاړ، او نصیرخان ته ئې ماته ورکړه، او دبلوخستان په کلات کښې ئې محاصره کړ، وروسته دا لوی خان بیر ته تسلیم سو، او احمدشاه بابا عفو کی، تر دې وروسته نو دبولان

پر لار سند او پنجاب ته ولاړ، او د پانی پت پر میدان ئې د مرہټانو له لوړکو تنو لښکرو ته ماته ورکړه، په دې مشهور جنګ کښې د احمد شاه بابا ټول لښکر (۶۰) زره وه، خو د دښمن تلفات (۲) لك تنه وه، دا جنګ په ۶ د جمادی الاخر (۱۱۷۰ هـ) د احمد شاه بابا په لوی او تاریخی بری ختم سو، او غنایم (۵۰) زره اسان، دوه لکه غوایی، پنځه سوه پیلان، او څو زره اوښان وه، دوه ویشت زره تنه ژوندی بند یان د ښتنو په لاس کښې ولویدل، تر دې جنګ وروسته بیا احمد شاه د مغولی کورنۍ پاچا پر پاچهی پرېښو، او پخپله قندهار ته ولاړ

(۸) اتم سفر په (۱۱۷۵ تر ۱۱۷۷ هـ) پوری اوږد و، په دې سفر کښې ده دیاغی سکهانو زیښې په پنجاب کښې وکښنولې، د سر هند سره ئې د رجب په یوو لسمه ورځ (۱۱۷۵ هـ) د سیکهانو له اوبارزو لښکرو څخه (۲۵) زره تنه مړه کړه، او دوه کاله په پنجاب کښې و، ځکه

چه کشمیر بیا یاغی سوی وو ، نو ئې کشمیر هم بیا ایل کړ ،
او په (۱۱۷۷ هـ) د ملتان او ډیره خوا د ګومل له
درې څخه غزنی او بیا قندهار ته ولاړ .

(۹) د احمد شاه نهم سفر په (۱۱۸۱ هـ) کښې وو ،
چه د تخارستان او شمالی ولایاتو سمون ئې وکړ ،
او د بخارا پاچا عبدالعزیزخان سره ئې روغه وکړه ،
او د افغانستان حدود ئې له بخارا سره وټاکل ، دغه
د اعلیحضرت آخرنی حربی سفر وو (۱)

اعلیحضرت شاغلی احمد شاه بابا په (۱۱۷۷ هـ) د اوزدو
سفر وا وز حمتو په سبب ډیر ناروغه سو ، نو تر دې
وروسته دی په داخلی اصلاحاتو بخت وو ، خو چه په
(۱۱۸۶ هـ) کال د هواد تبدیلی د پاره د توبې غره

(۱) د دغو سفرونو تفصیلات وګوری په حیات افغانی ، سراج التواریخ ،
خورشید جهان ، تاریخ سلطانی ، تاریخ هند د ، ای مارسدن ، تاریخ
هند د سید ابو ظفر ندوی ، سیر المتاء خرین ، سر جان ملکم
او ملیسون او مکمن او نور .....

ته ولاړ ، چه د کوزك یو ښه ځای دی ، او په دغه ځای کښې د سرطان په مرض (۱) د عمر پر (۵۱) کال په (۲۰) د رجب چه د جمعې شپه وه وفات ، او د قندهار په ښار کښې ښخ سو . په دې ډول زموږ ښاغلی او غښتلی پلار احمد شاه بابا ، د خپل عصر یو بریالی نابغه وو ، چه یوازی د حرب او جنگ پهلوان نه ، بلکه د علم او ادب او اصلاح عملبردار هم وو ؛ د دې کتاب را تلونکی پاڼې به تاسې ته په ښه ډول د ده علمی او ادبی کارنامې هم ښکاره کی .

کابل ، شور بازار د قوس اول ۱۳۱۹

عبدالحی حبیبی ، د پښتو ټولنې عمومی مدیر ، او د ریاست مطبوعات معاون

(۱) د امیر عبدالرحمن خان تاج التواریخ ج ۲ فصل ۷

## توضیح

دا کتاب له‌درو قلمی نسخو څخه تصحیح او تکمیل شوی دی، ځکه چه‌د احمدشاه بابا په دیوانو کښې غلط لیکو نکو محررینو لاس وهلی او اکثر اشعار ئې ورخراب کړی وه، نو له دغو درو نسخو څخه‌ئې موږ تصحیح په‌ښه ډول وکی.

(۱) هغه نسخه‌ده چه‌ماپه سنده کښې مینډلې ده، خوشخط طلا کاری ده، لیکـونکی او دلیك تاریخ ئې ندی ښکاره.

(۲) هغه نسخه ده، چه‌د کابل دپښتوټولنې په‌کتابخانه اړه لري، دا نسخه‌هم خوشخط طلا کاری ده، مګر ډیری غلطی لری، او ناپوه کاتب مسخ کړې ده.

(۳) یوه ناقصه نسخه ده، چه دسر پاڼې نه‌لری (۱۱٦) مخه‌ئې سته، په ٦ دشوال چهارشنبې سنه ۱۱۸٦ ه داحمدشاه بابا دوفات په کال لیکلې شوې ده، دا نسخه صحیحه‌ده، او ډیری داسې بدلې لری، چه په‌نورو دوو نسخو

کښې نسته، لمړی دقند هار دسد وزود کور نی پر په تصرف کښې وه، اوس د قندهار د بلد یې د ریاست په موزیم اړه لری هغه بد لی چه په دو و یا درو نسخو کښې وې، بې له کومې اشارې لیکلی شوی دی، اما هغه بد لی چه د ریاست بلد یه له نسخې څخه اخیستی شوی دی. د پانې په پای کښې د (ب) په توری نخښه شوی دی، او هغه د الفاظو اختلافات چه دیښتو ټولنې په نسخه کښې سته د (پ) په حرف ښوولی شوی دی،

## یاد ونه

په دې کتاب کښې احمد شاه بابا د شعر دسبک له خوا، دخوشحال خان مقلد لیکلی شوی دی، مگر له ورو سته پلټنو څخه ښکاره شوه، چه احمد شاه بابا، د رحمان بابا په ادبی مکتب کښې داخل، او دهغه نامور شاعر پر سبک تللی دی.

(حبیبی)

(۱)

# احمد شاه بابا

ادیب ، شاعر ، مصلح ، مفکر

# لمړی وینا

داعلیحضرت احمدشاه بابا، لنډ سوانح، په دمخه پاڼو کښې پښتنو ته وړاندی شوه؛ اوس زه غواړم چه داحمد شاه بابا پر شاعری اودده پر وینا باندی ځیر نه وکړم، اودی دیوه مقتدر او مفلق شاعر، یوه عالم، بصیر اجتماعی سړی، محقق فیلسوف، سترگه ور متصوف په ډول د روښیم، ځکه چه دی تراوسه فقط دیوه نامتو جهانگیراو فاتح، او حربی سړی په ډول پېژندلی شوی دی.

زه به په لاندی لیکو کښې دده پر علم، ادب، سیاسی او اجتماعی افکارو، او فلسفی او علمی مقام باندی تبصره ولیکم، او په هر ځای کښې به د ده وینا، دمثال او برهان په ځیر دروړاندی کړم، ښایی چه دپښتنو ددغه لوی اجتماعی مصلح، اوښاغلی بریالی. د پلار توب حقوق، څه نه څه پر ځای شوی وی، دادی چه ځم اصل مطلب ته:

## د توری او قلم خاوند

لکه د مخه چه وو ویل، تر اوسه دنیا، احمدشاه بابا په دې ډول پېژني، چه د خپل عصر توریالی او بریالی سړی وو ده د خپلی توری او مېړانی په سیوری کښې د افغانستان او سنی دولت تشکیل کړی، او شاوخوا ئې په خپلو زړو طبیعی حدودو کښې خپور کی.

«احمد شاه» بابا، د هند او ایران او بخارا په مملکتو کښې هم فتوحات وکړه، مگر هلته ئې د هغو ځایو پاچهان پر ښه وو، نو دی د منځنی آسیا مشهور فاتح او شهنشاه وو.

دا خو د ده د توری برکت وو، او دی د خپل عصر ډېر نومیالی فاتح او بریالی وو، مگر راسی چه اوس موږ د ده د قلم خوا هم لږ څه رونه کړو او دا ښکاره کړو، چه احمدشاه بابا د علم او ادب له پلوه څه مقام درلود؟ او ده علاوه پر خپلو سیاسی او حربی خدمتو، پښتو ته څه علمی او ادبی خدمتونه کړی دی؟

احمد شاه بابا لکه د آسیا د مخنی فاتحین (چنګیز، تیمور، نادر) یوازی پخپلو جنګی تشکیلاتو او سوقیاتو سره جهانګیری نه ده کړې، بلکه ده د خپلی توری سره قلم، او د خپلی سربازی او توریالی توب سره، علم او فضیلت تقوا او ادب هم ملګری درلوده، ځکه نودی موږ د آسیا یوازی دلاور او نامتو بریالی (فاتح) نه ګڼو، بلکه ددې خاوری یوز بر دست ادیب، پوه عالم، عادل پاچا، لوړ شاعر، اجتماعی مصلح، دینی پیشوا، روحانی مقتدائی هم بولو، که زموږ لاندی لیکونه وکتل سی، دغه خبره به تاسی ته ښه او په ټینګه مدلله سی.

## د احمد شاه بابا شاعری او ادب

| |
|---|
| تر احمد شاه بابا دمخه<br>د پښتو شاعری<br>او د ده سبک |

هغه وخت چه موږ پښتون پلار اعلیحضرت احمد شاه بابا ژوندی وو، د پښتو شعر هم ښه رونق درلود، تر ده د مخه نیمه پیړی د مرحوم

خوشحال‌خان ختټك دپښتو ژبې‌پلار دپښتوادب یومشهور
ادبي مکتب پرانتلی وو، چه له‌دغه مکتب‌څخه دډېرنومیالی
اودکمال‌خاوندان راوتلي‌وه، احمد شاه‌بابا هم‌دخپل شعر
په ظاهري اومادي ډول ، دخوشحال خان‌ختک په‌مکتب
کښې فیض موندلی، اوله دغې ډلې‌څخه ګڼل کیږي، یعنې
دوینا طرز ، او د کلام ډول ، او د شعر سبك ئې هغه
دخوشحال خان سبك د ی ، ساده والی ، ګران اوپیچلي
استعارات نه لري، وینائې‌خوږه اودلکشه ده، په‌شاعري
کښې لکه دپارسو ژبې د «هندي سبك» خاوندان صرف
خیال پرست Ideatliste اومشکل‌پسندنه‌دی ، بلکه
هغه سبك چه‌لوی مؤسس ئې خوشحال خان ختټك د ی ،
تعقیب کوی .
دغه سبك موږ په پارسو کښې د «غزني دسبك » سره
مشابه کولای سو .

له‌خوشحا ل خا نه تراحمد شاه بابـا پوری لږ عمر یعنې
تقریباً نیمه پیړ ی‌ تېره سوې ده ، مګرد غه څلو ښت

پښتوس کاله د پښتو داد ب په تاریخ کښې ډېر اهمیت لري، زه ویلای شم، چه په د غه پښتوس کاله کښې د پښتو داد ب ګل زرغون شوی، او سمه ئې خوراتینګه شوې وه، ځکه چه ترخوشحال خان دمخه پښتو ادب ځنې مخصوص سبکونه درلوده، چه د عروضی او قافیه وی شعر تراساسو نه وه لاندی، مګر ترخوشحال خان راهیسته موږ وینو چه پښتو ژبې ډېر مقتدر او پیاوړی اد باء او شاعران موندلی، او داد ب بیرغ ئې د « منځنی آشیا » په غرونو کښې رپیدلی دی!

نو د غه پښتوس کاله د پښتو داد ب په تاریخ کښې د زرو کالو اهمیت لري، په د غه پښتوس کاله کښې موږ د پښتو نخوا په جګو غرو کښې ډېر اور، ژبې ویونکی ( شعراء ) وینو، دختکو ادبی او علمی خدمتونه هیڅکله نه هېریږی، چه دا کورنۍ څخه د دوی زړه ورونکی زغونه د پښتو په شاعری او ادب کښې وارو ېدوشوه، د خوشحال خان ختك د پلار توب پاخه او استادانه اشعار،

دا شرف خان هجری له درده اوسویه ډک زغونه، د عبدالقادرخان خټک روح پرور مضامین، د کاظم خان شیدا، اوعلی خان، او حیدر اونوروخټکو ادیبانو برجسته او قیمتی شعرونه [illegible] له په دغه نیمه پیړی کښې منځ ته راغلی دی! علاوه پر دغه د مهمندو رحمان، اودقندهار د[illegible]تکو عبدالرحیم اود کاکړو پیرمحمد اونور زبردستاواور ژبی د پښتو ادبیات په دغو وختو کښې لرو، اود پښتو ژبی شعراواد ب دوی خورا هسک توب او اوږ تیا ته رسولی دی (۱) چه زموږ غازی پلار احمد شاه بابا هم دژبی له دغو حقیقی خدمت کوونکو څخه دی!

احمد شاه بابا لکه د پښتنو واجتماعیاتواوسیاسیاتو، اوعمومی ژوندون ته چه لوی لوی خدمتونه کړی دی، د پښتو وعلم اواد ب او شعر ته ئې هم گرانبها او د گټو ډک خدمتونه کړی، او د ملی ژ بی په لویو ادیبانو کښې گڼل کیږی.

---

(۱) د پښتو ادب د نشو وارتقا تاریخ په «تاریخچه شعر پښتو» کښې د ۱۳ کال د طلوع افغان وگوری، دلته زیاتی نه ځایږی.

**داحمدشاه بابا د کلام عمومي ښېگړې:**

لکه موږ چه د مخه په پخوا نیو نشراتو کښې مفصلاً لیکلي وه (۱) شاعري دانسان دفطرت زړ غاو دزړه د کومي آوازدی، شعردانسان دزړه او دماغ ترجماني کوي، اودعواطفو او احساساتو له چینې څخه زېږي نو هغه زړه چه مرکزاو منبع دښو احساساتو اوپاکو جذباتو او ښو عاطفو وي، سلیم شعر، اوسمه و نیا او اثر بخښونکي زړ غ ځنی راوزي، احمد بن عمر چه په نظامي عروضي سمرقندي مشهور، او له پوهانو څخه د شپږمې هجري پېړۍ دی (حدود ۵۵۰ ه) لیکي چه:

«شاعر بنائی سلیم الفطرة عظیم الفکرة صحیح الطبع جید الرویه، دقیق النظر وی ...» (۲)

په دغه صفتو نو چه عروضي د شاعر دپاره لازم گڼلي دي، زموږ غازي احمد شاه پوره ستایلي وو دا احمد شاه با با

(۱) دعبدالقادرخان ددیوان مقدمه طبع دقندهار ص ۳۱ و گوری.

(۲) چارمقاله ص ۳٤ طبع دبرلین

دبا چهی حیات، او دعدالت رویه، اود ده ملت خواهی او لوړ همت اوعزم، او بیاد ده مېړانه‌او ښندنه دلالت کوی چه ده لوی فکر، او سمه طبع، او نری نظر، او سلیم فطرت در لود. نوځکه دده شاعری رشتینی شاعری ده، او ویل ئې دزړه له کومی دی !

داحمدشاه بابا په‌شعر کښې، دده لوړ فکر هسک‌همت دپښتنوالی‌جذبات، دشاهنشاهی جګ افکار دبخښنی او ښندنی‌هسک‌عواطف دتوریالی توب برجسته احساسات، دجهانګیری دشجاعت عزم؛ دایمان او عقیدې ټینګار، دعشق سوزان دردونه.دمینی ددنیا عجیب او غریب ګذارشات ښکاره دی!

دتوری پرمیدان یو بریالی او ننګیالی سرباز دی، دپښتنوالی‌پرډګر یو بشپړ پښتون دی،ددیانت او تصوف اوایمان په‌خوا کښې‌لوی متدین او متشرع روحانی دی دسیاست اومشرتوب له‌پلوه دخپل عصرلوی سیاسی مشر

او فاتح دی. دغه تو له خواوی دده په وینا کښې ستهٔ ا و په
اجتماعی دنیا کښې تکړه مورالیست Moraliste
دی، دده وینا اخلاقی مزایالری؛ ویل ئې ساده او دلکش
او مؤثر دی، شعری صنائع او بدیعی فنون هم دده پر
وینا اثر لری، دتصوف له دنیا څخه د ی ډېر ز غیبر ی څکه
نو دده دکلام لو بر خه هم دتصوف له اصطلا حا تو ډکه ده،
توریالی توب؛ شجاعت، سربازی؛ ښه اخلاق. سخاوت تواضع
او نور ښه خو یونه ستا یی، او خپل ملت ته ئې تشویق
ور کوی. حماسی احساسات ئې هم خو را لوړا و تند
دی، کله دیوه بر یالی جر بی قوماندا ن په ډ و ل د توریالی
توب په ستا ینه او تشویق کښې خوازه مضامین وا یی! کله
دوطن دحب تبلیغ کوی؛ او پښتا نه ملی وحدت ته را بولی،
او کله دعلم وخوا ته ښه تشویقونه فر ما یی.
داحمد شاه با با وینا له تعقید او ابهام څخه تشه ده،
خپل لوړ افکار، او دسوی زړه زغ، په ساده او خوږ والفاظو
څر گندوی، گران تشبیهونه نه لری، له و ینا څخه ئې

دپښتنوالي بوی راځي، محبوبه هم دپښتون په دود ستايي او د تصور او تخيل په دنيا کښې هم دپښتنوالي ترحدو د نه وزي!

داد احمد شاه بابا دکلام عمومي مزا ياوه، او س به نو لږ لږ دده (دکلام پر مهمو برخو څه څېړنه هم وکوچه ښا غلو ويو نکو ته ښه ښکاره سي.

ترټو لو دمخه دده لهدغه يوه بيتهئې دشعر حقيقت ښه څرګندېږي، چهدده شاعري تشه وينا نه وه؛ بلکه دزړه لهمنځه څخهئې زغ راوت:

بی لهعشقه شعر وايې
له ويلو شرم نه که!

## احمد شاه بابا او د وطن مينه

په پښتنو کښې ډېر لوی لوی شاهنشاهان تېر سوي دي، پښتنو لو دنيانو او خلجيانو، په خو را عظمت پرته له هندوستان او پښتونخوا حکومت کاوه، شير شاه سوري

چه د هند مشهور او عادل شهنشاه دی ، حکومت ئې د گنگا له څنډو د پښتنو تر غرو پوری خپور وو، مگر اکثرو شاهنشاهانو دوطن غرونه پرېښی ، او په خپلو نیولو مملکتو کښې ورك اومیشته وه ، دافغانستان په شاهنشاهانو کښې احمدشاه بابا په حب الوطن او سیاست کښې ډېر د شهنشاه محمود زابلی سره مشابهت لری ، ولی چه د واړو ، سره د نیولو ډېرو ارتو مملکتو بیاهم مرکز په خپل وطن کښې ټینگ کړی، اودغه مځکه ئې د خپلو ټولو مملکتو ، عمرانی او ادبی او علمی او اقتصادی مرکز گرزولې وه .

احمدشاه بابا له خپلې مځکې او خپلو غرو سره ټینگه مینه درلوده ، ده د پښتنو په اصلی مملکت کښې له ملتانه تر هراته په کوچنیوالی ژوندون کړی، اوخپل دخالیو څو ځای ئې هیڅ کله نه دی هېر کړی !

احمد شاه بابا خپل وطن پخپلو طبیعی حدو دو کښې ښه پېژاند ، او په دغه نکته ښه پوه وو، چه پښتانه نه ښائی

ددغه غرو مرکزیت له لاسه وباسی، او لکه نور شاهنشاهان
پخپلو مفتوحه مملکتو کښې ورک سی.

د احمد شاه بابا دغه وطنی مینه او «ملی نظریه» وه، چه ده دافغانستان یو مستقل دولت دپښتونخوا په غرو کښې بیا تشکیل کئی، او داڅو پیړۍ ترده وروسته پر هغه تشکیل پاته دی !

د احمد شاه بابا ژوند، ملی ژوندون وو، په عیش او او تنعم پابند نه وو، ځکه نو ده دپښتونخواه سپیره غرونه، دمفتوحه مملکتو ترعیش خوښ کړی او هغه وخت چه دډهلی پر تخت کښېنستی هم ئې خپل وطن په یادوو، او ددغی خاوری په مینه کښې ئې خوازه اشعار ویلی دی !

د احمد شاه بابا وطنی اشعار، دومره سوزان او له جوشه ډک، او دمینی او محبت له احساساتو څخه سرشار دی، چه هر پښتون ئې په ویلو متأثر او متهیج کیږی.

احمد شاه بابا، د شاهنشاهی دشوکت او عظمته سره

دډهلی ښار فتح کړ، او دپښتنو پلار، په خوراعظمت او برم اوجلال هغه ښارته داخل سو، چه پخواهم د پښتنو په لاس کښې وو، فتح او نصرت، د هندوستان شاهنشاهی نیول، خوداسی چاری دی؛ چه ضرور به احمدشاه بابا په خوښ شوی وی، مګر سره ددغه هم لکه چه د ده زړه د وطن پر غرو ګرزېدی، و ګوری په دغه بیت کښې د غه حالت څنګه تصویر کوی :

دزړه ګل به مې له خاورو کا سرپورته
که نسیم له کوهستانه رسېده

دپښتونخوا دغرو نسیم او نری وزم دیوه پښتون کله هېرېږی؟ نو احمدشاه باباچه هم یورشتینی پښتون وو، تل په پردېسی کښې د وطن په یادژړېده، یوځای دغه دوطن دمینی دزړه لمبې په دې ډول ښئی :

دزړه فریاد می له جدایی — اورمی ورك نشی داشنایی
چه پروطن وی زړه څه قراروی — یم بی طاقته په پردېسی

احمد شاه بابا دوطن په حب کښې یوه خوږه او بلیغه بدله ویلې ده، دا بدله دده دوطن خواهۍ احساسات ښه تصویر کوی، او دده دوطن غوښتلو فلسفه څنې ښکاره گندیږی!

دپښتنو دادب په تاریخ کښې دوطن دمینې اشعار ډیر، او خوړا غوره دی، یوه لویه برخه د پښتو ادبیاتو دوطن په ستاینه پوری مخصوصه ده (۱) مگر داحمدشاه بابا دغه یوه بدله دیوه لوی دیوان قیمت لری، او ټوله وطنخواهانه جذبات، اودوطن دساتنې حماسی احساسات ئې پکښې یوځای کړی دی، دغه بدله موږ دلته رانقلوو:

احمدشاه بابا وینې چه ددې پاکی خاوری مینه دپښتنو په زړه کښې څومره ټینگه ده، ولی چه د پښتنو ښکلی او ګلالی ځلمی تل داحمدشاه بابا په مشرتوب دده ترجنډې لاندی ددې وطن دساتنې، او دبرم او جلال دلوړ ولو دپاره ولاړ وه، احمد شاه بابا دپښتنو ځلمو دغه وطن خواهانه خیال داسې بیانوی:

---

(۱) دپښتو پر وطنیاتو باندی ما یو مفصل مضمون سره له ښو ښو نمونو دکابل دمجلې د (۷) جلد په شمار وکښې لیکلی دی، شائقین دی هغه و لولی.

ستاد عشق لهوینوډك سوه ځگرونه

ستا پهلاره کښې بایلي ځلمي سرونه

احمدشاه بابا گوري، چهدد ه‌زړه‌څنګه‌په‌خپلوخاورو اوخپل‌وطن پوري تړلی‌دی، نوهروخت دوطن په بېلتون کښې ځلېلاند، او پههستو گهکښې ئې خوښې‌اوښاد دی

تاته را شمه زړگی ځما فارغ شی

بې له تامی‌اند ښښي دز ړه ما رونه

احمد شاه بابا، که څه هم د پښتو نخوا شا و خوا ټوله مملکتونه ونیول، او دپښتنو زاړه مفتوحه مما لك ئې بیرته لاس‌ته راوسته، مگر هروخت‌چه پخپلو مملکتو کښې دیوه بریالی‌شاهنشاه پهډول گرزېدی، هیڅکله ئې دخپل وطن ښکلي باغونه ندی هېرشوی:

که هرڅومی ددنیا ملکونه ډېرشی

ځمانه هېرنشی داستا ښکلي باغونه

هغه وخت چه احمدشاه بابا دډهلي دشاهنشاهۍ پر تخت کښېنوست، دهغه ښکلي اوزيبا ښار په شاهي ماڼیو

او باغونو کښې هم دده څخه دخپل وطن دغرو ښایسته او زړه وړو نـکی څوکی هېري نشوې ، او داسی ئې د وطن په مینه کښې زغ وکی :

دډهلی تخت هېر ومه چه رایاد کړم
ځماد ښکلی پښتونخوا دغرو ، سرونه

تر دغه وروسته نوز موږ ښاغلی ننګیالی بریالی پلار ، د پښتنوالی او پښتو دپرتم او برم په افتخار کښېبوزی ، د خپل توریالی ملت په توره او پښتنواله فخر کوی او ویاړی ، نو وایی که پښتانه اوزه د مېړانی توره وکاږو ، او د پښتنو دزاړه او تاریخی عظمت په یاد ، بیا شاو خوا و گورو ، نو به د شیر شاه سوری ، اوسلطان حمید لودین رونې دورې بیرته نوی شی . په دغه ډول د احمد شاه بابا په همت او ننګیالی توب او پښتنواله دغـه خبره دده رښتیا شوه ، او د وطن تېر عظمت ئې په خورا مینه بیرته وګاټه .

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړی
چه په تورو پښتنا نه ګا ګزا رونه

د «فرید» او د «حمید» دور به بیاشی
چه زه و کا ندم پر هر لوری تاختونه

ددې بدلی په پای کښې وطن ته داسی خطاب، او د مینی د مینی داستان ختموی :

که تمامه دنیا یوخوا ته بل خوایې !
زما خوخوښ دی ستا خالی تشه ګرونه
«احمد شاه» به د غه ستا قدرهېر نکا
که ونیسی د تمام جهان ملکونه

داوه زموږ د بابا، د وطن د مینی، او پښتنوالی د حب احساسات، چه لنډ مو ولیکله.

## د احمد شاه بابا دوطنیت فلسفه

د وطن مینه په انسانانو کښې طبیعی ده، د هرچا خپل کورا و کلی خوښ وی، پښتنو په یوه متل کښې د انسان

دغه اجتماعی جذبه، ښه تصویر کړې ده چه وایی «هرچاته خپل وطن کشمیر دی» د وطنیت عنعنات او جذبات په انسانانو کښې خورا زاړه دی، د تمدن په تاریخ کښې د وطن تعریف داسی کیږی: تېرو خلقو وطن هغه مځکه بلله چه پلار او نیکه ئې پکښې اوسېده، اوهدیره ئې هغه وه، د کورنۍ روا یاتو یوه ټوټه مځکه دوی ته مقدسه کړې وه چه «وطن» ئې بلله (۱) په زاړه یونان کښې «وطن» یوه مقدسه کلمه وه، چه په دینی شعائرو ئې گڼه بلله، د یونان مشهور فیلسوف افلاطون، وطن خپل روزونکو باله او خپل ژوند ئې په وطن پورې مربوط گڼه، سقراط د ډیرې وطن خواهۍ څخه ځان دوطن د قوانینو په احترام کښې قربانی کی (۲)

په اجتماعی پوهانو او هغو عالمانو کښې چه د انسانانو

(۱) د فوستل ډوکولانژ فرانسوی (۱۸۸۹ـ ۱۸۳۰ع) د تمدن تاریخ
(۲) اصول تمدن

پر ژوندون څېړنې کوي د یرو د وطنیت پر فلسفه باندې بحثونه لیکلي دي ، چه ځنو دولت او حکومت د وطنیت اساس ګڼلی او د دولت مرکز ، د وطن مرکز بولي (۱) مګر دغه د وطنیت سیاسي نظریه ده ، نوي اجتماعي علماء ، چه د وطنیت فلسفه د اجتماعي خوا پلټي ، وايي چه :

«وطن د پلرونو او نیکونو د ژوندون ښکاره کونکی ، او د اجتماعي اساسانو ټینګونکی او اصل دی (۲)

یوبل اجتماعي عالم وايي :

« انسان لمړی د خپلې مور سره مینه لري ، دغه مینه وروسته د پلار او نورو خپلوانو سره نښلي ، له خپلوانو څخه قبیلې او ښت ته ځي ، او لکه یوه دائره په افقي ډول خپرېږي ، په وینو او روحي عواطفو ګډېږي ، ځو چه و «حب وطن» ته ور سېږي ، نو د مور او پلار مینه د وطنیت د مینې اساس دی ؛ تر دې اندازې چه د وطن کلمه په ځنو

(۱) وګورئ د ابن خلدون مقدمه ص ۹۶ طبع د مصر

(۲) د ډو کتور ګوستا ولوبون کلمات ص ۵۰ مصر طبع

اروپائی ژبو کښې د «پلار» له کلمې څخه جوړه شوې ده (۱) مثلاً د لاتینی پاتریا Patria، یا د جرمنی Vaterland واترلینډ یا د انګلیسی Father land (۲) «په دې ډول نو په اوسنی علم الاجتماع کښې «وطن هغه خاوره بولی چه نسبتاً طبیعی حدود لری؛ او خلق پکښې هستېږی چه دوی خپل دودونه؛ مذهب، ژبه؛ حکومت، او یو شانته اجتماعی ژوندون لری (۳)» داخو لنډه هغه نظریات او آراء وه، چه دوطنیت پر فلسفه په اجتماعی علومو کښې څرګند شوی دی، اوس به نو را سو چه ادباء او شاعرانو پر وطنیت باندې څنګه افکار ښکاره کړی او څو ډولی شوی دی؟ څنی مفکرین او ادباء دوطنیت فلسفه پر اجتماعی ژوندون بناء کوی یعنی دوطن سره مینه لری، له دغه پلوه چه هلته دده خوازه خپلوان او وزړه ته تیر مینان سته، نو که په وطن کښې د غه

(۱) په پښتو وطن (مېنه) بولی، چه ریښه ئې هم (مینه) یعنی عشق او محبت دی (۲) علم الاجتماع د نقو لا حداد ص ۲۵۷ — ۳۳۸

اجتماعی رابطه‌و شلیږی ، یعنی دچا خپلوان او یاران هلته نه‌وی ، هغه‌وطن دمینی او مسرت ځای نه ، بلکه دناورین او ویر سبب گرزی ، دعربویو شاعر دغه فلسفه په‌یوه بیت کښ داسی ښیی :

ومن مذهبی حب الدیار لاهلها و للناس فی ما یعشقون مذاهب

« یعنی هر څوك په‌مینه کښ بیلی لاری لری ، زه‌خو وطن دوطن دخلقو دپاره خوښوم »

دعربویو بل مشهور شاعر لبید بن ربیعه هم هغه وخت‌چه دزړو یارانو پر کلی اووطن راځی ، نو د مینی او مسرت پر ځای ئې له لیدلو څخه وحشت او دهشت مومی ، ولی‌چه دده خپلوان او مینان هلته نسته ، نو دی‌هم شرافت دمکان له مکینه بولی او وائی :

عفت الدیار محلها فمقامها

بمنی تأبد غولها فرجامها

یعنی « دیارانو دتگ په‌سبب په «منی» کښ او س «غول» او «رجام» چه‌ددوی دهستو گی ځایونه‌وه ، وحشت

زیاتوی (١) » په دغه ډول دعربو دغه ادباء ، دو طنیت دمینې اساس پراجتماعی مینه بڼدی ، سعدی د پاړسو مشهور ادیب هم په وطن کښې دحسرت ژوندون نه خوښوی ، لکه چه وائی :

سعدیاحب وطن گرچه حدیثی است صحیح
نتوان مرد بحسرت که من آنجا زادم

په پښتنو شاعرانو کښې هم ځنې ادباء دو طنیت دغه فلسفه منی ، یعنی خپل وطن دخپلوانو او یارانو دپاره پر گران دی مثلاً :

وطن د یار په سترگو ښه دی :
چه جانان نه وی ، څه وطن څه بې وطنه !

عبدالرحیم هوتك وائی :

شرافت د مکان تو له په مکین دی
بې مکینه څه په کار دی ، تش دیار ؟

دپښتنو فیلسوف شاعر دپښتو پلار خوشحال خان خټك

هم داجتماعی مفکر ینواو پوهانو په ډول وطن ته گوری ،
او پراجتماعی فکر خپله فلسفه دا سی ښینگوی :

څه بلا د خدای ده دوطن جلا کېدل
ورو نه عزیزان خو ښنبان وبله بېلېدل

په دې ډول زموږ دمشرق ادیبانو او مفکرینو دوطن
دمینی فلسفه له اجتماعی یا سیاسی پلوه ښو ولې ده ، البته
دغه علل تو له هم د وطن دمینی په احساس ، اود خپلی
خاوری په محبت او عشق کښې برخه لری ، مگر داحمد شاه بابا
فلسفه له دغو افکارو څخه بېله ده ، ده که څه هم خپل
وطن ، د پلار اونیکه هدیره ، او خپله خاوره په تقاضا
د ملیت دا شترا ك او خپلو ی گرانه گڼله ، مگر د ده
د وطنیت فلسفه تر کلیه د « حب الدیار لا هلها »
ډېره لوړه ده ، یعنی یوازی پر اجتماعی ژوند ون
او اشترا ك دمنا فعو نه بنا کېږی ، بلکه داویلای سم ، چه
احمد شاه بابا خپل وطن په هغه علمی تعریف چه دمخه
مود وطن دپاره وکړ ، تو له پخپلو طبیعی حدود و خونښ

درلود ، امادامینه اوعشق بالذات ددغوخاور وسره و ، یعنی پرعللو اواسبابو مبنی‌نه وو ، بلکه یو رشتنی مجرد اولوړ عشق وو ، چه ده دخپل وطن سره درلود ، ځکه نودی ځانله یوه بیله‌اومجرده دوطنیت فلسفه لری ، اوهم دغه‌سبب وو ، چه احمدشاه بابا دشاهنشاهۍ ترګټلو اودشاو خوا دېرو مځکوترنیولو وروسته (لکه نورپښتانه شاهنشاهان) وطن اوخپل مرکز هېرنه‌کی ، اوافغانستان ئې پخپلو طبیعی حدود کښې وساته .

په شاو خواودانو ملکو اومځکو کښې که څه هم احمدشاه بابا ، دشاهنشاهۍ لاس درلود ، مگر بیاهم دی دهغو ځایونو عیشو او دډهلی دمانیو عشرتو دخپل غره‌اوخپلی خاوری له یاده نه ویوست ، اوخپل مرکز ئې ترپایه نه پرېښو ، څوپه دغه خاوره کښې مړ او دلې ښخ شو .

داخو داحمدشاه بابا دوطنیت یوه مجرده‌او خورا

يوازي ئې د يـا رانو اوخپلوانو دپاره و طن نه يادېږي ،
او دوطنيت فلسفه ئې يوا زې داجتماعی او سيـاسی پلوه
نه وه ، بلـکه خپله مينه له دې جهته پر گـرا نه وه ، چه
دده مينه وه وبس .

احمدشاه بابا دغه دوطنيت خپله تينگه اولوړه فلسفه
چه زما په خيال دوطن دمينې هغه خور الوړه پايه ده ،
په يوه بيت کښې داسې ښکـاره کوی :

کـه تمـا مه دنيا يو خوا ، ته بل خوا يې !

زمـا خوخوښ دی ستا خالی تش ډ گر ونه

وگوری احمد شاه بابا وطن ته خطاب کوی ، چه که
ټوله دينا ( يعنی ټوله هغه اجتماعی اوسياسی اونورعوامل
چه دوطنيت فلسفه په علم الاجتماع کښې پروړاندې ده ) سره
يوځای شی اوپريوه خواوی ، اوفقط دوطن تش اوخالی
ډگرونه پربله خواوی ، دی به وطن پرغوره کړی ،
او ددنيـا شاهی اوخوښۍ اوعيش وعشرت او دخپلوانو

خپلوی ، او دیارانو آشنائی به تووله دده په لار کښې پرېږدی :

« احمدشاه » به دغه ستا قدر هېر نکا

که ونیسی د تمام جهان ملکونه

د احمدشاه بابادغه دحب وطن ، او دمېنې دمینې لوړه دعوه تشه دخولې خبره نه ده ، بلکه دغه عملاً هم ښکاره او ثابته شوې ده :

ځکه چه ده دهندوستان دخوسوو کالو دشاهنشاهی مرکز ډهلی ونیولی ، ترخیوا او بخارا پورې ئې فتوحات وکړه ، خراسان ئې لاس ته راوست ، دغه ځایونه دپښتو نخوا تروچو غرواودښتو خورا ښه وه ، هلته ده ته شاهانه سامان موجودوو ، مگر ده وطن هېر نه کی ، اودخپلو خاورو سپېره ډگرونه ئې دډهلی پر تخت اومانېو خوښ وه !

نولکه دده دوطنیت فلسفه چه پخه او محققانه وه ، هغسې ئې عملاً هم دحب وطن مراتب ډېر لوړ وه .

# احمد شاه بابا او وحدت ملي

احمدشاه بابا دملت په درد، خبر يوسړی وو، ده ليدلی وه چه هر وخت دافغانستان ملت تر يوه جنډه لاندی دملي وحدت په سيوری کښې ټول شوی دی؛ هغه وخت نو دغه ملت دلوړ تيا او نهضت پر آسمان لکه لمر داسی ځليدلی، او هری خواته بريالی شوی دی! احمدشاه بابا يو جهانديده او ښاغلی پوه مشر وو، ده ته دپښتنو د تاريخ لوړی ژوری ټوله ښکاره وې! نو ځکه دغه ننګيالی او بريالی پلار دملت د وحدت په لار کښې ډېر زيار و کښل، ده د افغانستان هستيدونکی بې له امتيازه خپل زامن ګڼل، او ملت هم دی «بابا» باله؛ داحمدشاه بابا په لوړو کار نامو کښې دافغانستان دخلقو «ملي وحدت» دی، چه ده واړه اولس په يوه نامه سره ټول کې، او دهغو تفرقو او جګړو څخه چه دغلجي او دراني؛ يا پښتون او تاجيک په منځ کښې وې، وئې ژغو رلی.

کې موږ دافغانستان په تاریخ کښې پلټنه وکړو، دا به راښکاره شي، چه د احمدشاه بابا دغه «دملي وحدت» فکر خورا پوخ فکر وو، او دده تولې بری او فتوحات هم ددغه ملي وحدت په برکت موندلې شوې.

دافغانستان ملت، چه هر وخت دملي وحدت لاس سره ورکړی دی، نوئې ددغه په برکت ډېر سعادتونه نصیب شوي دي، دغزنوی شاهنشاهانو په وخت کښې چه د زابلي محمود په مجاهدت دافغانستان ملت دوحدت او یووالي نعمت موندی، نو هغه وو، چه د گنگا له غاړې بیا د دجله او فرات ترغاړو پورې خلقو دغزني تربیرغ لاندې ژوندون کاوه، او ددې وطن برم هرې خواته موجود وو، تردې اندازې چه دغزني د شاهنشاه محمود زوی سلطان مسعود چه دخپل پلار له خواه دهرات دخواوو نائب الحکومه وو، غوښته ئې چه ټوله ایشیا دغزني تر بیا چهې لاندې کې، او ولاړ سي بغداد هم ونیسي، چه ټوله د اسلام دنیا، د ښتنو تر بیرغ لاندې په سواني ژوندون وکي، مگر افسوس چه ددغه لوړ

عزم سره دده پلار په غزني کښ وفات او د پښتنو د ملي وحدت رسی بيا و شليده (۱) تردغه وروسته هم د پښتنو دغوري، سوري، لودين، هوتکو شاهنشاهانو فتوحات ټوله دملي وحدت په برکت شوي دي.

احمدشا بابا چه دپښتنو پاچاشو، دده لمړی کار دغه وو، چه دافغانستان ټوله ملت او هستيدونکي ئې سره راټول کړه. اودوی ئې ټوله بې له کومه امتيازه او بيله کومه فرقه زامن و بلل، هغه وو، چه دې ملت بيرته د «ورور گلوي» لاس سره ورکی، او دخپل مهربان او خوا خوږي پلار په هدايت ئې بيرته خپل بايللي مجد او برم لاس ته راووست. د احمدشاه بابا دملي وحدت وصايا او هدايات چه ډېر قيمتي دي، دده په کلام کښ په ښه ډول ذکر شوي دي، په دې پېړۍ کښ چه زموږ د تجدد او نوي نهضت پېړۍ

(۱) وگوری تاريخ بيهقی ص ۷ طبع دکلکتې، درائل ايشياټک سوسائټی له خوا.

ده، موږ ته ښائي چه ددغه لوی پلار نصائح بیا عملی کړو، او په ښی غوزئې وا روو.

احمد شاه بابا و خپلو زامنو او گران اولس ته د ملی وحدت درس، دملی عشق له سر چینې څخه ورکوی، هغه وخت چه د عشق او مینې اور په زړه کښې بل سی، دغه «دملیت مینه» ټول افراد دسړی په نظر کښې بې له امتیازه یوشی کوی، او ټولو ملی ورونو ته په یوه سترگه گوری:

قافله دعشق راغلې له کم خوا ده

پر زړگی باندی میشته، کاخه غوغا ده

د ملیت د عشق جو په چه د زړه پر کور کښته سی، په هغه زړه کښې ټوله د ملیت ارکان ځای نیسی، او دملت ټوله لوی او واړه بېله امتیازه پکښې منل کیږی، او په یوه ډول مینه او محبت ورسره کیږی، ځکه نو احمد شاه بابا هم د طوائفو تقسیم، او د قامو بېلوالی په یوه ملت کښې فقط د ( انا جعلنا کم شعوباً وقبائل

لتعارفوا ) په ستر گه وینی ، او دده په صائب نظر کښ
هغه ځوك محترم او ښه بلل کیږی ، چه و جامعې ته
مفیدوی ، ځکه نو وائی :

تو له یودی که غلجی د ی که اودلی

ښه هغه چه ئې د زړه ښیښه صفا ده

د احمد شاه بابا توجه معنویاتو ته ده نه مادیاتو ته !

یعنی د انسان د پاره د شرف او لوړتیا مقیاس نه « قومی امتیاز » گڼی ، او نه ظاهری کالی او لباس ، بلکه دده په نظر کښ میړه هغه دی ، چه په اجتماعی ژوندون کښ ئې وجود ملت ته گټه رسونکی وی ، او د ښو اخلاقو او مفیدو عملو نو خاوند وی :

چه عمل ئې د نیکۍ وی میړه هغه

که اغوستې ئې گد له د خمتا د ه

تر دغه وروسته چه مهربان پلار ، خپلو زا منو ته د ملی وحدت او د انسان د حقیقی امتیاز او لوړ توب

اصول وښوول ، اوس نو ټوله ملت ته دويښتوب او اتحاد زغ کوی ، او دوی د ملی وحدت خوا ته را بولی ، چه ټوله په ګډه د ملی لوړتیا د میندلود پاره زیاروکاږی ، او د ورور ګلوۍ لاسونه سره ورکی :

پښتانه دی ټوله لاس سره یو کاندی

چه مو نن غزا هر لوری شاوخوا ده

دغه و د احمد شاه بابا د ملی وحدت زغ ، چه موږ اوس په دغه پیړۍ کښې د پښتنوغوږو ته ورساوه ، ځکه چه اوس تر پخوالا ډېر موږ وملی وحدت ته اړ او محتاج یو .

پښتانه ښایی چه د خپل تاریخ دغه مشعشع عصر ونه تل په یادو لری ، او د «ملی وحدت» په ښکاره اولویو ګټو پوه سی !

او په دغه وپوهیږی که سلطان محمودو ، که غوری ، که لودین و که سوری ، که هوتك و که درانی ټولو ، د «ملی وحدت» په سیوری کښې لوړتیا موندلې وه وبس !

## د لوړ توب او برې لار

احمد شاه بابا په ژوندون کښې د ډېر د زيار او مښود ډېر خوا دى، دى ډېر جدا و جهد، د ژوندون اساس ايښى دى، او په دنيا کښې د ټولو لوړتياوو او نهضتو عامل دغه زيار او جهد گڼي!

احمد شاه بابا پخپله هم يو زيار کښونکى او جاهد سړى وو، او ځان ئې د زيار په سيوري کښې د شاهنشاهۍ حد ته ورساوه، او د دنيا په لويو ميړو کښې وگڼل سو.

احمد شاه بابا پخپل کلام کښې، د جدا و جهد او زيار او مښود، تلقين په خوراښه ډول کوي، او دغه حقيقت پښتنو ته په ښکاره ډول ښيئي چه په دنيا کښې بې له زياره بله د برې لار نسته، او نه څوك بېله مښوده لوړ بدلاى سي.

احمد شاه بابا د ژوندون فلسفه ټوله پر دغه ټينگه تيږه بنا کوي، او خپله ټوله لوړتيا او د شاهنشاهۍ عظمت د خپل زيار له برکته بولي، او د جدا و جهد ثمره ئې گڼي لکه چه وايي:

بې زحمته راحت چېرې موندە نشي

د «احمد» ځکه په هر لوري غزاده

دنيا د احمدشاه بابا په نظر، یو بازار دی، چه دلوړ تیا

هر راز متاعونه پکښې پېرودل کېږي، مگر قیمت ئې فقط

دانسان سعی او زیار او سربازي ده:

«احمدشاهه» دلته جوړه سربازي ده

دلوړ تیا خرید کوه له دې بازاره

بل ځای په څه ښکاره الفاظو دغه فلسفه رونوي:

بې زحمته راحت ندی چا موندلی

دمچی په دو دله ځانه خوره رطب

احمدشاه بابا تو له عمر په وطني جهاد او دپښتنو الی دلوړ تیا

په لار کښې تېر کی، ده یو گړی بې کاره په تنبلۍ او عیاشۍ کښې

نه کې ضائع، ځکه نو دغه خپل حال داسې تصویر کوي:

«احمدشاهه» څه دی کار په لاس دی مټ کړه

حيف هغه چه په تېر کار موزې لاسونه

په دې ډول د برې لار، او د ظفر سر د احمد شاه بابا په نظر کښې فقط «زيار او مښود» دی و بس.

## د احمد شاه بابا حماسيات

شعر او شاعري د ملتو د افکارو ترجماني کوي، د غه يوه هنداره ده چه د هغه ملت روح انعکاس پکښې کوي.

شاعر چه په هره ډله او هر اولس کښې ژوندون کوي، د هغه اولس اجتماعي ژوندون، او اجتماعي جذبات او افکار پر ده اثر کوي، نو هغه وخت چه دی شعر وايي، هغه ملي افکار او اولسي روح دده په وينا کښې ښکاره کېږي، او د ملتو بارز او ټينګ جذبات او روحيات تل د دوی د شاعرانو په ويناو کښې ښکاره وي.

شاعر که څه هم په خپله وينا کښې يو موضوع نه ځايوي، او د ملتو پر پسيکولوژي (روحياتو) نه ږغيږي؛ بيا هم دده هره وينا، له زړه څخه راوزي، او د ده زړه مرکز او منبع د هغو احساساتو

اوجذباتو دی ، چه شاوخوا و ته ئې موجود دی ؛ یادده په اولس کښې گرزی .

په هغو ملتو کښې چه د کار او عملیت روح غالب وی ، د شعراو له ویناوو څخه دغه ښېگړه ښکاره کېږی ، هغه اولسونه چه میل ئې وانز وا او خضوع او قلنفې ته وی له شعره ئې هم دغه افکار راتوئیږی ! هغه اقوام چه ددوی عمرونه په جگړو او توریالی توب کښې تېرېږی ، ددوی اشعار تل له توری ، او جنگ او ننگه بحث کوی !

لنډې داچه په شاعری کښې د اولس بارز او ټینگ صفات جلوه کوی ، او شعر د ملتو د روح څخه نمایندگی کولای سی !

دعربو په ادبیاتو کښې د هغو وختو اشعار ، چه دوی په میړانه او توریالی توب پر دنیا قبضه کړې وه ، د پېر د مېړانی او توریالی توب په ښو احساساتو ډک دی ، او ددوی د حماست نمایندگی کوی ، په پارسی شعر کښې هم لکه د جنگ او ننگ او رزم اشعار چه فردوسی ویلی دی ، د مغولو تر فترت وروسته هغه ویښې حماسی افکار ، بیا لږ مونده کېږی

ځکه چه په دغه عصر کښې هغه د رزم او حماست افکار او هغه لوړ حربي احساسات ورك شوي دي ! ولي چه شاعر خو د محيط او اجتماع له فکر او احساس څخه متأثر کېږي نو چه په چاپېر او شا وخوا کښې کوم شی نه وي ، د شاعريه فکر کښې هم لنږ ورګرزي !

پښتون ملت خوذ اتاً او فطرتاً يو توريالی او لس دی دغه د توری مينه او ننګيالي توب ئې په خټه اخښلی دی ، د پښتنو ملي اشعار او ادبيات له رزمي او حماسي افکارو ډك دي ، د دوي په اشعارو کښې تل د مېړو مېړانی ، او د ننګياليو غيرت ، او د تور ياليو توری ستايلې کېږي ، او داځنې ښکاره کېږي ، چه دا پښتني ملت له توري سره مينه لري ؟ او په سر بازي او ، ننګه کښې څنګه د مېړو په څېر درېږي معشوقه تل د مين په ننګه او مړانه ناز کوي ، او وائي :

جانان مې سر پر وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه

بالعکس دبې ننګی ځخه داسی بدو ړی ، چه پرتېره
مینه هم پښیمانه کېږی :

لهسپینی توری نهدی تر پلو د
پر بیګنی درکړې خوله پښیمانهیمه

داهغه ملی احساسات دی ، چه دپښتنو « په ملی ادب »
کښې اخښلی ، او ددوی دملی جذباتو نمایندګی کوی !

دپښتوژبی دشعر او ادب یوه لوا وخوزه برخه هم دپښتنو
شاعرانو حماسیات ، او دننګیالی توب احساساتو خوا ده ،
د پښتو پلار خوشحال خان خټک په دې خوا کښې ښه
اشعار لری ، چه دلته ئې دغه یو بیت کافی دی :

دتورو په میدان کښې چه سوداوی دسرونو
هغهزمان می ګوره ، تل بهسو روی دما آس

احمد شاه بابا خو هم یو پښتون شاعر دی ، دی خو
دمېړانی دډګر بریالی قوماندان ، او غښتلی لښکرمشر دی ،
علاوه پرملی او فطری مېړانه اوننګه ، له کو چنیوالی تر

مرګه د جګړو په میدانو نو کښې په پښتنوا له دړېدلی ، او ډېری لوړی ژوری ئې لیدلی دی ، نو ځکه ده دپښتنوالی ډېر لوړ ا و ټینګ دحماست او غیرت احساسات پخپلو ویناوو کښې ځای کړی ، خپل ملی جذبات ئې ټوله څرګند کړی دی !

دده له کلامه دغه ښکاره ده ، چه دا کلام دیوه پښتون وینا ده ، او دداسی پښتون وینا ده ، چه پخپلو ملی ښېګړو او حماسی جذباتوئې زړه ډک ، او دتوریالی توب او ننګیالی توب مقدس ملی احساسات پهسر کښې لری ! مثلاً :

که څه سمهوی که غر — را ته یو دی بحر و بر
شاهانه په شان و فر — پههمت به ئې تسخیر کړم

پښتانه خو تل دا عادت لری ، چه څوك پهقوت او زور کښې ورسره سم نه وی ، نو دهغه سره جنګ څه ، بلکه نازهم ورکوی ، او دا خبره دپښتنوالی له لوړ جنابه سره مناسبه نه بولی ، چه یو ضعیف دښمن محو کړی ، یا پریوه بې وزلی غلیم باندی دمټ زور ښکاره کی ،

احمدشاه بابا دپښتنوالی دغه عالیجنابی او لوړهمت داسی بیانوی .

«احمدشاه» که دهمت توره دروا خلي

بیا به و کړي په رقیب باندی ماتم

مگر سره ددغه چه‌دی پرخان اوپر خپله مېړانه اعتماد لری ، او رقیب تباه کولای‌سی ، بیاهم په‌دي ژبه‌ده ته‌وایی ، چه‌زما شخه لاس‌واخله ، که‌نه‌وی دتوری دروز لرم :

له «احمده» شخه لاس واخله

دی د تـو ری دی د ر و ز

دتوری دروز ، داحمد شاه بابا دپښتنوالی دحماست ابتکارزدی !

احمدشا بابا ژوندون دتوری تر سیوری لاندی خوښ لری ، او هغه فلسفه چه « قوت ژوندون دی » په‌ښه ډول‌منی ، نوځان ته‌وایی ، چه‌ددغی فلسفي سره سم پرجهان بری‌ومومه :

په برېښنا د توری ژوندکوه «احمده»

دبری جولان پرلور دهردیار که

یادا: که تو برې ووری « احمده »

ته جولان کوه د خنګ

په پښتنوالو کښې پت او ننګه هغه شیان دي، چه تل ئې پښتون په سر ساتي، احمد شاه بابا د پښتنوالي پرد غه ښېګړه داسې ټینګ ولاړ دی:

پر ننګ مې خوځه مېنه دی — دبې ننګه ژوند جفا ده
لاس به واړ نخلم له ننګه — که په ننګ پاتې دنیا ده
چه سر پرې کړی «احمدشاه» — دهغو مینه رشتیا ده

احمدشاه بابا د پښتنوالي په مېړانه، او د پښتنو په همت او شجاعت له هندوستانه تر ایرانه تو له مملکتونه ونیول، او د مردانګۍ دادئې ورکړ، د دغو فتوحاتو په وخت کښې خپل حماسي او رزمي افکار داسې ښکاره کوي:

چه بر کړی مې خدای لاس په رقیبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چه د هند د ملکو فتحه مې روزي شوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

پردا کړی داد دی خدای نسی پښیمانه

ترنګین می ایران لاندی شاهانه ځم

چه ځمادولایت فتحه روزی شوه

ترو بهخه دیار له تازه کناره ځم

پهدې ډول احمدشاه باباپخپلو لوړواوار تو فتوحاتو کښې

خپل حماسی افکار ښکاره کوی، اودپښتنو د زړه د تنګیالی

توب جذبات پخپله وینا کښې ښه تصویر کوی.

کهمی برق دسپینی توری بیابر ښننا کړه

ستا په مهر په هر لوری عالمګیر یم

* * *

دا نظر پر تا د یاردی «احمد شا هه»

چه په فتحو دایران دهندوستان ځې

* * *

دخدای شکر مدام وایه «احمدشا هه»

چه پردرست جهان دی دورنغارې دی

# اخلاقيات

اخلاقي شاعري، ده مشرق دادب، خاص بياد منځني آسيا داد بيا تو يو مهم ټوک دی، په عربي او پارسي ژبو کښي له زړې زماني څخه يعني تقريباً يو زرکا له دمخه اخلاقي روح جوړ بد، لي دی!

محمد ابن محمود بدا ئعی چه دبلخ وود سلطان محمود زابلي په عصر ئې په پارسي ادب کښي ده اخلاقي شاعري سته کښيښنووه؛ اويوه اخلاقي (پند نامه) ئې منظومه کړه (١) تر ده وروسته نو لوړ لوړ اخلاقي شاعران چه په نوې ژبه ئې (مورا ليست) بللای سو؛ منځ ته راغله، حکيم سنائي، نظامي، سعدي، ناصرخسرو، مولوی، ابن يمين او نور له اخلاقي مشهورو شاعرانو څخه دي چه په مشرق کښي ددوی اخلاقي تبليغونه او اقوال ډېر شهرت لری، او دمشرقي ملتو داخلاقو پيکر، ددوی دافکارو څخه مرکب دی!

(١) شعر العجم ج ٥

که څه هم په مشرق کښې دمغو لو تر نـا ورین ور وسته ، دخـلقو اخلاق «دعملیت» او «افادیت» له خواڅخه دانزوا؛ او نفی وخواته مایل شوی دی، او دا کثرو اخلاقیو نو تبلیغات او اشارات هم له دغو څخه مـرکب دی او دپارسی اخلاقی شاعری په زړه کښې دغو منفی افکارو ځای نیو لی دی ،مگر بیا هم کله کله په دغه دنیا کښې داسی ژوندی او فعال ادباء منځ ته راغلی دی، چه له اخلاقو څخه ئې دنفی او ترک د نیا خوا لنږ کړی او د عملیت او فعالیت د فلسفې ساه ئې پکښې پو کلې ده؛ زه دا نه وایم، چه په اخلاقو کښې روحانیت او ترک د نیا ، اوانزوا ، او نور منفی تلقینونه ، تو له بنه نه وه ، بلکه دا وایم ، لکه یوازی دمادیت او عملیت فلسفه چه انسان سعادت ته نسی رسولای، دغسی هم دنفی او انزوا خوا یوازی دانسان ددارینو دسعادت دپاره کافی نه ده ! ولی چه پخپله اسلام هم داعتدال خواخوبنه کړې ده، چه نه مجرد مادیت او نه مجرده دماوراء الماده فلسفه ، بلکه یوه منځنی لار ده!

ددغی خبری درو نهولو دپاره موږته دعصر نبوت او صدر اول اسوهٔ حسنه سته ، چه هغو هم د دنیا د سمولو دپاره جهاد کاوه ، هم ئې دعقبی ښېګړی لاس ته راوړې . دقرآن عظیم هدایت ( اعدلوا فهو اقرب للتقوی ) هم دغه منځنۍ لار ښئی !

په پښتو شاعری کښې خوهم اخلاقی خوا ، دپارسی شعر تر اثر ډېره لاندی ده ، خاص بیا په هغه وخت کښې چه دپښتو شعر دارتقاء لمړی ګام وو ، دهندوستان د مغولو جګړو او ظلمو دپښتنو ادیبانو وملی ویښی روح ته درنه ډکه ورکړه ، مګر بیاهم زموږ نامو رادباء په اخلاقی تبلیغاتو کښې کورټ د نفی اوانزوا او ګښېنته توب خوا نه نیسی ، یعنی دپښتنو غښتلی اوعملی اخلاقی روح . کورټ ذلت او پستی نه منی ' د پښتو پلار خوشحال خان ختك ددغه لوړاو عالی تبلیغ اوستاد دی ، او هیڅکله د اخلاقی فلسفې منځنۍ لار نه پرېږدی ، دی په عین هغه وخت کښې چه دعجز ، تواضع تبلیغ کوی ، داخلاقو عملی خوا هم راښئی ، مثلاً وایی:

که په توره ئې ځواب ور کړې مړ دی ده
که وجود دې څوك آزار کاندی په چوب

بلځای دانسان داخلا قودغه دوه پلوه داسې ښکاره

کوی :

چه خبر ه د پستی د بلندی ړ سی
په لویی لکه اسما ن په پستی خا ك

حمید بابا مهمند ، دپښتوالی دغه لوړ اوفانی نه کېد ونکی

روح ، څنگه په یوه بیت ژوندی کوی :

یو به نسم مـغلو ا له د رقیب ستـا
په ر شتیـا که ز یېز و لی پښتني و م

احمدشاه بابا هم په اخلاقی شعر کښې دغه ژوندی روح

لری، دی له یوې خوا پښتنو ته د توری او شجاعت او عملی

ژوندون تبلیغ کوی، له بلې خوا هغه اخلاق چه دا یشیاد شعر

ډېره برخه په اړه ده ، ښیئی ، د دغو دوو ، خواوو ترمنځ

البته سمه لار چه اعتدال دی لاس ته راځی ، داحمدشا بابا

د توری ستاینې او د ننگیالی توب تبلیغات اوژوندی افکار مو

د حماسیاتو په برخه کښې وویل، اوس به دده نور اخلاقي افکار هم لږ لږ ښکاره کړو:

## ځان پېژندنه

دځان پېژندنه د خدای پېژندنه ده (من عرف نفسه فقد عرف ربه) پر انسان هر راز او مختلف احوالونه راځي، پورته کښته، لوړه ژوره، وینې د سعدي په قول:

گهی بر طارم اعلی نشینم — گهی بر پشت پای خود نبینم

اما پوه، او پوخ انسان هغه دی، چه په هر حال کښې ځان نسي ځني ورك، احمدشاه بابا په هر حال کښې خپل مقام نه هېروی، د شاهنشاهۍ برم او جلال هم له ده څخه ځان نه ورکوی، پخپله وایي:

یاره زه خو هغه ستا د درگدای یم
څه شوني که «احمد شاه درانی» یم

دتکبر بدوالی او ضرر په دې الفاظو ښئي:

تکبر دی له شیطانه مه ئې نغوزه
چه په کبر به سروچ کړې لکه لوخه

بلځای وایی :

دولتمندی سربلندی

بډائي هرګز پخپله لویی نکړم

همېش ستاد قدمونو دامنګیر یم

کمینی او عجز دانسان کمال دی:

کمینی شکستګی د تاکمال دی

خودبینی په بډایي ګنه تباه:

بلځای وایی:

ز ه کـه نن باد شاه یم مغرور کـله پخپـل جاه یم

دغه ستا نظر پرما دی که نه خاوری، ستادراه یم

وفااو پالنه :

په اخلاقی ژوندون کښ وفادومره اهمیت لری ، چه هیڅ یو داوه‌کرئي له بنیګړو خه‌دپه‌خوله نه‌دی پاته‌سوی اخلاقیو نوبیڼ ابواب پروفالیکـلی دی ، داسلام لوی اخلاقی عالم شیخ محی الدین عربی‌وایی ، چه‌وفادانسان برم او جلال لوه‌وی ، مخصوصاً بیا مشران او پاچهان ودغه خلق ته ډېرالمدی ( )

(۱) فلسفة الاخلاق ص ۲۰

کتابخانه

خوشحال خان زموږ پښتون فیلسوف د انسانیت میثاق دغه ګڼي لکه دمیړه په ستاینه کښې وایي:

مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد
نه دروغ، نه ئې فریب نه تش تپاك

احمد شاه بابا هم په ژوندون کښې وفا، دمیړو سره لازمه ګڼي، او دا اخلاقي نظریه داسي ښیګوي:

مرګی ښه دی په دنیا کښې — نه چه څوك شي بې وفا
سر په تیغ پریکړی ښه دی — تر بې ننګه په دنیا

خپلوي له چا سره؟

احمدشاه بابا دوفا پر اوږه اخلاقي نظریه، د خپلوۍ اویارۍ اساس ایږدي، په دغه نظریه کښې زموږ پلار، دمشرقي ادباو سره ملګري دي، یو دعربو ادیب محمد بن نصر حارثي وایي:

فاذا صاحبت فاصحب صاحباً — ذ احیاء وعفاف وکرم
قوله فی الشئ لا ان قلت لا — وان قلت نعم قال نعم

یعني « دحیا لرونکي پاك لمنی ښندونکي دوست سره کښېنه

که تەوایيِ یه دی همدغەوایی ، کەوایيِ هو دی همِوایی هو »

احمدشاه بابا هم په ژوندون کښې داشرافو د خپلوۍ طرفدار دی ، نه د ارذالو ، ځکه چه لەارذالوڅخه وفا نه مو ندله کیږی :

« احمدشاه » لەارذالواحتراز کړه
دو فا ثمر به مو مي لەاشراف

بلځای وایی :

که هر څو ښه له اغیاره سره وشی
بیاد زړه سزابه ستا دغه کج بین که
لەاغیاره سره ښه دخپل زړه خارشی
چاچەو کړه پخپل ځان باندنفرین که

د عیش او نعمت په وخت کښې هر څوك د یارۍ او خپلوۍ دعوه کوی ، مګر میړه هغه دی ، چه خپلوی په زحمت او خواری کښې هم وپالی او دتنګسې ملګری وی ، یوعرب ادیب وایی :

یعنې : « په‌سوانې اوخوښې کښې هرڅوك دخپلوی دعوی کوی ، مگر خپل هغه‌دی ، چه‌خپلوی‌دویر او شدت پروخت هم وپالی »

احمدشاه‌بابا پر دغه‌موضوع خوا ږه اشعار لری ، او دغه دخپلوی معیار په‌دی ډول راښیئی :

په‌خوله یار په زړه انکار وی  داسې په جهان خوار شو
ده تنگسه ، د مړ و تلـه  په تله دشی مقدار شو
« شاه‌احمده » په تنگسه کښې  گوره کوم یار وفادار شو

یوه عرب ادیب زوی ته‌نصیحت کاوه ، په‌دی ډول :

« والاخوان اثنان فمحافظ علیك عند البلاء و صدیق لك فی الرخاء فاحفظ صدیق البلیة و تجنب صدیق العافیة فانه اعدی الاعداء :

اری الناس اخوان الرخاء وانما
اخوك الذی آخاك عند الشداید » (١)

یعنې : « خپلوان یا دویر دی یا د ښادی ، دویر

(١) دامام ابی سلیمان بستی العزله ص ٥٤

خپلوان خپل و گڼه ، او دښمن دې خپل پرېږده ، ځکه چه
دغه ستا غلیم دی »

احمدشاه بابا دغه داجتماعی ژوندون لازمه او اساسی مسئله
په ښکاره ډول دغسې بیانوي :

چه دیار به درد رضا کا له اخلاصه
په دنیا کښې دغه هسې کار د مرد وی
یو د بل په درد او غم چېرې خبرېږي
مگر هغه چه په درد ئې بیا همدرد وی
یار هغه دی چه په غم د یار شریک وی
چه په غم ئې غمجن نه ، هغه نامرد وی
یار چه ښه وایي له یاره هغه یار دی
که له یاروي چه له یاره ئې نبرد وی
«احمدشاهه» بې پتی تنگ کړه یارانو
چه په پت د یاری سر ښندی اوس فرد وی

په دې ډول زموږ پلار ، د خپلې زمانې داخلاقي معیار
له کښته والي شکایت کوي ، او د مېړانې لار په خپلو ی

کښ موږ ته په ښه ډول راښيئي. چه له اخلاقي نقطهٔ نظره

ډېره پخه او سمه لاره ده

## رشتيا —:

رشتيا د اخلاقو يو مهم ټوک دی، په پښتو کښ هم رشتيا،

لوړ ني مقام لري، د پښتنو شاعرانو د پښتنوالي دغه ټوک

ښه ستائي، خوشحال خان وايي :

چه دروغ تر خوله وباسي کله خوله ده

چه رشتيا تر خوله وباسي خوله هغه

احمد شاه بابا هم د اخلاقو او پښتنوالي دغه لوی ټوک

په داسي ډول ستايي :

په رشتيني بازار کښ قلبي کوټه ځي

سخ د هغو چه پدا بازار مخ سپين ک

رشتيا او سموالي د ټولو چارو د سموالي او ښېګڼوالي لاره ده:

«احمد شاه» چه څوک سم شو هغه چار موند تمام

## د بې وزلو لاس نیول

رحم او شفقت ، مهربانی او عطوفت د انسان د فطرت ښه او لوړ مظاهر دي، انسان د بل انسان په خوږ خوږیږي، او په نورو ویرجن کیږي ، سعدی انسانان د یوه بدن اعضاء ګڼي ، نو ځکه وایي :

چو عضوی بدرد آورد روزگار   دیگر عضوها را نماند قرار

لکه سعدی چه پخپل شاعرانه منطق دغه زړه سوی او رحم د انسانیت توك بللی دی ، حقیقتاً هم دغه خلق په ژوندون کښې ډیر اهمیت لري، تقریباً د اجتماعی تعاون او تساند روح دی ! مسعود سعد سلمان غزنوی (۵۱۵ وفات) څنګه ښه ویلی دي :

روزیکه راحتی نرسد از من مر خلق   راز عمر نه پندارم

گر هیچ آدمی را بدخواهم   از مردی و مروت بیزارم

اخلاقیونو او شاعرانو د دغې ښېګړې تبلیغ او تلقین په ډول ډول کړی دی ، مګر په پښتنواله کښې دغه خوی

دومره اهمیت لری، چه بې له ښښدنې اومرحمته، پښتون نسې پښتون کېدای، احمد شاه بابا هم د بې وزلو کومك ډېر ښه بولی، بلکه دلوړتوب یو لوی جزئې هم گڼی، لکه چه وایی:

چه خدای لوی کړې «احمد شاهه»
ته د خوارو دستگیری کړه

## نصحیت اوپېرل

دښېگړی دپاره دنصیحت اوپېدنه لازمی ده، ځکه نوپه دنیا کښې دتبلیغ درجه ډېره لوړه ده، ولې چه سموالی بې له وعظ اوپېدو ممکن ندی، احمد شاه بابا دغه داجتماعی اصلاح مهم اساس، اودپوهانو خوی داسی ښیئی:

هر دانا دبل نادان خبره پند کا
پر نادان به د دانا خبروی ستوخه

## تصوف

دتصوف پراصل اوحقیقت چه علماؤ بحثونه کړی دی

هغه اوږده دی ، موږ د مخه دخوشحال خان د کلیات
په مقدمه کښې ، ددوی دابحاثو خلاصه لیکلی ده (۱) دلته
ئې لیکنه تکرار ده .

داحمد شاه بابا په کلام کښې دتصوف رنګ غالب دی ،
اودده دشعر لو برخه هم تصوف ګڼل کیږی !

په مشرقی شاعری کښې ، مخصوصاً بیادمغولو تراړودوړ
وروسته دتصوف روح غالب شوی دی ، او ځنی شعراء
که څه هم مسلکاً اوعملاً دتصوف خاوندان نه وه ، هم
دتصوف په اصطلاحاتو کښې نښتی ، اوله دغی دینا څخه
ګڼه شوی دی ، مګر ځنی ځنی پاخه متصوفین هم پکښې وه!
داحمدشاه بابا دژوندون سوانح چه موږ ګورو ، دده
په عمل او کارونو کښې خود تصوف دانزوا ، او ترک دنیا ،
منفی خوانه وینو ، نوله دغه جهته موږ دی تر دغه چه
یومتصوف سړی ئې وبولو ، بنه او حقیقت دغه دی چه متشرع

(۱) وګوری دخوشحال خان دکلیات مقدمه ص ۵۱ ـ ۵۲ ـ ۵۳
دقندهار طبع .

أي وګڼو ، ځکه چه دده د شریعت پرو ری قصې او حکایات تراوسه په ملت کښې پاته دی ! مګر هیڅوك نسی ویلای ، چه دی نو لکه متصوفین ، یومنزوی ، او په ګوټ کښې ناست او خلوت پسند سړی وو ، بلکه دده عمر ترخلوت په جلوت کښې ډیر تیر سوی ، او د تنازع للحیات پر میدان یو فاتح او بریالی عسکری قاید وو !

دلته زه ناچار یم ، چه د احمدشاه بابا د تصوف د تحقیق په خوا کښې خبره لبږخه سره وشنم ، که د علماء او محققینو ویلمنو ته رجوع وکړو ، نو به دا ښکاره شي ، چه د اسلام په خیر القرون او لمړی صدر کښې ، تصوف په دغه اوسنی نوم او مفهوم نه وه ، لمړی سړی چه د صوفی په نوم بلل شوی دی ، ابو هاشم صوفی دی ، چه په (۱۵۰ ه) کال وفات شوی دی (۱)

ځنی علماء وایي ته تللی دی ، چه د نبوت په عصر کښې دغه مسلك د « احسان » په نوم یاد شوی دی ، لکه په

(۱) کشف الظنون ج ۱ ص ۲۹۰ ـ د جامی نفحات الانس ص ۲۲

صحیح بخاری باب الایمان کښې چه دایمان سره احسان راغلی دی، دحدیث په اصطلاح احسان دغه تصوف دی (۱)

په حقیقت کښې تصوف دوه ډوله لری، چه یو «منفی تصوف» دی یعنی دنیا پرېښوول، او دعلائقو شلول، بل «مثبت تصوف» چه له سلوك او زیار او دنفس له تربیته، او مینی او پوهنی او عبادت او دخلقو خدمت او جهاد څخه جوړ شوی دی.

په لمړی ډول کښې دهند دفلسفې اثر ډېر دی، اما پر دوهم ډول دشریعت او اسلام مقدس رنګ غالب دی، چه هغه لمړی ډول ته علماؤ «فلسفی تصوف» او دوهم ډول ته «اسلامی او شرعی تصوف» ویلی دی.

ځکه چه په تصوف ډېر دفلسفې مسایل ګډ شوی دی، نو له دغه جهته داهم ویل شوی دی، چه دغه کلمه له یونانی کلمې (سوف) څخه معربه شوې ده، یعنی حکمت، سوفیه یعنی حکماء (۲) مګر محققین وایی چه دغه دفلسفې غلبه پر لمړی

---

(۱) دحضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی حجة الله البالغه

(۲) دعلامه ابوریحان بیرونی متوفی ۴۴۰ ه کتاب الهند لیډن طبع

ډول تصوف وه، علامه حاجی خلیفه په دغه باب کښ لیکلی دی:

«واعلم ان الاشراقیین من الحکماء الالهیین کالصوفین فی المشرب والاصطلاح، خصوصاً المتأخرین منهم ... (١)»

په دې ډول نوی مشرقین او یوهان هم لکه فان کریمر، ډوزی، دهند فلسفه، او نکلسن د نوی فلاطونیت فلسفه، په تصوف کښ بولی (٢)

نو که د حضرت شاه ولی الله صاحب محدث (رح) پر قول سم موږ داو منو چه په عهد نبوی (ص) کښ تصوف د احسان په نوم موجود وه، ځکه چه په هغه عهد کښ هیڅ د فلسفې او د هندی او یونانی افکارو اثر نه وو، او نه اصحاب کرام «رض» او خلفاء عظام په خلوت کښ کښېنستـه، بلکه د دوی اوی کار د اسلام تبلیغ او جهاد وو، او له رهبانیته منع شوی وه، (٣)

له دغی مقدمې څخه دغه نتیجه را وزی، چه د اسلام

(١) کشف الظنون ج ١ ص ٢٩٠

(٢) د علامه اقبال فلسفه عجم ص ٩٥ د حیدر آباد طبع

(٣) لا رهبانیة فی الاسلام (الحدیث)

لمړنی تصوف داحسان په نوم فقط دخالق عبادت، او دمخلوق خدمت، او هدایت او جهادوو، مګر وروسته ځنی منفی خیالات دهند له خوا، او ځنی افکار دیونان له فلسفې څخه په را ګډ شوه، چه د تصوفو رنګ ئې وراليش کی، دغه تصوف نو «فلسفی تصوف» بلل کیږی، ددغی خبری تصدیق موږ دحضرت خواجه عطار (رح) له وینا وو څخه کوو چه لیکی «تا بعد از ان طریقت (تصوف) به فلسفه کشید، چنانکه معلوم هست» (١)

اوس به نو له دغو تفصیلاتو څخه تاسی ته ښکاره شوې وی، چه د تصوف منفی خواچه دهند او یونان دفلسفې افکار په ګډ دی، له اصلی اسلامی تصوف څخه بیله ده، ځکه چه اسلامی تصوف، عین دشریعت پابندی او داخلاق نبوی ص او دسنتو تعقیب دی، چه هلته رهبانیت نه سته، او زیار او جهاد فی سبیل الله، او د اسلام تبلیغ او دخلقو هدایت ئې اساس دی! نو په دغه معنی موږ دمتصوف او متشرع فرق نسو کولای،

(١) تذکرة الاولیاء دخواجه عطار ص ٢٠٧ دوهم ټوک.

اودغه دوه صفته سره لازم او ملزوم دی !

په دې نژدې دروپیړیو کښې (دری سوه کاله) حضرت شیخ احمد فاروق کابلی (۱) مجدد الف ثانی (رح) د تصوف لوی مصلح او مجدد دی، ځکه چه د حضرت شیخ عطار (رح) په قول د پېر نوی فلسفی او هندی افکار په تصوفو ګډ شوی وه، حضرت مجدد (رح) او دده ملګرو او شاګردانو دغه پردی افکار چه نوی نوی راغلی وه وایستل، او هغه د صدر اول پراساس ئې بنا کړه، ځکه نو دی مجدد بلل کېږی، او دده له مکتوباتو او نورو کتابونو څخه دغه تحقیق ښه ښکاره دی. داحمد شاه بابا تصوف هم د حضرت مجدد له کتابونه اقتباس شوی، او دی یو متشرع سړی وو، چه له علماو سره ئې تل مجلسونه او ګډون در اود، او پخپله ئې هم له علومو څخه برخه درلوده !

احمد شاه بابا و حضرت شاه فقیر الله صاحب جلال آبادی ثم الشکارپوری ته پوره ارادت درلود،

(۱) تولد ۹۷۱ ه وفات ۱۰۳۴ ه مدفن سرهند .

میانصاحب د خپل وخت یو مشهور متشرع عالم ، او د دین مشروو ، چه په شکاپور کښې میشته وو ، د احمد شاه بابا ، او شاه صاحب رابطه او مکاتبات او مفاوضات تل جاری وه ، له مکتوباتو څخه ئې دغه ټینګه رابطه ښکاره کیږی چه په لاهور کښې چاپ شوی دی !

میان فقیرالله صاحب پخپل وخت کښې لوی مرشد او مرجع د مسلمانانوو ، په هندوستان او افغانستان کښې ئې د فضل او علم او تقوا زغ تللی وو ، هرځای ئې ارادتمندان درلوده ، احمد شاه بابا هم ددغه عالم په فیض اخیستونکو مخلصینو کښې وو ، لکه چه میانصاحب د احمد شاه بابا تر وفات وروسته په یوه مکتوب کښې وسلیمان شاه دده جانشین ته داسی لیکی :

« نظر برابطه انسانیه ، علی الخصوص حسب رابطه قویه که فیما بین جناب شاه غفران پناه واین درویش صورت یاب گردیده بود ، . . . . » (۱)

(۱) د میان فقیر الله صاحب مکتوبات ص ۲۶۹ طبع د لاهور

په دې ډول د احمدشاه بابا عالمانه روابط د دغه مشهور او جيد عالم سره ټينګ وه، دغه زموږ د وطن نامتو مرشد او عالم په (٤) و سيلې په طريقت کښې وحضرت مجدد (رح) ته رسيږي، چه د ده تصوف هم له دغه منبعه ماخوذ دی، نوځکه د تحقيق او تجديد جنبه لري، او احمدشاه بابا هم دده يو محقق او متشرع ارادتمند ګڼل کيږي، چه اسلامي مثبت تصوف ئې له دغه لويه عالمه کسب کړی، او د اسلامي شريعت يو زيار کښونکی او مجاهد پيرو و!

مثلاً شاه صاحب په يوه عربي مکتوب کښې، چه احمدشاه بابا ته ئې را استولی دی، د جهاد تشويق کوی، او د اسلام د حقيقي اوامرو وښوونه او فتوا ورکوی(١)

اوس به نو تاسی ته ښکاره شوې وی، چه زموږ د احمدشاه بابا عرفاني افکار پر کوم محور ګرزي؟ او له کومه ځايه ئې استفاده کړې ده؟ او د تحقيق په کومه درجه کښې وو؟

(١) د ميان فقيرالله صاحب مکتوبات ص ٢٧١ د لاهور طبع.

اوس چه موږ د احمد شاه بابا پر عارفانه افکار ولږ څه رڼا واچوله، او ددغه حقیقت موږ څه نه څه څرګند کی، ددې دپاره چه زموږ ښاغلی ویونکی د بیان له اوږدوالی څخه زهیر نسی، نو به اند اند دده ځنی عرفانی افکار لاندی ولیکو، هغه څوك چه شایق وی، پخپله به دغسی ډیر خوازه بحثونه د ده په کلام کښې وموهی، ځکه نو موږ له تفصیل څخه صرف نظر کوو:

## دامانت درونه بار

داهغه درونه وری دی، چه . په «اناعرضنا الامانة علی السموات والارض والجبال فابین ان یحملنها واشفقن منها وحملها الانسان» (۱) کښې ئې قرآن عظیم ذکر کړی دی، دانسانیت عام مسئولیت او دخلافت الهی دمقام اهمیت خورا درونه او ډیر دی، حافظ وایی:

اسمان بار امانت نتوانست کشید قرعهٔ فال بنام من دیوانه زدند

(۱) سوره احزاب ۲۲-۹

احمد شاه بابا د انسان دغه دروند د مسئولیت بار،

په داسی ډول ښیی:

څه ضعیف تن ئي «احمده» حیران ستاو درانه بار ته

بل ځای ددغه درانه وری په اخیستو لوپوری سخت حیران دی:

څه دروند باردامانت دی زه به څه پري «احمدشاه» کړم

(داپه زړه کښې ولری، چه داسلامي څنو مفسرینو د امانت

تفسیر په سلطنت هم کړی دی، نو که په دوهم بیت کښې

احمد شاه بابا، ددغه لوی اجتماعی مسئولیت ذکر کړی

وی، لیری نه دی)

## دانسان اصل

انسان فقط لهمادي او دمادي له مظاهرو څخه مرکب نه دی،

یو روحانی مقام هم لری، چه احمد شاه بابا ئي داسی

ستایی:

دا ځما د صورت خټه په څلورو عنصرو پټه

که څلور عنصره واخلې پخپل ځیر ده دا کټ مټه

کله کله متصوفین؛ دغه روحانی مقام، وطن بولی،
اوپه یاد ئې ژاړی، احمد شاه بابا ددغه معنوی مقام
یاد داسی کوی:

اروا طوطی دی وطن به مومی
بیا که دی مات د نفس قفس ك

نه پوهیږم زړه څما د کوم وطن وو
دیار مینی بیګانه له خپله کور کړم

چه د روح په روڼا ورك سوم
څکه ما لید لی یا رو

احمد اوس که یك تنها شوې
ستا وطن دیار کنا رو

## احسن تقویم

داهغه مسئله ده چه په (ان الله خلق آدم علی صورته) کښې
څرګنده شوې ده، احمد شاه بابا وایي:

پخپل خم دی «احمد» رنګ کړ څکه شو هسی مشهوره

یا: څه عجب دی د خپل حسن په خم رنگ کړ

په عالم دی ښکاره کړی داخمیان ستا

## کاته او نظر

صو فیه دنیا اوماده دقدرت مظاهر گڼی ، نوهرکله له مظهر ه دمظهر قدرت وینی، داتدقیق اونظر دعرفان اساس دی ،

چشمی داری وعالم در نظراست    دیگر چه معلم وکتابت باید

خوشحال خان خټك ویلی دی :

که دی سترگی دعرفان شته مبارك شه

دگلزار په ننداره چه استقلال کړي

احمد شاه بابا هم دغه تدقیق او نظر لری لکه چه وایی .

زه چه تل نظر داهسی لور پر لور کړم

په هر لوری دخپل زړه صیقل بیانور کړم

## مثبت تصوف

لکه دمخه چه مووويل ، احمدشاه بابا دتصوف مثبته خوا درلوده ، يعنی دده تصوف « فلسفی تصوف » نه وه ، چه ددنيا ترك او رهبانيت يکښې اخښلی دی ، بلکه دده تصوف شرعی او اسلامی وه ، چه دجهاد روح ، او دتقوا اوخدمت خلق خوائي غالبه وه ، لکه چه پخپله دفنا اوبقاپه خواوکښې داعتدال لازنيسی ، او بقادفنا کمال بولی:

دفنا کمال بقاده     داد سر کاسه پري مکره

## ايمان اويقين

په ماوراء الطبيعه ابحاثو کښې عقليون او فلاسفه تل پرعقل تکيه کوی ، مگرعقل هم حقائق کماهی نسی پيژندلای ، فلاسفه که څه هم په دغه لارکښې ډير زيار کاږی ، مگر دغه زيار ترځايه نرسيږی ، او په پای کښې وايی : « معلوممشد که هيچ معلوم نشد » ( فخررازی ) سقراط ديونان مشهور فيلسوف په دغه فخرکاوه ، « چه پخپله

ناپوهی پوهېدلی وو »سپنسر دانګلستان نامتوعالم به ویل « چه په هیڅ نه پوهېږو » احمدشاه بابا یوه ورځ چه دپسرلی ګلونه غوړېدلی ، اوجهان ئې ښکلی کړی وو په دقیق نظر د غه ننداره کتله مګرعقل ئې هیڅ په فلسفه ددغه ښکلی جهان پوه نشو ، له ځانه سره ئې وویل :

«احمد» شپه وورځ ثنا کړه عقل څه رسی په کار ؟

د پسرلی په پای کښې ګلان رژ ېږی ، پر ګلستان دفلاکت اوادبار خاوری اوری ، احمدشاه بادغه دحیرت مقام داسی ښیئی :

په قدرت دی ګل کړ جوړ بیا په لږ عمر کښې زوړ
چه چمن په ښا یسته و اوس ئې بادوړی لګه پروړ

تردغه وروسته په حیرت کښې ډوبېږی نو وایی :

« احمد شاه » فکرونه پر ېږ د ه
بخـر ه مو مه لــه حیر تــه

په دې ډول احمدشاه بابا یوازی عقل دعرفان او پېژند ګلوی

په لار کښې کافی نه بولی ، ځکه چه دعقل دسیرپای حیرت دی ، نودی پخپل کلام کښې هر کله دا یمان اویقین تلقین کوی ، اودغه لارتر مجرد عقلیت غوره کوی ، لکه چه وایی :

په یقین به خپل یار مومې　　نفس نومید کړې لکه شنده
معرفت څراغ بل کړی　　یقین و باسه له ځنده
«احمدشاهه» که یار غواړې　　لیری کړه د گمان پلنده

بل ځای وایی :

د یقین په لاره دور مې　　په گمان و لی در بېږې
د گمان صورت که وا خلې　　ته دریاب په موج بهېږې
شك فانی، یقین باقی کړه　　په باقی به هوسېږې
دغه خپل یار به و وینې　　دیقین پر اوږ که خېژې

یا : «داحمد» دیار ترمنځ دگمان غرونه
که یار غواړې دیقین پر لاری پښې زده

په دغه خوا کښې دا وسنی زمانې مشهور فیلسوف علامه

اقبال هم زموږ د احمدشاه بابا په شان ملګري دي لکه چه وايي:

حیات جاودان اندر یقین است
ره تخمین وظن گیری، بمیری

بل ځای وايي:

خرد بیگانهٔ ذوق یقین است
قمار علم وحکمت بد نشین است
دو صد بوحامد ورازی نیرزد
به نادانی که چشمش راه بین است

مقام شوق بی صدق ویقین نیست
یقین بی صحبت روح الامین نیست
گر از صدق ویقین داری نصیبی (۱)
قدم بیباك نه، کس در کمین نیست

## د جهان تطورات

احمد شاه بابا د دنیا نقشه په فلسفی نظر داسی کاږی:

(۱) د علامه اقبال «ارمغان حجاز» د لاهور طبع

کله سرناوی بیاد مامېوی

کله ژړاوی، څه غرغړوی !

داجهان طورطور ښکاریږی

څوك په سرتوروی، دچابګرېوی

## علم، او دعلم تشویق

دانسان دسعادت لار «علم» دی، هیڅ سړی اوملت پردنیا بې له علمه لارنسی پیدا کولای !

داحمد شاه بابا له سوانحواووینا ووڅخه ښکاریږی، چه ده په دینی علوموا وتصوف او فلسفه کښې معلومات درلوده، په عربی ژبه هم پوهېدی، په پارسی او پښتو کښې ئې شعر هم ویلای سوای !

په عربی ژبه چه په هغه عصر کښې دمشرق دعلم منبع وه تردېحده عالم وو، چه لیك او لوست ئې هم په کولای سو !

مرحوم شاه فقیر الله صاحب د ښکا پوروده ته عربی

مکتوبونه هم لیکلی دی (۱) علاوه پردغه احمدشاه بابا
په عربی ژبه ځنی کلمات لری، چه محمدغوث ابن ترکمان
ابن تاج خان په هندوستان کښې په پارسی ژبه شرح
پر لیکلې ده، چه «شرح الشرح» نومیږی ۳۰۰ مخه ده!
احمد شاه بابا خپل گران ملت ته پخپله وینا کښې د علم
ډیر تشویق او ترغیب فرمائی، نن ورځ ښایی چه پښتانه
د خپل پلار دغه نصایح په ښې غوږ وا روی. اوپه دغه
قرن کښې چه بې له علمه ژوندون ممکن نه دی، عملی ئې
کی، او د علم زدکړې ته خورا توجه وکی، دی وایی:

ځوږ بوې د علم دی همیشه بلی
د غفلت په تیاره ځو گرزې عجوزه
دا یقین، علم له ځانه سره مله کړه
د همت په وزرا لوزه الوزه
بل ځای د علم فوائد او گټې داسی ښئې:
له ځلو رو خوا به دړ د ر ته ځلیږی
که د علم رو ڼ څراغ ته در ته بل کړې

(۱) د میان فقیر الله صاحب جلال آبادی مکتوبات ص ۲۷۱
د لاهور طبع.

روح له‌علمه‌رونیا اخلی‌هله‌ز ده کړه

«احمدشاهه» چه بد خوی په‌بنه‌بدل کړي

بل ځای په‌داسی ډول وعلم ته ترغیب فرمائی:

علم گوره‌څه‌خرگنده‌لوی دریاب دی

بیا هم دی رابهیند لی په څوباب دی

دا دعلم دریاب هرچیری محیط دی

علم زده کړه چه‌دعلم لوړ جناب دی

په‌دغو بیتو کښی احمدشاه بابا دعلم شعب‌او اقسام

بنیی، او دعلم احاطه ښکاره کوی، وروسته نو وزده‌کړي

ته زموږ تشویق فرمائی!

### بدیعی صنایع

داحمدشاه‌بابا په کلام کښی شعری صنائع‌او بدیعی مزایا

هم سته، چه د ده پر ادبی مهارت باندی دلالت کوی،

پخله به‌محترم لوستونکی دغه بدیعی صنائع دده په کلام

کښی وموهی دلته موږ فقط یوه اشاره ورته کوو:

دطباق په صنعت کښې وايي :

زړه مې تورو زلفو بند کړ اوس ارمان دسپين رخسار کړم

زه بيده وم خبر نه وم د بلبل نارو بيدار کړم

تجنيس تام په دې بيت کښې دی :

ستا پر مخ گوره اور بل دی

ځکه اور بل په کوگل دی

(وقس على هذا)

د عشق او مينې دنيا

دمشرق په شاعرۍ کښې دعشق مضامين او وار دات اکثريت لري، تقريباً شعر دعشق دپاره مخصوص شوی دی، خاص بيا په پارسي شعر کښې عاشقانه مضامين دومره ډير دی، چه پای نه لري!

احمدشاه بابا چه هم دعشق او دمينې په دنيا کښې پل کښيښودی نو پا خه ويل لري، او هر قدم ئې استادانه دی!

احمد شاه بابا دعشق په دنيا کښې ترخپل توله شاهانه

سطوت او جلال تبریزی ، او لکه حضرت جامی چه وایی :

بندهٔ عشق شدی ترک نسب کن جامی

کاندرین راه فلان ابن فلان چیزی نیست

دی هم دعشق دنیا، دسر دبایللو ځای بولی؛ چه ګټنه ئې

په سربازی ایره لری، نه په شاهی او نسب :

دا دعشق بازار دسر دی ځما جانه

ګوره ندی دا باز ار بیا په نسب

یا دا :

که باد شاه د درست جهان یم غلام ستا ماه تابان یم

یا دا :

چه د مینی شاهی مومم باد شاهی به څه کومه ؟

دعشق په دینا کښ، مین هر څه دمحبوب په قدمو کښ

خونی کوی، او تر هر څه تبریزی، حافظ پخپل تش تخیل،

سمرقند او بخارا ور بخښی؛ حال دا چه دی دشیراز یو

خوار سړی وو ( به خال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را )

دا حمدشاه بابا چه عاشقانه جذبات پر غور ځنګ راسی،

هم تر خپل سر او شاهی تېر دی، ځکه چه دی حقیقتاً هم دغه اقتدار لری نو دده دغه اشعار محض شاعرانه تخیل نه بلکه وحقیقت نژدې دی:

دوا ړه جار شه تر دلبر هم می سر هم می کشور
که‌دیار په‌عشق سر کښېږدی «احمد» ها له کا اختر

بل ځای وایی:

که شاهی ده که می سر ټول به‌جار کړم تر دلبر
توری خاوری ستا د ور دی تو تیا ځما د بصر

دمین ځان دجانان دپاره خوښ وی، اودنیا ته دمینی په سترگه گوری، سعدی وایی: «عاشقم بر همه عالم که همه‌عالم‌ازوست» عبدالقادر خان خټک دغه مضمون داسی ادا کړی دی:

زه چه هسی پخپل ځان باندی مین یم
د جانان دی په جانان باندی مین یم

احمدشاه بابا دعشق پردغه مهم مقام داسی راځی:

زه «احمدبادشاه» په‌دا له خپله ځانه په‌ځان خوښ یم

چه مین تر خپله ځانه زه یم ستا د مخ پر گل

پرده خپل زړه له دغه جهته گران دی، چه زړه د مینی

کوردی، او تر ځان پر مین شیدا دی:

زه «احمد» پدا له خپله زړ گی خوښ یم

چه تر ځان مین پر تا باندی اول وو

احمدشاه بابا که څه هم بادشاه دی، د شوکت او سطوت

خاوند دی، مگر دعشق په دنیا کښی لکه چه وویل شوه،

ډیر عاجز دی، دی پخپل کلام کښی تل خپله عاجزی

ښکاره کوی، او محبوب ته دعجز له خوا حسن طلب کوی،

حسن طلب دشاعرۍ کمال دی، وگوری په دې لاندی

بیتو کښی، دی یو وار خپله دشاهۍ لوړتیا او اقتدار بیانوی،

بیا نو خپل عجز دعشق په دربار کښی څنگه تصویر کوی؟

وایی محبوبی! زه خو دیو څو ورځو ملېمه او آخر

تلونکی یم، نو ولی زما سره مینه او مرحمت نه کوې؟

که بادشاه د درست جهان یم غلام ستا ماه تابان یم

په صورت کی سلامت یم له څوږ دله خون افشان یم

یو څوورځې مې رضا کړه    جانه څو ورځې مېهمان یم
که هر څو په بهار د رومم    آخر پاتې د خزان یم
بې له جانانه دمین په سترگو کښې ټوله دنیا تیا ره

ده، گل داسې ورته ایښی لکه اغزی، او پسرلی لکه منی، مثلاً :

بی توام گل بدیده چون خار است
مژه در چشم من چو سوفار است

پسرلی سې، گلان وغوړېږي، هرې خواته دخندا ډکی دغوټیو خولې مسېږی، مگر دمین پسرلی خود جانان راتگ دی وبس.

بهار این چمن بی مقدمت مارا چه کار آید
تو گر آئی چمن آید، بهشت آید، بهار آید

احمد شاه بابا په دغه موقع کښې وای :

بی له یاره می بهار د سترگو اور دی
که هر څو دغمجن غم ورك مرغزار کا

د بېلتون په دنیا کښې مین هر کله غواړي ، چه خپل دوست ته احوال واستوي ، یا قاصد ورو لیږي !

مګر دعشق او مینې دنیا یوه داسې له نزا کتهډ که او له سوزه مرکبه دنیاده، چه دقاصد وظائف هیڅوك نسې پکښې ادا کولای، نومین بیچاره هر کله دقاصد په تلاش کښې وي، چه خپل دزړه درداوسوي، دمحبوب حضور ته وړاندې کړي، مګر څوك ددغه سوي او بېلتون په دنیا کښې دغه وظائف ایفا کولای سې ؟ یو ادیب وایي :

اشك را قاصد کویش کنم ای ناله بمان
زانکه صد بار برفتی اثری نیست ترا

بل عاشق دنیا ته له یخیلو او بنکو طو فاني وینې ، نو قاصد داسې پلټي :

بعد ازین نامهٔ خود بر پر ماهی بندم
که ره عشق تو پر آب شد از دیدهٔ من

د صائب له ډېره عشقه و قاصد ته احتیاج نه پیښیږي :

هر سطر کار شهپر جبریل میکند

این نامه را ببال کبوتر چه حاجت است

جهانگیر د هندوستان پاچا ، په دې ډول مکتوب معشوق ته استوی :

ما نامه ببرگ گل نوشتیم شاید که صبا باو رساند

اختری هروی ، پروانه دیار حضور ته قاصد کوی :

عاقبت مکتوب ما را سوی او پروانه برد

طاقت سوزدلم بال و پر دیگر نداشت

بل ادیب څه ښه وایی :

شب که دردل رقم نامهٔ دلبر میشد

دیده هر قطره که میریخت کبوتر میشد

په دې ډول شاعرانو په دغه زمینه کښې مضمون آفرینۍ کړې دی ، یو پښتون پوښتنه چه د پسرلی په شپه ، و سپینی سپوږمۍ ته د جگو غرو په لمنو کښې د بېلتون په درد او سوی کښې گرزی ، نو بل قاصد د محبوبا

وکړ دی ته نه مومي، ځوچه سپوږمۍ ته خطاب کوي :

ارمان ارمان سپینی سپوږ میه

سلام می ورو ږه د همزولو تر کږ دیه

احمد شاه بابا د عشق او مینی په د نیا کښی د شاهانه اقتداره سره هم یو دا سی صحیح قاصد نه مومي، چه د محبوبا حضور ته ئې ولیږ ی او نه پخپله ور رسېږ ی، نو خپل زړه له تېره با سی، په بیدلانه ډول ئې د خپله پیغامه سره ورلیږی او وا یې :

که می لا س و ینښې و تا ته نه رسېږ ی

د غه خپل زړه به مرغه کړم ستا پر لوری

# دا حمد شاهی مملکت علماء

(او دا علیحضرت علمی او ادبی معاصرین)

لکه دمخه چه مو دعلم په بحث کښې وویل احمد شاه بابا پخپله یو دعلم او عمل خاوند ښواواك وو، دی عالم وو، ادیب وو، متقی وو، متشرع وو، او دعلم روزونکی هم وو، دده په عصر په افغانستان او مفتوحه مملکتو کښې ئې ډیر علماء موجود وه، ادباء وه، چه دده دعلم او ادب پروری په سیوری کښې ئې په فراغ ژوندون کاوه، احمد شاه په علم دوستی کښې دغزنی شهنشاه محمود زابلی سره سیالی کوی، دا حمد شاه بابا ملی احساسات خورا قوی وه، خاص ئې پښتو ژبی ته ډیره توجه اوښه نظر درلود، پخپله ئې دې ملی ژبی ته ډیر ښه خدمت کړی او یو ښه دیوان ئې ددې ژبی دادب په دنیا کښې یادګار پری ښې دی، علاوه پر دغه احمد شاه بابا دعلماوو سره مینه درلوده، مجالس ئې له علماوو

ښخه تښ نه وه، دده ټینګه رابطه له شاه فقیرالله صاحب جلال آبادی سره موږ دمخه هم ذکر کړه، دغه دده دعلم پرورښت ښه سند دی.

احمد شاه بابا قندهارته له هری خواځنی علمی رجال اوجید علماء راوستل، لکه دفن او صنعت خاوندان چه ئې لههنده راجلب کړه، ځنی پښتانه علماء ئې هم سره راټول کړه، دقندهار ځنی علمی کورنۍ چه تراوسه ستهء، دده په علم دوستی تأسیس شوی دی، لهلاندی لیکوڼخه به تاسی ته دغه موضوع ښه رونه شی، اوزه به دده دعصر دافغانستان اومفتوحو مځکو ځنی علمی رجال اوادباء لاندی مختصراً ذکر کړم:

(١) ملا پیر محمد کاکړ:

ملا پیر محمد کاکړ دپښتو یو لوی او مقتدر ادیب دی، چه دقندهار په خوا کښې سازی نه لری، دی داحمد شاه بابا په عصر په قندهار کښې وو، اوداحمد شاه بابا دکورنی استاد وو، ملا پیر محمد په پښتو ژبه کښې مهارت درلود،

او داعلیحضرت په‌پښتو خواهش ئې دغی ژبی ته لمړی ځني قواعد ترتیب کړی دی !

پیر محمد داعلیحضرت احمدشاه بابا دزوی شاه سلیمان استاد وو ، چه احمدشاه بابا وفات شو ، اودده پرځای لمړی سلیمان پاچاشو ، نوملاپیر محمد دپښتوژبی یو کوچنی گرامراو قاعده په پښتو و لیکله ، اودغه دپښتو ژبی لمړی قاعده ئې دشاه سلیمان په‌نامه اهداء کړه ، ددې کتاب په سر کښې وایی:

پس له حمده له درود ه سوه دشاه مدحه مقصود ه
« شاه‌سلیمان » دحکم‌لمر دی کل عالم پرې منور دی
د شاه تخت سلیما نی دی عجب لطف یزدا نی دی

په‌دې‌ډول پیر محمد کاکړ دپښتوژبی لمړی گرامر لیکونکی دی ، ملا پیر محمد اخوند ز بر دست شاعر اوادیب دی ، یو کلیات داشعارو لری ، چه تر پنځه‌زره بیته‌پوری رسیږی ، غزل ، رباعی ، مخمس ، ترجیع ، مسدس ، معشر ، مربع اشعار لری ، ده دخپل کلام کلیات لس کاله داحمدشاه بابا تر وفات وروسته‌په ( ۱۱۹٦ ه کال ) لیکلی دی لکه‌چه‌وایی:

ز رسل شپېږ نوی کلونه　　دهجرت تېرشوی وونه

ماانشاء دعشق دېوان کړ　　په پښتو مې ښه بیان کړ

په دې طمعه چه یادګار شی　　بیا منشور په هر دیار شی

دپیر محمد له وینا و ښکاره ده، چه دی یوز بردست عالم وو، کلام ئې په پښتو کښې ډېر متین دی، په لمړی درجه شاعرانو کښې ګڼل کېږی، اخلاقی، عشقی، عرفانی، متصوفانه اشعار لری، دده دېوان قلمی لږ لږ سته، یوه نسخه په (۱۲۰۳ هـ) کال ابراهیم خان کاکړ دده شاګرد لیکلې ده!

پیر محمد تر (۱۱۹٦ هـ) پوری لا ژوندی وو، تردغه کال وروسته دسپین ږیر توب اوزو ږ تیا پر وخت (۱) په قندهار کښې وفات شوی، او دشاه دولې پرغاړه نژ ې وحضرتجی ته مدفون دی، دقندهار شمال شرقی خواته، دپیر محمد دېوان دمستشرقینو لاس ته هم ور غلی دی یادری هیوز په کلید افغانی کښې دده ځنی اشعار اقتباس کړی

(۱) ...

دی (۱) دپیر محمد دپښتو شعر استادی ، دپښتو ادباء ټوله منی : مثلاً میرزا حنان قندهاری دپښتو شاعر وایی :

داخوند ملا پیر محمد نظم که واروې
هر گفتار ئې دی په مثل د بلبل

شمس الدین کاکړ دپښتو بل مشهور ادیب وایی :

پیر محمد کاکړ په شعر کښې نامدارووو
یووړ قبر لره ده ارمان دشعر (۲)

(۲) ملا شیر محمد اخوند هوتك :

دقندهار له مشهور علماء څخه دی ، تولدئې په قندهار کښې په (۱۰۹۲ ه کال) شوی ، او علمی تحصیلات ئې په هرات اوایران کښې کړی دی ، په دینی علومو او منطق کښې ښه لاس لری ، دده یو تألیف منظوم (اسرارالعارفین) چه دری رکنه ئې په پښتو چاپ شوی اوڅلورم رکن ئې غیر مطبوع دی ، ملاصاحب داحمدشاه بابا په عصر په قندهار

(۱) وګوری کلید افغانی دلاهور طبع ۱۸۹۳ ع
(۲) وګوری دپښتو شعرتأ ریخچه په طلوع افغان کښې ۱۳ کال .

کښي وو، او علمی شهرت ئې د ر لو د عمر ئې (۸۳) کاله وو، په (۱۱۷۵ ه) په قندهار کښي. وفات، او دښار مغربی خواته د ملا شاهو په تکیه کښي ښخ دی، دده اشعار اخلاقي او عرفاني او موعظه ده (۱)

(۳) عبدالرحیم هوتك:

په قوم هوتك او د کلات د ښه بولان وو، د هوتکو په عصر دقندهار په زاړه ښار کښي هستېدی او دلې زو کړی وو، وروسته چه نادر افشار قندهار فتح کړ (۱۱۴۵ ه) نو دی د هوتکو په ډله کښي دلسو کالو په سن د ایران و نشابور او تهران ته فرار سو، وروسته نو بخارا او سمرقند او ترکستان ته ولاړ، عبدالرحیم دپښتو یو زبردست شاعر او ددېوان خاوند دی، چه تر شپېږ زره بیته پوری لری، ده (۵۰) کاله په تورکستان کښي دوطنه لیری تېر کړی، او تر (۷۰) کالو پوری لاهورې ژوندی وو (۲) عبدالرحیم زبردست

(۱) دقندهار علماء طلوع افغان سال ۱۱ شمارهٔ ۲
(۲) تر او یاو کالو راغلم که باور کړي - سر ه سوځم نشوم خلاص دعشق له اوره

عـالم وو ، په تفسیر، فقه ، صرف نحو ، فلسفه ، منطق کښې ئې ښه مهارت درلود ، عمرونه ئې د ایران او بخـا را په مدرسو کښې تېر کړی وه ، او د احمدشاه بابا معاصر وو.

عبدالرحیم پسله ( ۷۰ ) کـالو عمر له وطنه په غربت کښې وفات شوی دی ! ( ۱ )

( ٤ ) اعلیحضرت تیمور شاه :

اعلیحضرت تیمور شاه د احمدشاه بـابـا مشر زوی وو پاچهی ئې له ( ۱۱۸٦ ) څخه تر ( ۱۲۰۷ ه ) پوری کړې ده ، تیمور شاه لـکه خپل پلار یو ادیب او علمدوست پاچا وو ، په پارسی ژبه یو مهم د شعر دیوان لری ، په پښتو کښې د شعر طبع لری ( ۲ )

( ۵ ) ملا حسن اسحق زی :

---

( ۱ ) دعبدالرحیم پر سوانحو او شعر موږ مفصله تبصره د طلوع افغان د ۱۱ کـال په شماره کښې لیکـلې ده ، شائقین دی هغه وګوری.

( ۲ ) د کـابل په مجله ۷ ، ۸ ګڼه کښې د ۳ کـال ماددغه پاچا پر شاعری مفصله تبصره لیکـلې ده .

ملاحسن آخوند د تلو کان د کلی دی، چه ۲۲ میل دقندهار مغربی خواته واقع دی، دخپل عصر مشهور عالم او جید متقی سړی و، دی یو پارسی دیوان لري چه په (۱۲۰۱ ه) ئي تکمیل کړی دی. په پښتو کښ ئي اشعار ډیر اوږ او سوزان دي، په ۶۸ کال د عمر په «۱۲۴۵ ه» کښ وفات شوی په تلو کان کښ ښخ دی، (۱)

(۶) میان نور محمد داوی:

دپوتی په میا مشهور او د احمد شاه بابا د عصر له مشهورو علما وا و متقیانو څخه دی، داخوند کلی دقندهار مشرقی خواته د ترنك پر غاړه دده په نوم مشهور او هوري ښخ دی!

دی د مشهور میان عبدالحکیم صاحب کاکړ مریدوو، او په زهد او عرفان کښ ډیر مشهور دی

(۷) ملا صالح محمد داوی:

د میان نور محمد شاگرد او مریددی، دخپل وخت ښه عالم وو، یو پښتو او پارسی دیوان لري، د پښتو په ا و سطو

(۱) دقندهار علماء طلوع افغان ۱۱ کال ۱۰ گڼه

اديبانو کښې ګڼل کيږي (۱)

(۸) رحمت داوي :

« رحمت » په قوم داوي د احمدشاه بابا په عصر کښې دقند هار او سيد ونکي وو، دی د شاه زمان تر پاچهۍ پوري لا ژوندی وو، هغه وخت چه سردار عبدالله خان د کشمير نائب الحکومه وو، رحمت په کشمير کښې وو، ده د دغه سردار او شاه زمان په نوم پښتو ليلی او مجنون ليکلی دی، په مقدمه کښې ئې وايي. :

غمو ملك را باندی تنګ کړ ــــ زړه مي ځکه دا آهنګ کړ

چه پښتو ليلی مجنون کړم ــــ ښائی غم له زړه بيرون کړم

په پارسی هرچا ويلي ــــ پښتونه ده چا ليدلي

ځکه زه په پښتو ژبه ــــ دا قصه کړم عجائبه

سلطنت د شاه زمان دی ــــ دی خاقان ابن الخاقان دی

سرداری د عبدالله ده ــــ خلقه واړه آګاه ده

د کشمير ملك ئې روښان کړ ــــ ورك ئې ظلم د جهان کړ

---

(۲) د پښتو شعر تاريخچه په طلوع افغان کښې ۱۳ کال

زه بندی په کوهستان وم د کشمیر په ډېر ارمان وم
نه کاغذ نه می قلم وو روز گار ځما هسی برهم وو
چه خبر شوم له سردار ه له دې هسی نیکو کار ه
په شتاب ورته روان شوم پرغه تېر عمر پښېمان شوم
بنایسته کښلی پښتون دی زیات په ور کړه تر جیحون دی
عجب دی که شی پیدا بل دا هسی پښتو ن بیا

دا کتاب رحمت په (۱۲۱۰ هـ) منظوم کړی دی، کلام ئې ډېر پوخ او خوږ دی، فصاحت لری، مضامین ئې سلیس او ژبه ئې ساده ده! یوه نسخه ئې مصوره سته چه په کشمیر کښې ملاولی مصور په ۱۲ دجمادی الثانی (۱۲۱۶ هـ) لیکلې او مصوره کړې ده په امر د شیر محمد خان بر درانی.

(۹) کاظم خان شیدا:

کاظم خان د افضل خان زوی دی، چه افضل د اشرف خان هجری زوی وو، هجری د خوشحال خان خټک زوی وو! شیدا د پښتو ادب یو روښ ستوری دی، او د خوشحال خان

دمکتب یو نامور شاگرددی ، چه په پښتو یو ښه دیوان لری دی په (۱۱۳۵ ه) تولدشوی ، او داحمدشاه بابا معاصردی ، عمری ئې په کشمیر اوسرهند کښې تېر کړی ، اوپه رامپور کښ په حدود (۱۲۰۰ ه) وفات شوی دی ، دشیدا کلام په پښتو کښ دپارسی دهندی سبک نمایندگی کوی ، اولکه بیدل ډېر نازکخیال شاعردی

شیدا دهند په محکو کښ لهوطنه ورك دی ، دبیلتانه سوځونکی ناري ئې په اشعارو کښ ډېری دی (۱) :

شیداور ستوه رنګین اشعار له هند
ستا لهرای سره اشنا دروه یاران دی

دشیدادیوان په (۱۱۸۱ ه) تول او ترتیب شوی دی (۲)

(۱۰) عبدالحمید مهمند :

حمید بابا ماشوخیل مهمند ، دپښتو له لویو ادیبانو څخه دی ، حمید په پښتو کښ دیوه نوی سبک استادا و

(۱) دپښتو تأریخچه په طلوع افغان ۱۳ کبال کښ .

(۲) دشیدا قلمی دیوان .

لمړی سړی دی ، او په پښتو ادب کښې ئې بېل مکتب تأسیس کړی دی !

پښتنا نه اد باهم حمید استاد بولی مثلاً میر زاحنا ن قند هاری وایی :

بل حمید موشگاف دخیال په شعر
څه به وایم نا سفته درئې پییل

پیر محمد کاکړ وایې :

پسله دویه موشگاف عبدالحمیددی
چه ئې ووې ښه نازك نکته دان شعر

عبدالحمید په پښتو د یوا ن لری ، چه مشهو ر دی ، د شاه گدا ی قصه ئې په ( ۱۱۳۷ ه ) کښې لیکلې ده ، نیرنگ عشق دمولانا غنیمت ئې دپښتو په نظم ترجمه کړی دی !

که څه هم عبدالحمید داحمد شاه بابا ترپا چهۍ دمخه دی ، مګر وفات ئې په دغه عصر کښې وا قع شوی ، او په

پښتو ر کښې دما شو خپلو په ګمګر کښې دده مزار دی!

مستر راورتی انګلیسی مستشرق غلط شوی دی، چه حمید

دتیمور شاه معاصر ګڼی (۱)

(۱۱) میان فقیر الله جلال آبادی:

مرحوم میان فقیر الله صاحب دعبدالرحمن زوی دی چه دجلال آباد په خاص حصارک کښې زوکړی (۲) او دخپل عصر له لویو مشایخو او علماؤ څخه دی چه په نقشبندیه طریقه کښې دجناب محمد معصوم دپیښوری او دی بیا دجناب محمد سعید لاهوری، او دی بیا دحضرت سعدالله او دی بیا دحضرت آدم بنوری څخه فیض اخیستونکی دی، چه حضرت بنوری دحضرت مجدد صاحب کابلی پیرو او مرید دی (۳) علاوه پر نقشبندیه طریقې په قادریه کښې هم میانصاحب مأذون وو، او احمدشاه بابا او دغه جناب ته لوی عقیدت او ارادت درلود، ددیر مکتوبونه میانصاحب

---

(۱) وګوری دپښتو ګرامر مقدمه طبع دکلکتې ۱۸۵۶ هـ.

(۲) وګوری دده مکتوبات ص ۲۷ (۳) دمیان فقیر الله صاحب مکتوبات ص ۱۸

واحمدشاه باباته رالیږلی دی، چه په مکتوبات کښې ئې ستهٔ، او کله کله احمد شاه بابا هم له ده سره علمی اوعرفانی مفاوضات اومراسلات درلوده، په مکتوبوبه ئې پوښتنې ځنې کولې.

میانصاحب د خپل وخت زبردست عالم وو په ښنکاپور کښې ئې لوی خانقاه درلوده د ده تألیفونه دغه مشهور دی:

(۱) فتح الجمیل فی مدارج التکمیل (۲) فیوضات آلهیه (۳) براهین النجاة (٤) جواهر الاوراد (٥) طریق الارشاد (٦) وثیقة الاکابر (۷) منتخب الاصول دفقه (۸) فتوحات غیبیه (۹) کتاب الازهار فی ثبوت آلاثار (۱۰) محمود الاوراد (۱۱) قطب الارشاد (۱۲) مکتوبات ۳۹۰ مخه طبع دلاهور

علاوه پردغه دوی په پښتو عربی اوپارسی ژبه منظومې هم لری، یو کتاب ئې په پښتو په نوم د «فوائد فقیرالله» هم لیکلی دی، میا نصاحب په ښنکاپور کښې (۱۱۹٥ هـ)

په حدود وفات شوی، او مرقد ئې دعامو زیارت گاه دی (١)

(١٢) ملا محمد غوث، ابن ترکمان ابن تاج خان:

د احمد شاه بابا معاصر او ملازم دی، چه په هندوستان کښې میشته وو، ده یو کتاب «شرح الشرح» په ٣٠٠ مخه کښې په پارسی د احمد شاه بابا په امر لیکلی، او د احمد شاه بابا عرفانی وینا وی او منثور کلمات ئې شرح کړی دی.

(١٣) فیض الله اخند زاده کاکړ:

د اعالم اصلاً د ژوب وو، چه د هوتکو د باچهۍ په پای کښې ئې پلار ملا بابړ آخوند له هغه ځایه قندهار ته راغلی وو.

ملا فیض الله زبر دست عالم وو، د قندهار مشهور مؤلف او نامور عالم مرحوم حبیب الله اخندزاده ئې زوی وو (٢)

(١٤) سید سراج الدین:

---

(١) د پښتو شعر تاریخچه په طلوع افغان کښې ١٣ کال.

(٢) وګوری د کابل مجله ج ٦ ص ٤٥ ٦ چه مفصلاً ئې مه شرح حال لیکلی دی.

په ۱۱۲۷ هـ د دکن په اورنگ آباد کښې زېږېدلی او د احمدشاه بابا ادبي معاصر دی، سراج پارسی او اردو دېوان لري، یو مثنوی بوستان خیال ئې هم تالیف کړی دی، په ٦ د شوال جمعه ۱۱۷۷ هـ وفات شوی دی (۱)

(۱۵) مولوی محمد باقر:

متخلص په آگاه د احمدشاه بابا معاصر دی په هند کښې وو، په ۱۲۲۰ هـ کال وفات شوی دی، دهشت بهشت، تحفة الاحباب، فرائد در عقائد، ریاض الجنان، محبوب القلوب، گلزار عشق او نورو مؤلفاتو خاوند دی (۲)

(۱٦) خان آرزو:

سراج الدین علي خان متخلص په آرزو د احمد شاه معاصر د هندوستان زبردست شاعر او محقق دی، په ۱۱٦۹ هـ په لکهنو کښې وفات شوی او په دهلی کښې ښخ دی، پارسی دېوان ئې شل زره بیته دی، په پارسی ئې دوه لغتونه

(۱) تاریخ ادب اردو ص ۹۰ درام بابو طبع د لکهنو

(۲) تاریخ ادب اردو ص ۹۲

كتابخانه



[stamp]

کښلی دی « سراج اللغات » او « غرائب اللغات » نور تأليفونه‌ئي «موهبت عظمی » او عطیه کبری » دبلاغت په فن کښ او «مجمع النفائس » دشعرا وو تذکره ده (۱) نور تأليفات‌ئي تر (۱۵) پوری رسیږی ، لوی استاد وو (۲)

(۱۷) شاه حاتم :

ظهورالدين د فتح الدين زوی چه په (۱۱۱۱ ه ، زیږیدلی ، اوداحمدشاه بابا په‌زمانه کښ ددهلی‌ساکن‌وو ، دپارسی او ار دو ښه شاعر دی ، پر ۸۳ کال د عمر په ۱۱۹۶ ه په دهلی کښ وفات شوی دی (۳)

(۱۸) میرزا مظهرجان جانان :

شمس‌الدين د مرزا جان زوی ، د پارسی او اردو زبردست اومشهور شاعردی ، په‌آگره کښ په (۱۱۱۰ه)

(۱) تاریخ ادب اردو ص ۱۰۲

(۲) نکات الشعراء دمیر تقی .

(۳) تاریخ ادب اردو ص ۱۰٤

کتابخانه
لیسه ملالی



زو کړی وو (۱) مظهر نامور شاعر او فقیه او عالم او په نقشبندیه طریقه کښې لوړ مقام لری، پارسی دیوان ئی په ۱۱۷۰ ه کښې تألیف کړی او یو بل کتاب په نوم د «خریطهٔ جواهر» لری په ۱۰ د محرم ۱۱۹۵ ه کال شهید سوی دی (۲) میرزامظهر پخپلو مکتوباتو کښې داحمدشاه بابا دهند، سفر یاد کړی دی (۳)

(۱۹) فغان:

اشرف علی خان فغان دعلی خان نکته زوی وو، داحمدشاد بابا تر فتح وروسته له دهلی څخه مرشدآباد ته ولاړ، پارسی او اردو دیوان لری، وفات ئی په ۱۱۸۶ ه کال دی (٤)

---

(۱) دګارسان ډیتا سی فرانسوی هندی ادب.
(۲) تاریخ ادب اردو ص ۱۰۸
(۳) وګوری ۷۱ مکتوب دکلمات طیبات ص ٦۱ طبع دهلی
(٤) تاریخ ادب اردو ص ۱۱۲

(۲۰) درد :

سیدخواجه میردرد ، د خواجه‌محمد ناصرعندلیب زوی او د احمدشاه‌بابا دعصر لوی صوفی اوعالم اومشهور دپارسی او اردو شاعر دی ، په ۱۱۳۳ ه کال زوکړی ، اوداحمدشاه بابا په وخت په‌دهلی کښ‌وو .

دردمشهور مؤلف دی ، اسرارالصلوة ، علم الکتاب ، نالهٔ درد ، آه سرد ، درددل ، شمع محفل ، ئی تألیفونه‌دی پارسی‌اواردودیوانونه‌هم‌لری ، په ډهلی کښ په ۱۱۹۹ ه کال وفات سوی دی (۱)

(۲۱) میرسوز :

محمد میر دمیرضیاء الدین زوی د گجرات دمشهور عالم شاه‌قطب لـه کورنۍ څخه وو ، په‌دهلی کښ د ۱۱۳۳ ه په حدودو زوکړی ، او په عمرد ۸۰ کالو نژدې و ۱۲۱۲ ه ته وفات سوی‌دی (۲)

میرسوزدخپل وخت‌مشهور شاعر اوداحمدشاه بابا

(۱) تاریخ ادب اردو ص ۱۲۳

(۲) مستربیل

معاصر دی ، عالم ، صوفی ، خوش نویس ، او سپا هی یو سړی وو، داردو ژ بی دا دب استاد دی ( ١ )

(٢٢) سودا :

مرزا محمد رفیع سودا اصلاً دکابل دی ، په دهلی کښې په ١١٢٥ ه کال زو کړی (٢) او دپارسی او اردو یو خورا لوی شاعر او مؤلف دی په ١١٩٥ ه په لکهنو کښې وفات شوی دی، دخپل عصر ملك الشعراء وو ډیر تالیفونه او اشعار لری (٣)

(٢٣) میر حسن دهلوی :

تولد ١١٤٠ وفات ١٢٠١ ه دمیر غلام حسین ضاحك زوی ، او خاوند دمثنوی سحرالبیان ، پارسی او اردو دیوان ، گلزار ارم، رموز العارفین، تذکرة الشعراء (٤)

(١) تاریخ ادب اردو ص ١٢٤
(٢) آب حیات دمحمد حسین آزاد .
(٣) تاریخ ادب اردو ص ١٢٧ — ١٤٣
(٤) تاریخ ادب اردو ص ١٤٣ — ١٦٨

(۲٤) میر تقی . میر :

دهندوستان مشهور شاعر دی ، په اکبر آباد کښې دآگرې په ۱۱۳۷ ه زوکړی، په ۱۱۹۷ ه کښې وفات شوی دی! شپږ جلده اردو اشعار او یو پارسی دیوان او یوه فارسی رساله فیض میر، او تذکره دنکات الشعراء، او تنبیه الجهال او نور تألیفونه لری، په «ذکر میر» کښې ئې د ۱۱۵۱ څخه تر ۱۱۹۷ ه پوری تاریخی حالات لیکلی ، او داحمدشاه بابا دپانی پت جنګ ئې هم ذکر کړی دی (۱)

(۲۵) رنګین :

سعادت یار خان رنګین په لاهور کښې داحمد شاه بابا دنائب الحکومه میرمنو ملازم وو، دیناسی ئې عمر ۸۰ کاله لیکی ، دو کتور اسپر نګر وایی چه په ۱۲۵۱ ه کښې وفات شوی او په ۱۱۹٦ ه کښې زوکړی دی ! ایجاد رنګین ، مثنوی دلپذیر ، مظهر العجائب ، فرسنامه، مجالس رنګین دده تألیفونه دی د شعر دیوانونه هم لری (۲)

---

(۱) دعلامه سید سلیمان ندوی یادداشتونه ، او دډوکتور اسپرنګر لیکونه د ۱۸۵٤ ع طبع (۲) تاریخ ادب اردو ص ۲۳۸

(۲٦) شاه عالم :

دمغولیه کورنی آخرنی باد شاه وو، چه احمدشاه بابا په ورستنی پلا دپانی پت ترجنگ وروسته دهلی پاچا کی، دی ښه شاعردی پارسی دیوان لری. تخلص ئی «آفتاب» دی. یوبل کتاب «مضمون اقدس» هم ده لیکلی دی، په پای کښې د غلام قادر له لاسه ړوند کړه سو (۱)

(۲۷) واله داغستانی :

علی قلی خان دخپل عصر مشهور شاعردی، تراحمد شاه بابا دمخه دی په دهلی کښې ومحمدشاه دهندپاچاده ته امارت ورکړی وود «ریاض الشعراء» تذکرهٔ ئې داحمدشاه بابا دجلوس په لمړی کال ۱۱٦۱ ه لیکلې ده (۲)

(۲۸) آشفته :

میرزامحمد صالح دمحمدزمان خان زوی، داحمدشاه بابا په عصر کښې د کابل دتو پخانې مشروو، په ۱۱۷۲ ه

(۱) تاریخ ادب اردو ص ۲٤۲

(۲) تذکرهٔ حسینی ص٦۲ طبع ۳ د لکهنو

کښې وفات شوی دی، تخلص ئې «آشفته» دی (۱) دی وائې:

میرود دل بسر کوی تو پنهان ازمن
بد گمان گشته ندانم به‌چه عنوان ازمن

(۲۹) الفتی کابلی:

نوم‌ئې قلیج خان وو، د احمدشاه بابا په عصر کښې د کابل میشته او غښ مشر وو، عالم او ادیب سړی دی، دی وائې (۲)

کشتهٔ آن نرگس مستم که درعین خمار
عالمی‌را کشته وخودرا بخواب انداخته

(۳۰) مصحفی:

دهندوستان مشهور ادیب دی، داحمدشاه بابا په‌عصر کښې په ۱۱۶٤ هـ زو کړی، په‌امروهه کښې میشته وو، وفات‌ئې ۱۲٤۰ هـ دی.

پارسی او اردو دیوانونه لری، دتذکرة الشعراء

(۱) سکینته الفضلاء ص ۵۲ (۲) سکینته ص ۳ ۵

لیکونکی دی (۱)

(۳۱) آزاد بلگرامی:

میرغلام علی آزاد بلگرامی دسیدنوح زوی، چه دده اسلاف واسطی زیدی دی، دسلطان التمش پهوخت کښې دفرخ آباد پهحمدان کښې دهند میشته شوی، وروسته نود سلطان بهلول لودین پهعصر بلگرام ته تللی دی!

آزاد په ۲۵ دصفر (۱۱۱۶هـ ـ ۱۷۰۲ع) په بلگرام کښې زوکړی او دمیرطفیل بلگرامی او علامه عبدالجلیل بلگرامی څخه ئې تحصیل کړی دی (۲) آزاد په (۱۱۴۲هـ ـ ۱۷۲۹ع) کال په سیوی کښې دنائب میربخش وقائع نگار وو، په (۱۱۵۰هـ ـ ۱۷۳۷ع) حج ته اوله دغه ځایه په ۱۱۵۲هـ یمن ته ولاړ، وروسته نوددکن اورنگ آباد ته راغی، ۸۶ کاله ئې عمر وو

---

(۱) شعرالهند ج ۱ طبع داعظم گډه

(۲) دفاضل سیدسلیمان ندوی یادداشتونه اوسبحةالمرجان فی آثار هندوستان ص۱۱۸

په (۱۲۰۰ هـ - ۱۷۸۶ ع) وفات او په اورنگ آباد کښې
ښخ شو، آزاد مذهباً حنفي وو، دخپل عصر لوی عالم وو،
داحمدشاه بابا دفتوحاتو تأریخونه ئې په هند کښې ليکلی دی،
دده فتوحات ئې په نظم کښې راوړی دی، اضوءالدراری
شرح صحيح بخاری، او تسليته الفواد، تراجم علماء، (۱)
يد بيضا، سرو آزاد، خزانهٔ عامره، روضته الاولياء
سندالسادات، مآثرالکرام، سجته المرجان دده تأليفونه دی
(۲) متأخرين دی په فصاحت کښې «سحبان الهند» بولی (۳)
په پارسی او عربی اوار دو کښې زبر دست عالم او شاعر
او اديب وو او دشعر ديوانونه يې کښې لری.

(۳۲) غلام حسين طباطبائی:

دهدايت علی خان زوی دی، اسلاف ئې له ايرانه راغلی
په دهلی کښې ميشته وه، دمحمدشاه په عصر کښې بهارته ولاړ،

(۱) تذکره علماء هند ص ۱۵٤ دلکهنو طبع ۱۹۱٤ ع
(۲) حيات جليل ج ۲ طبع دالهآباد
(۳) دمرحوم مولوی عبدالرؤف خان قندهاری کشکول ج۲

شیعه وو ، غلام حسین داحمدشاه بابا معاصر دی ، دی دخپل عصر مؤرخ دی ، «سیرالمتأخرین» ئې لیکلی دی ، په دغه کتاب کښې ده دهندوستان احوال چشمدید کښلی او داحمدشاه بابا فتوحات ئې مفصل ذکر کړی دی ، په ۱۱۹۵ ھ کښې وفات شوی دی (۱)

(۳۳) ملا دوست محمد :

داحمدشاه بابا دعصر یوز بردست عالم وو ، په قندهار کښې اوسېدی ، داحمدشاه بابا له خواد ښکارپور په نائب الحکومگی هم مقرر شوی ، او میان فقیرالله صاحب ئې له ښو اوضاعو ښخه تشکر کړی دی (۲)

(۳٤) محبت خان بلوځ :

داحمدشاه بابا معاصر او دبلوچستان لوی امیر وو ، دکچه وخواته ده جنگونه کوله ، او د احمد شاه بابا استاد میان فقیرالله ته ئې ارادت (عقیده) درلود ، او عالم امیر وو ،

(۱) دعلامه سیدسلیمان ندوی یاد داشتونه
(۲) مکتوبات ص ۱۱۰

دمیا نصاحب سره مکاتبې هم لرلی (۱)

(۳۵) نصیر خان بلوڅ :

داحمدشاه بابا دعصر دبلوچستان مشهور مشرو، عالم او فقیر دوست سړی وو، ومیان فقیرالله ته ئې ارادت درلود، دده په نوم عربی او پارسی مکتوبونه او جوابونه لیکلی شوی دی (۲) په ځنی جنګو کښې ئې داحمدشاه ملګری هم کړې ده.

(۳۶) میرحسین دوست :


میرحسین دوست سنبهلی داحمدشاه بابا په پاچهی کښې په ۱۱۶۳ کال « تذکرهٔ حسینی » لیکلې، او په شاه جهان آباد کښې دهند میشت وو، دخپل عصر له ادباوو او شاعرانو څخه وو (۳)

---

(۱) وګوری مکتوبات.

(۲) وګوری مکتوبات.

(۳) تذکرهٔ حسینی طبع دلکهنو ۱۲۹۲ ه



حافظ رحمت خان بړیڅ چه دلوی

احمد شاه بابا ملگری، او په هند کښې پښتون پاچا وو

داحمدشاه بابا دکتاب په (١١١) مخ مربوط

(۳۷) حافظ رحمت‌خان :

داحمدشاه بابا له‌پښتنو معاصرو اميرانو څخه يو حافظ الملك حافظ رحمت‌خان دشاه عالم‌خان زوی دمحمود خان زوی دی ، چه‌په‌قوم بړيځ‌وو ، لوی نيكه ئې شهاب‌الدين له‌ښو راوكه تللی اوپه اټك اولنګر كوټ كښې مشته‌وو ، رحمت خان په (۱۱۲۰ هـ = ۱۷۰۸ع) زو كړی اودشهامت پورپه تور كښې اوسېدی، پر ۱۲ كال‌ئې قرآن شريف يادكی، حافظ رحمت‌خان دېرعالم اوفاضل‌اواديب سړی‌وو،دپښتون نواب علی محمدخان‌سره‌ئې ښه‌خدمتونه‌وكړه، اوهغه وخت چه‌دمحمدشاه مغولی پاچا له‌خواپر روهيل كنډ حمله وشوه، نورحمت‌خان ، علی‌محمدخان ته‌نجات وركی، وروسته‌ئې اوپرسرهند دمغولوسره سخت جنګونه وكړه چه احمد شاه بابا لمړی پلا پرهندحمله وكړه ، نو، رحمت‌خان اوعلی‌خان دواړه داحمدشاه بابا ملګری شوه، مګرچه علی‌خان پښتون په‌۳ دشوال (۱۱۶۲ هـ = ۱۴ ستمبر ۱۷۴۹ ع) وفات شو، نوپرځای‌ئې رحمت‌خان

در وهیل کنډ پاچاشو (۱) ده د بنګښو پښتنو امیرانو سره ښه کومکونه وکړه، داحمدشاه بابا په دریمه حمله کښې پر هندپه (۱۱۷۰ هـ = ۱۷۵۷ ع) حافظ رحمت خان دده سره دخپلوۍ اوملګرۍ مناسبات درلوده (۲) اوپه څلورمه حمله کښې هم ورسره ملګري وو، څوځلی ئې ونیولی (۳) احمدشاه بابا ددې خپل پښتانه ملګری پاچاسره خورامینه درلوده، دده اوشاه ولی خان وزیر اعظم فرق ئې نه کاوه، درحمت خان بړیځ په کوښښ، دهغه وخت ټوله پښتانه دهندامیران داحمد شاه بابا سره متفق شوه (٤) لکه نواب احمد خان بنګښ اوشجاع الدوله پښتون، حافظ رحمت خان بړیځ، د پښتنو دشهنشاه احمدشاه بابا رشتینی ملګری اوشجاع اوښاغلی سپه سالار، اومدبر

(۱) حیات حافظ رحمت خان ص ۳٤ طبع دبدایون ۱۹۳۳ ع دسیدالطاف علی بی، ای

(۲) حیات رحمت ص ۷۹

(۳) سیرالمتأخرین.

(٤) حیات رحمت ص ۹۰

دوست وو، عالم، فاضل، متقي، عادل پښتون وو، رحمت خان دپښتو، پارسي ښه شاعر هم وو، مستر برك ليکي، چه ده په خپلو تأليفونو او آثارو شاعري ژوندۍ کړه (۱)
ډار مستېر دفرانسه مشهور مستشرق دحافظ رحمت خان دپښتو شعر مجموعه په رامپور کښې ميندلې وه، چه اوس دبرټش موزيم په مشرقي کتابو کښې ده (۲)

حافظ رحمت خان عالم او علم دوست سړی وو، ده ښه کتب خانه هم درلوده چه اوس ئې کتب داوده په کتابخانه کښې دي او ډو کټور اسپرنيګر ئې فهرست په (۱۸۵٤ع) کښې شائع کړی دی (۳)
اسپرنيګر ليکي، چه ځلوېښت صند وقه کتابونه درحمت خان پاته وه چه اکثر پښتو وه (٤)

(۱) دبرك وينا وی ج ۳
(۲) دسرجان استريچي دروهيلو دجنګ دتاريخ
(۳) سرجان استريچي دروهيلو جنګ
(٤) سرجان استريچي درو هيلو جنګ

رحمت خان یو کتاب « خلاصته الانساب » هم لیکلی دی ، چه دانگلستان په موزیم کښې ئې نسخه شته ، یو بل کتاب ئې هم تألیف کړی دی ، چه نوم ئې « تواریخ رحمتخانی » دی ، دغه کتاب په (۱۰۳۲ هـ = ۱۶۲۲ ع) کښې لمړی پلا په پښتو لیکل شوی ، او وروسته په (۱۱۸٤ هـ = ۱۷۷۰ ع) کښې رحمتخان په پارسی ترجمه کی ، چه دلنډن د هندوستان په دفتر ، او پټنه او آگره کښې ئې نسخې شته (۱)

حافظ رحمتخان په ښنبې ۱۱ دصفر (۱۱۸۸ هـ = ۲۳ داپریل ۱۷۷٤ ع) دمیران پور دکړه په جنگ دانگریزانو او شجاع الدوله په مقابله کښې په عمر د (٦٧) کالو شهید ، او دبریلی په ښار کښې ښخ شو ، مرحوم ډیر علم پرور پښتون وو درو هیل کنډ په لویو ښارو کښې ئې لکه شاه جهان پور ، بریلی ، پیلی بهیت لوئی لوئی

(۱) حیات رحمت ص ۲۹۸ — ۲۹۹

مدرسې جوړی کړی وې ، او ډېر علماء ئې هلته را ټول کړی وه (۱)

(۳۸) بحرالعلوم :

مولاناعبدالعلی دنظام الدین زوی مشهور په بحرالعلوم داحمدشاه بابا معاصردی ، په هندکښې لوی علمی شهرت لری ، دمولوی بلخی پر مثنوی ئې مشهوره شرح لیکلې ده ، چه بحرالعلوم نومیږی !

په تصوف او فلسفه اوعلم کلام اونورو اسلامی علومو کښې ښه لاس لری ، داحمدشاه بابا ملګری پښتون امیر حافظ رحمت خان دپښتنوعلم پالونکی مشرپه ډېر اصرار دی شاه جهان پورته غوښتی ، اویوه خاصه مدرسه ئې ورته جوړه کړې وه ، چه شل کاله مولانا تدریس پکښې کاوه (۲) علاوه پردغه مولانادبوهار په کلی

(۱) دهند مدرسې دابوالحسنات ندوی ص ۳۴ — ۳۵ داعظم ګډه طبع .

(۲) رسالهٔ قطبیه .

کښې د بردوان په ۱۱۷۸ هـ کښې هم تدریس کړی، او ډېر شاګردان ئې درلوده (۱) مشهور تصانیف ئې دغه دی: ارکان اربعه په اصول فقه کښې، پر میرزاهد حاشیه، پر شرح تهذیب حاشیه، دې حاشیئې پرزاهدیه، شرح سلم، فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت، تکمله، تنویر الابصار، حاشیه دصدرا پر شرح، دفقه اکبر شرح، دتوحیدر ساله اودقیامت احوال (۲)

(۳۹) نواب محبت خان بړیڅ:

دحافظ رحمت خان زوی وو، دپلار دشهادت پروخت د ۲٤ کالووو، دعمرپر ۵۹ کال په ۱۳ دصفر ۱۲۲٤ هـ = ۱۸۰۹ ع وفات او په لکهنو کښې ښخ دی، په علوم عربیه او پارسی او سنسکرت کښې لوی عالم او استادوو، په اردو عربی، پارسی، پښتوئې ښه او ډېر اشعار درلوده،

(۱) دهندوستان مدرسې ص ۵۹

(۲) تذکرهٔ علمای هند ص ۱۲۳ درحمان علی خان طبع دلکهنو ۱۹۱٤ ع

«اسرار محبت» او «آمدنامه» ئې دوه کتابونه هم تألیف کړی دی، په حربی کارو اوموسیقی کښې هم ماهرو و (۱) داحمدشاه بابا دعصر یو ادب پالونکی عالم او ادیب اونامور پښتون دی (۲) دی وایی:

زسر گذشت «محبت» زهر که پرسیدم

به عارض اشك پیاپی چکیدو هیچ نگفت

(۴۰) نواب الله یار خان:

دحافظ رحمت خان بړیځ زوی، او دپلار د شهادت پروخت د ۳۱ کالووو. ۸۱ کالهئې عمروو په ۹ دشعبان ۱۲۴۸ ه = ۱۸۳۲ ع وفات شوی دی، دی هم لکه پلار دتوری اوقلم خاوند اوعالم او محقق وو، په پښتو او هندوستانی ژبه ئې یو دپښتو ژبی خورامهم لغت لیکلی دی، چه اوس نشته (۳)

---

(۱) حیات رحمت ص ۳۱۳

(۲) شع الهند ص ۴۴۸ ج ۲

(۳) حیات رحمت ص ۳۳۷

(٤۱) نواب غلام مصطفی خان :

دحافظ رحمت خان زوی، او په پنجشنبې ۲۷ دذیقعدې ۱۲۰۳ هـ = ۱۷۸۸ ع وفات شوی عمر ئې ۳۰ کاله وو، دپارسی او اردو لوی ادیب او تخلص ئې «مست» دی (۱)

(٤۲) نواب مستجاب خان :

دی هم درحمت خان زوی او دپلار دشهادت پر وخت د۱۳ کالو وو، په دوشنبې ۲ دشوال ۱۲٤۸ هـ وفات شوی، دعربی اوپارسی او پښتو لوی ادیب اوعالم وو، «گلستان رحمت» ئې په تاریخ کښ لیکلی دی (۲)

(٤۳) شیخ علی حزین :

نوم ئې محمد، پلار ئې ابوطالب وو، په دوشنبې ۲۷ دربیع الثانی ۱۱۰۳ هـ په اصفهان کښ زوکړی، او دمشهور شیخ زاهد گیلانی له کورنۍ څخه دی، حزین

(۲) حیات رحمت ص ۳٤٤

(۳) حیات رحمت ص ۳٤۹

دخپل عصر عالم او شاعر وو، په ۱۱۳۵ ھ کښې ئې یو کتاب په نوم د «مدت العمر» ولیکه، فرس نامه او نوری څو فلسفی رسالې او داشعارو دیوان هم لری، دشهریار محمود هوتك د فتح پر وخت دی په اصفهان کښې وو، دنادر افشار په عصر کښې په ۱۱٤٦ کال لسمه د روژې له ایرانه هندوستان ته ولاړ، هلته ئې ٤٥ کاله تیر کړه، په ۱۱۵٤ ھ کښې ده خپل «تذکرة الاحوال» کتاب وکښلی، چه په ۱۸۳۰ ع کښې بالفور په انگلیسی ترجمه کړی دی، په ۱۱٦۵ ھ د احمد شاه بابا په عصر کښې ده «تذکرة المعاصرین» وکښلی چه په ۱۲۹۳ ھ په لکهنو کښې طبع شوی دی (۱) حزین په ۱۱۸۰ ھ کښې وفات شوی او پخپلو آثارو کښې ئې داحمدشاه بابا دهندوستان دجگړو ذکرهم کړی دی احمدشاه بابا دده سره یوه مشاعره هم لری، چه دپارسی شعر په بحث کښې به ذکر سی.

---

(۱) دپروفسور براون انگلیسی دپارسی تاریخ ادبیات ج ٤

(٤٤) آذر :

لطف علي بيگ آذر په ٢٠ د ربيع الاول ١١٣٤ ه په اصفهان کښې زيږېدلی، او دنادر افشار په وخت کښې دايران د لاراو دخليج فارس دغاړو حاکم وو (١) داحمدشاه بابا په عصر کښې دی ژوندی او دغه وقايع ددغه عصر ليکي ، کتاب ئې « تذکره آتشکده » دی، چه په دغه کتاب کښې دی دپښتنوسره تعصب ښکاره کوي د ١١٧٤ ه تأليف دی .

(٤٥) نواب مير احمد خان :

متخلص په « ناصر » د دکن له آصفی شاهي کورنۍ څخه دی، داحمد شاه بابا په عصر کښې په ١١٦٤ ه وفات شوی او دديوان خاوند دی، دی وايي :

ارستو شد ز فطنت بار ياب بزم اسکندر
به حکمت مي توان گشتن مقرب باد شاهانرا (٢)

---

(١) دپارسي ادبياتو تاريخ د براون ج ٤

(٢) د سرکشن پرشاد د دکن صدراعظم خطابه ، گلشن د تهران ١٣٠٨ ش

(۴۶) ولی رام :

اصلاً هندو دی متخلص په ولی، د احمدشاه بابا معاصر وو له کلامه ئې د توحیدا فکار ښکاره دی په پارسی ښه دیوان لری، شعر ئې خوږ دی، په کابل کښې اوسېدی، دا غزل دده دی (۱)

بروز کوچهٔ اسلام و کفر بر در صلح
برات نقد چنین ثبت شد بدفتر صلح

تعصبات مذاهب تمام پنج روز است
شنیده ایم بسمع رضا ز مخبر صلح

براه جنگ منه پا که در وحل مانی
عبور کرد توان بر فلك ز شهپر صلح

نگویمت که فرنگی و یا مسلمانی
بهر طریق که باشی مباش منکر صلح

رسد بمنزل تحقیق چون «ولی» آنکس
دهد عنان ارادت بدست رهبر صلح

ولی یوه د تاریخ رساله هم په پارسی لیکلې ده، چه دده

(۱) مجلهٔ کابل ج ۴ ص ۱۵۳ مفصلاً .

ددیوان له منتخباتو سره یوځای قلمی زما څخه سته.

(٤٧) هاتف اصفهانی:

سیداحمد هاتف داحمدشاه بابا په عصر کښې دایران مشهور شاعراو ادیب دی، په عربی او پارسی اشعار لری، دآذرملګری وو، په ۱۱۹۸ ه په قم کښې مړ دی (۱)

(٤٨) عبدالعزیزخان دبخارا پاچا:

داپاچادبخارا له جنیدیه کورنۍ څخه وو چه له ۱۰۰۷ څخه تر ۱۲۰۰ ه پورې ئې په بخارا کښې لسو تنو حکومت کړی دی، ددې کورنۍ آخرنی پاچا عبدالعزیز خان دنادرمحمدخان زوی، دی چه لس کاله داحمدشاه بابا تر جلوس وروسته په ۱۱۷۱ ه کښې پر تخت کښېنستلی، او په ۱۲۰۰ ه کښې وفات شوی دی.

عبدالعزیزخان داحمدشاه بابا له علمی او ادبی او سیاسی معاصرینو څخه دی، چه دشعر ښه طبع لری، او په پارسی ئې خوازه اشعار ویلی دی، دغه یو بیت دده له اشعارو څخه

---

(۱) تاریخ ادبیات ایران دډوکتور شفق ص ۱۸۹ طبع دتهران

را نقل کوو (۱)

ضبط آه وناله خون دارددل زارمرا

آخراین پرهیز خواهد کشت بیمارمرا

(٤۹) ابن محمدامین گلستانه:

دپارس لهساداتو څخه وو دنادرافشاردمرګ پروخت

دده اکا میرزامحمدتقی پهکرمانشاه کښې حاکم وو،

داحمدشاه بابا دسلطنت پراتم کال د۱۱۶۹ هـ پهپای کښې

دی لهایرانه دهندوستان سوا حلوته وخپل اکا

میرمحمداسحاق ته ولاړ، و روسته ئې نودهند په بنګال کښې

ژوندون کاوه. ابن محمدامین ابوالحسن گلستانه ددغه عصر

ادیب او مؤلف او مؤرخ دی، چه دهندستان د

دمرشدآباد په ښار کښې ئې لس کاله تراحمدشاه بابا

وروستهپه ۱۱۹۶ هـ کال، یو تاریخ «مجمل التواریخ

بعد نادریه» لیکلی اوپه ۱۸۹۶ ع کال دلیډن دبریل

(۱) دمهاراجه سرکشن پرشاد ددکن دصدراعظم خطابه، دتهران گلشن شماره ۱۲۱ ج ۱۳-۱۳۰۸ ش

په مطبعه کښي چاپ شوی دی، په دغه کتاب کښي دی د احمدشاه بابا د ایران فتوحات او سفرونه مفصل ذکر کوی.

(۵۰) میرزا علی اکبر بمرودی:

د احمدشاه بابا په عصر په بمرود کښي اوسېدی په پارسي ئې شعر وایه، احمدشاه بابا چه آخره پلا پر خراسان لښکر و رووست، دغه شاعر ددې پښتون فاتح هجو وکړه (۱)

(۵۱) ملاشاهوا خوند:

په قندهار کښي د مغرب خوا ته یو ځای دی، چه د ملاشاهوا خوند تکیه ئې بولی، ددغه ملاشاهو اخوند نوم ملا ارادت وو، چه د احمدشاه بابا د عصر یو مشهور او حق ویونکی عالم وو، او دده په دربار کښي ئې ډېر عزت درلود، لکه چه یوه ورځ د احمد شاه بابا په حضور کښي ددې عالم د حق پرستی د امتحان دپاره څه ساز او سرود وو، ده هم ددغه حرکت شرعی حکم په خورا شجاعت د احمدشاه بابا په حضور

(۱) مجمل التواریخ ص ۱۳۵ طبع د بریل د لیډن

کښې تبلیغ کې اوپخپله ده له مجلسه ولاړ ، په سره غره کې
ئې ځای ونیوی او بیانه راغی (۱)

(۵۲) قاضی فیض الله خان :

قاضی فیض الله په قوم دولت شاهی داحمدشاه بابا له معاصرینو
علماوو څخه دی ، چه دقندهار وو ، او داحمدشاه په ژوندون
کښې ئې دشاهزاده تیمورسره چه دهرات نائب الحکومه وو ،
نژدې دیوالی درلود ، او دشاهزاده لوی مشیراو معتمد وو ،
داحمدشاه بابا تر وفات وروسته چه تیمور له هراته
قندهار ته راتی ، دبکوا وغربی خواته دقاضی فیض الله خان
په تحریك او تشویق ، وزیر اعظم شاه ولیخان مړ کړه
سو (۲) وروسته چه تیمورشاه دافغانستان پر تخت
کښېنو ست ، نو قاضی فیض الله خان لکه دمملکت صدر
اعظم مدار المهام او مشیر او مدیر دسلطنت مقرر شو (۳)

(۱) سراج التواریخ ص ۳۰ د کابل طبع

(۲) سراج التواریخ ج ۱ ص ۳۵ او تاریخ سلطانی ص ۱۴۹ طبع
دبمبی ۱۲۹۸ ه

(۳) سراج ص ۳۷ ج ۱

دغه قاضی داحمدشاه بابا دعصر له لویو خلقوڅخه وو ،

(٥٣) ملا عبدالغفار خان جدید الاسلام :

لمړی هندو،و و، داحمد شاه بابا په عصر کښی مسلمان اووده سره یو ځای لههندوستانه افغانستان ته راغی ، او دینی علوم ئې واوستل ،ددغه عصر نبهءالم‌وو،دتیمور شاه دجلوس پروخت دغه ملا د مملکت دد یوان په استیفاء (چه یخوائې مستوفی الممالك اواوس ئې وزیر مالیه بولی) مقرر شو نو رحال ئې نه دی ښکاره (١)

(٥٤) عنایت الله هروی :

دسید لعل شاه هراتی زوی ووچه پلار ئې دهرات دخوا لوی، او زبردست عالم وو ، په ١١٨٠ ﻫ په هرندکښی وفات شوی دی (٢)

(٥٥) مولاناخان محمد :

د ملا ابوالفتح زوی د ملا عبدالحکیم سیالکوټی له

---

(١) سراج ص٣٧ ج١

(٢) حدیقه الاسرار فی اخبار الابرار ص ٢٧٩ دامام بخش افغان

کورنی ښخه لوی عالم دی ، د احمد شاه بابا په عصر په ډهلی اوجمون کښې وو ، وروسته نو کابل ته د تیمور شاه په عصر کښې دده حضور ته راغی ، او د افغانی دربار څخه ئې په کشمیر کښې معاش او تنخواه درلوده (۱)

(۵۶) مولوی هدایت الله :

د مولوی کرم الله زوی او د کشمیر او سپدونکی دخپل عصر عالم او ادیب وو ، د کشمیر تاریخ ده تألیف کړی ، تحفة الاخوان فی مناقب النعمان ئې د احمد شاه بابا په عصر کښې لیکلی دی ، په ۳۰ د شعبان ۱۲۰۶ ھ په کشمیر کښې وفات او ښخ شوی دی (۲)

(۵۷) مولوی نظام الدین :

د شیخ الاسلام قوام الدین زوی ، او د احمد شاه بابا له عصره په قاضی توب او خانی په کشمیر کښې سرفرازوو ،

(۱) تحائف الابرار د کشمیر درجالو تاریخ د حاجی محی الدین مسکین لیک د امرتسر طبع ص ۳۰۴

(۲) تحائف ص ۳۰۴

ډېر فصیح او بلیغ شاعر دی، د نظام الوقائع په نوم ئې یو کتاب کښلی دی، چه د احمدشاه بابا د عصر او وروسته وقائع ئې پکښې لیکلی دی، په ۱۸ د ذیحجې ۱۲٤۰ھ وفات شوی دی (۱)

(۵۸) سید غلام دهلوی:

په ۱۱۵٦ھ زوکړی، په ۲ د صفر ۱۲٤۰ھ په دهلی کښې وفات شوی دی، د خپل عصر لوی عالم او نقشبندی مرشد و (۲) چه د احمدشاه بابا مشهور عرفانی معاصر دی

(۵۹) مولانا خالد:

په کردستان کښې زوکړی په ۱۲٤۲ھ په سرهند کښې وفات شوی دی؛ د خپل عصر مشهور عالم و، چه هندوستان ته تللی و (۳) مولانا خالد د احمدشاه بابا د عصر په آخر

(۱) تحائف ص ۳۰٦

(۲) حدیقه ص ۱۸۱ - تذکرهٔ علماء ص ۱۵۵

(۳) حدیقه ص ۱۸۱ - خزینة الاصفیاء د مفتی غلام سرور لاهوری ص ۷۰۰ ج ۱

کښې دقندهار پرخوا، هندته ولاړ، دقندهار له احمد شاهي
علما وو سره مشهوروو .

(۶۰) خواجه عبدالخالق :

دحافظ یعقوب زوی، لهاویسی کورنۍ څخه وو، په
بهادلپور کښې په ۱۱۸۵ ه وفات سو (۱)

(۶۱) شاه ولی الله دهلوی :

دمولوی عبدالرحیم زوی په ۱۱۱۴ ه په ډهلي کښې
زوکړی، په ۱۱۷۶ ه هلته وفات شو، داحمد شاه بابا
دعصر لوی عالم او محقق او زاهد دی، تفسیر دفتح الرحمان
او حجة الله البالغه او نور مشهور تألیفونه لري، لوی او
مشهور عالم وو (۲) شاه صاحب پخپلو مکتوبو کښې د
احمد شاه بابا د هندوستان دور تګ ذکر کړی دی (۳)

(۱) حدیقه ص ۲۷۲
(۲) تذکرهٔ علماء هند ص ۲۵۱ ـ ابجد العلوم دصدیق حسن خان ص
۹۱۲ دبهوپال طبع .
(۳) وګورئ اول مکتوب دکلمات طیبات ص ۱۵۸ دډهلي طبع .

شاه صاحب په تصوف او فلسفه او دیني تطبیقا تو کښې
دخپل عصر امام دی، دی دوروستني عصر، اسلامي لوی
محقق گڼل کېږي، آثار ئې ډېر مفید او غوره دي.

(۶۲) میرزا عبدالرشید بیهقی:

د سید احمد بیهقي زوی، او د ظاهري او معنوي علم
خاوند دخپل عصر لوی عالم وو، شیخ عبدالاحد سرهندي
پخپلو مکتوباتو کښې دی ستایي، د کشمیر او سیدونکی وو
په ۵ درجب ۱۱۸۰ ه هلته وفات شوی دی (۱)

(۶۳) خواجه عبدالرحیم نقشبندي:

د خواجه محمد شریف زوی، په دهلي کښې
د «شیخ کمال» په لقب د پاچا له خوا مشهور وو،
په علم او سلوک کښې شهرت اري، د احمد شاه بابا
د سکانو په جگړه کښې د ده لوی ورور شهید سوی، دی
په کشمیر کښې د عمر په سلم کال په ۱۲ د جمادي الاول

(۱) تحائف الابرار ص ۷ .

۱۲۰۰ ه وفات شوی دی (۱)

(٦٤) شیخ سعدالله د نوښار :

دحافظ برخوردار قادری زوی او په نوښار کښې زوکړی، هلته په ۱۱۷۵ ه کښې وفات او ښخ شوی دی، داحمد شاه بابا دعصر عالم او طبیب وو (۲)

(٦٥) شیخ محمد عظیم قادری :

دلاهور په ~~حدود~~ لتو کښې تولد او په ۱۱۸۱ ه هلته وفات شوی په حجره کښې ښخ دی، د احمد شاه بابا معاصر عالم اوسیددی (۳).

(٦٦) سید سردار شاه :

قادری عالم دی، په حجره کښې د لاهور زوکړی، په ۱۱۸٤ ه په بکوال کښې د لاهور وفات او ښخ

(۱) تحائف الابرار ص ۷۳

(۲) حدیقه ص ٦۱

(۳) حدیقه ص ٦۱

شوی دی، د احمد شاه بابا د عصر مشهور مرشد دی (۱)

(۶۷) سید محمد رازق:

دسید ها شم زوی عمرئی ۷۴ کاله وو په ۱۱۱۰ ه
زوکړی په ۱۱۸۴ ه وفات شوی، او داحمد شاه بابا
دعصر مشهور قادری عالم وو (۲)

(۶۸) حافظ هدایت الله د پیښور:

په علوم نقلیه او عقلیه کښی استاد، اودپیښو روو، په
۱۱۸۱ ه کښی هلته وفات شوی دی (۳)

(۶۹) شیخ عبدالوهاب نوری:

د شیخ رشید الدین زوی، اود احمد شاه بابا دعصر
زبردست او مشهور عالم وو، په ۱۱ دربیع الثانی
(۱۱۸۶ ه) په کشمیر کښی وفات او ښخ شوی دی
عین العرفان، فتحات کبرویه، قواعدعشره، ئی تالیف

(۱) حدیقه ص ۶۱
(۲) حدیقه ص ۶۲
(۳) تحائف الابرار ص ۲۵۳

کړی دی (۱)

(۷۰) ملا ابوالوفاء :

داحمدشاه بابا له خوا د کشمیر مفتی وو، په ۱۹ د محرم (۱۱۷۹ هـ) هلته وفات او ښخ شوی دی، لوی عالم وو، دانوار النبوة کتاب ئې تألیف کړی او په فقه کښې ئې څلور جلده د مسائل فرعیه تحقیق لیکلی دی (۲)

(۷۱) ملا محمد :

د ملا اشرف چرخی زوی وو، په کشمیر کښې او سېدی، په (۱۱۷۹ هـ) ئې وفات کړی دی (۳) ښه عالم او شاعر وو

(۷۲) مولانا حسام الدین :

د شیخ الاسلام مولوی امان الله وراره وو، په دهلی کښې ئې علوم تحصیل کړه په کشمیر کښې اوسېدی، ښه شاعر هم وو،

(۱) تحائف ص ۲۵۵

(۲) تحائف ص ۳۰۲

(۳) تحائف ص ۳۰۲

په (۱۱۹۷ هـ) وفات شو (۱)

(۷۳) شیخ الاسلام مولوی قوام الدین:

د مولانا سعدالدین زوی، او د احمد شاه بابا د عصر زبردست او جامع عالم وو، د بلندخان د حکومت په وخت په کشمیر کښې د احمد شاه بابا په حکم په لقب د شیخ الاسلام قاضی شو، رسالهٔ قوامیه دده تالیف دی، په ۵ د ذیقعدې (۱۲۱۹ هـ) په کشمیر کښې وفات سو (۲)

(۷٤) بختاور:

بختاور د تهته د ځای مشر او رئیس وو، د احمد شاه بابا معاصر دی، ده یو کتاب په نوم د «تذکرهٔ لسانی» لیکلی دی (۳)

(۷۵) شاه حسین:

شاه حسین، د سید نور محمد د سید محمد امیر زوی او له قادری

---

(۱) تحائف ص ۳۰۳

(۲) تحائف ۳۰۵

(۳) حدیقه الاسرار فی اخبار الابرار ص ۶۰ د امام بخش افغان

حضراتو څخه دی، وفات ئې په ۲۱ د جمادی الثانی (۱۱۶۲ هـ)
واقع شوی، او د احمد شاه بابا د عصر له قادری مشهورو
عالمانو څخه دی (۱)

(۷۶) شیخ رحمة الله :

د حاجی برخوردار زوی او په ننګرهار کښې د پېښور
زوکړی په ۱۱۶۷ هـ په ننګرهار کښې وفات شوی دی،
له قادریه طریقې څخه دی (۲)

(۷۷) نصرة الله :

نصرة الله قادری د برخوردار زوی، په ننګرهار کښې متولد
او په ۱۱۷۰ هـ هلته وفات شوی او ښخ دی، په سیالکوټ ئې
د علم تحصیل کړی، او د احمدشاه د عصر عالم دی (۳)

(۷۸) حاجی محمد سعید لاهوری :

د نقشبندی لویو خلفا و څخه دی، چه په لاهور کښې

---

(۱) حدیقه ص ۶۰

(۲) حدیقه ص ۶۱

(۳) حدیقه ۶۱

په ۱۱٦٦ ه وفات شوی و د احمد شاه بابا لوی عرفانی معاصر دی (۱)

(۷۹) عبد السلام مجددی :

په کشمیر کښې زو کړی په ۱۱۷۱ ه هلته وفات شوی او نقشبندی دی (۲)

(۸۰) خواجه محمد رضا :

د خواجه عبدالله احرار له کورنۍ څخه په کشمیر کښې زوکړی، او په ۱۱۷۹ ه هلته وفات شوی دی (۳)

(۸۸) شیخ محمد اعظم مجددی :

په کشمیر کښې زو کړی، هلته په ۱۱۸۵ ه کښې وفات شوی، ښه عالم او فاضل او شاعر وو، د پښتو تألیفونه لری (٤)

---

(۱) حدیقه ص ۱۷۷

(۲) حدیقه ص ۱۷۷

(۳) حدیقه ص ۱۷۸

(٤) حدیقه ص ۱۷۸

(۸۲) خواجه کمال الدین :

د خواجه نورالدین نقشبندی زوی او په کشمیر کښې وز کړی په ۱۱۸۸ هـ کښې وفات شوی دی (۱)

(۸۳) محمد غیاث الدین :

د جلال الدین زوی د شرف الدین لمسیٰ او د لکهنو د شاه آباد اوسیدونکی او د احمد شاه بابا د عصر مشهور ادیب اوعالم وو، خپل مشهور کتاب د «غیاث اللغه» ئې په ۱۲۴۲ هـ لیکلی دی ! علاوه پر دغه مشهور کتاب، د سکندر نامې شرح مفتاح الکنوز، او باغ وبهار، او انشاء هم دده تألیفونه دی (۲) په پارسی ښه ادیب وو، غزلیات او قصائد لری، دغه عالم د احمد شاه بابا د عصر د اواخرو دی، نور عمرئې وروسته تېر کړی دی

(۸٤) مولوی رفیع الدین :

د فرید الدین زوی، او د احمد شاه بابا د عصر مشهور عالم او مؤلف دی، په ۱۵ د ذیحجې ۱۲۱۸ هـ

(۱) حدیقه ص ۱۷۸

(۲) غیاث اللغه طبع د لکهنو

په مراد آباد کښې وفات شوی دی ، د عین العلم ترجمه ، د نووی دار بعین شرح ، کنز الحساب ، تذکرة المشائخ ، کتاب الاذکار ، تذکرة الملوك ئې مشهور تألیفونه دی ، ده یو بل کتاب په نوم د « تاریخ افاغنه » هم لیکلی دی (۱)

(۸۵) ملا ح فرالدین :

په قوم عرب او د احمد شاه بابا د عصر مشهور عالم او ولی دی ، چه و روسته ئې ډېر شهرت موندلی ، او د میان فقیر الله صاحب څخه ئې استفاده او استفاضه کړې وه ، لکه چه ډېر مکتوبونه د میان صاحب د مکتوبات دده په نامه صادر شوی دی (۲)

ملا فرحالدین اخوند په ۱۱۵۹ ھ زوکړی او په عمر ۸۲ کاله په ۱۲٤۱ ھ په قندهار کښې وفات شوی او د هرات بازار پخپله جامع کښې ښخ دی ملا صاحب دخپل عصر مشهور عالم وو ، ډېر مشهور عرفانی شاگردان او

(۱) تذکرهٔ علماء هند ص ٦٦

(۲) وگوری مکتوبات د میان فقیر الله صاحب ،

مخلصین ئې درلوده ، ده په پښتو یو کتاب منظوم لیکلی دی، چه « تعداد الکبائر » ئې بولی ، دغه مصراع ئې دوفات تاریخ دی « رفت قطب زمین مدار زمان »

(۸۶) محمدفاضل انصاری :

دمیان فقیرالله معاصر اوشاګرددی ، پلارئې پیرمحمد اونیکه ئې ملاالیاس انصاری دی، دخپل استاد مکتوبات ده سره ټول کړی، اود کتاب په ډول ئې مرتب کړی دی اوهر مکتوب نه دهغه لوی عالم دده په نوم لیکل شوی دی (۱)

(۸۷) محمدعلی خان مبتلا :

دمشهددی ، چه داحمدشاه بابا دجلوس په لمړی کال ۱۱۶۱ ھ ئې یو کتاب « منتخب الاشعار » کښلی دی، چه قلمی نسخې ئې په بود لینا او لاهور کښې سته (۲)

(۸۸) برهان خان :

دپښتو له لویو شاعرانو څخه دی، چه داحمد شاه بابا

(۱) و ګوری مکتوبات .
(۲) دلاهور دشرقی کالج مجله .

معاصر وو، دده له اشعارو څخه ښکاره ده، چه د احمدشاه بابا دپانی پت په لښکرو کښې شامل وو، او ددغه تاریخی جنګ کیفیت ئې په شعر ویلی دی (۱۱۷٤ ﻫ)

برهان خان ملی شاعر دی، چه د پښتنو حماسی افکار ئې پخپلو اشعارو کښې ښه راوستلی، او د پښتنو دتو لواک دفتوحاتو په افتخار ئې خوازه اشعار ویلی دی

ددې ملی شاعر نور احوال موږ ته نه دی ښکاره، فقط دغه څو بیتونه دده له منظوماتو څخه لاس ته راغلی دی:

احمد شاه باد شاه په غوره وو یله

د غزا په نیت ځمه له کابله

پښتنی مغولی لاندی کړې کفارو

دا خبره می په زړه و ګرزید له

یا به ننګ دپښتانه بیرته په ځای کړم

یا به بایلم ککری پرې باندی خپله

داټك په سیند ئې دوه پله تیار کړل

بادشاه پریوت په مانجه ئې میشته کړ له

هرسپاهی ئې ترپنځو تنه کم نه وو

دروتاس دژئې بې جنګه واخیستله

مخامخ سو جنګ ئې ښځې کړ په میدان کښې

دوه رخه ئې توپخانه و چلوله

سمن خان مؤمن خان دواړه شهیدان سول

احمد شاه دزړه ئی ستن ونړوله

اوه ورځې وه تیاره بیار ښائې شوه

دبا هوز غره ئې په وینو واړله

مربېی په اور دغم ناري سوري شوې

د پښتو ن توره ئې هله و منله (۱)

په دې ډول برهان خان داحمدشابابا له ادبی معاصرینو

او رجز ویلو او حماسه ویونکو ادیبانو څخه دی،

ډار مستېر فرانسوی مستشرق وایی چه دی دنادرزوی

اودسرحدد هزاره په علاقه کښې اوسېدی (۲)

---

(۱) د کابل مجله ج ۶ ص ۷۳

(۲) دپښتو نخوا دشعرهار اوبهار، دپاریس طبع ۱۸۸۸ ع

## (۸۹) افضل خان ختك :

د مشهور خوشحال خان لمسی، او د اشرف خان هجری زوی، او له پلار ه او نیکه څخه ادیب او فاضل وو، چه د احمد شاه بابا له علمی او ادبی معاصرینو څخه دی.

افضل خان ختك د پښتنو د علم او ادب په کورنی کښی روزلی شوی، او د پښتو ژبی له مؤلفینو څخه دی. چه په پښتو ژبه ئې «تاریخ مرصع» لیکلی، او د پښتنو د انساب او تاریخی حوادثو ښه معلومات ئې پکښی یوځای کړی دی، د تاریخ مرصع نسخې خورا نایابی دی، او فقط دا نګریزی پښتو پوهانو په لاس کښېو تلی دی، چه یو باب ئې مستر راورتی انګریز پخپل کتاب «ګلشن روه» په ۱۸٦۰ع کال د هر تفرد په ښار کښی چاپ کړی (۱)

او دغسی هم پادری هیوز انګریز په «کلید افغانی» کښی نشر کړی دی (۲)

---

(۱) له یوه تر ۵۳ مخه د ګلشن روه.

(۲) له ۲۰۵ تر ۲٤۰ د کلید افغانی دلاهور چاپ ۱۸۹۳ع

متاسفانه ددغه نادر کتاب نوری برخی نه دی چاپ شوی، او نسخی ئې هم نه دی معلومی . دافضل خان له تألیفا تو څخه بل « علم خانهٔ دانش » (۱) دی، چه دابوالفضل کلیله اودمنه ئې پښتو کړې ده .

افضل خان دخپل قوم خان اوامیروو، کابل ته ئې هم سفرونه کړی اود (۱۱۸۳ ه) کال د شعبان په میاشت وفات شوی دی، چه کاظم خان شیدا دپښتو نامتو شاعر اودده زوی چه په (۹) نمره کښې ئې موږ ذکر وکی، دده دوفات تاریخ ئې داسې پیدا کړی دی (۲)

تاریخ ئې دا رنګ در حلت وویې
خرد وماته «میاشت ده شعبان» وه

کال در حلت ئې له مانه واروه
« بهشت ئې ځای شه دعا کوم زه »

(۱) دراورټی دګلشن روه دیباجه ص ٥
(۲) دشیدا قلمی دیوان چه دده کن په حیدرآباد کښې دی .

(٩٠) محمدی صاحبزاده:

د شیخ میان محمد عمر صاحبزاده‌زوی په‌قوم څوکنی او داحمد شاه بابا دعصر له مشهورو مشایخوڅخه وو، چه دننگرهار اوپیښور په خواوو کښې ئې هستوګه دراوده، محمدی دپښتو ژبې خوږژبی شاعردی، چه دیوان هم‌لری اود کاظم خان شیدا سره‌ئې لیك درلود، چه‌شیدادخپل دیوان په‌دیباجه کښې ددغه ذکر کوی، اووایی، صاحبزاده محمدی جیده طبع اوښکلی اشعار لری،
ددې شاعر له دیوانه څو بدلی په «کلید افغانی» کښې هیوز اقتباس کړی دی (١) خلاصه محمدی داحمدشاه‌بابا دعصر له پښتنو ادیبانوڅخه ووچه تر(١١٥٠ه)وروسته ژوندی وو.

(٩١) کاظم:

دپښتو له ادیبانو څخه دی، چه داحمدشاه بابا په عصر دخټکو دا کورنې په سرای کښې میشته‌و و اوپه پښتو ښه اشعار لری، چه هیوز په کلیدافغانی کښې دده له‌دیوانه

(١) کلید افغانی ص ٣٦٦ _ ٣٨٤_٣٨٥ _ ٣٩٨

یوه بد له چاپ کړی ده (۱) او کاظم خان شیدا د ده همعصر، او همنام شاعر دخپل دیوان په دیباچه کښې هم دده ذکر کوی (۲)

(۹۲) میان نورمحمد نور زائی:

داحمدشاهی عصرله مشاهیر واو لو یو علما وو څخه دی، چه په طریقت او سلوك کښې د مشهور میان عبدالحکیم کاکړ مرید وو، اوډېر تألیفات لری، چه یو له هغو څخه (مقالهٔ عالیه) ده په تصوف کښې، او ددوی په امر د هغه عصر یوه مشهور مؤلف او عالم مرحوم ملااحمدقندهاری (ونمرهٔ ۹۳ ته رجوع) د(تعلیم السلوك) په نوم شرح پر لیکلې ده، میانصاحب په قندهار کښې په علم اوزهداوتقوی ډېر شهرت درلود، اومرقدئې دمنارې په کلی کښې دقندهار جنوبی خواته دی، چه (۱۰۰) فته جگه مناره داحمدشاه بابا په عصر کښې پر جوړه شوې ده.

(۱) کلید افغانی ص ۳٦۷

(۲) دشیدا ددیوان دیباجه ص ۷ـ۸

میانصاحب په ۱۱۷۲ هـ کال وفات شوی دی .

(۹۳) ملا احمد الکوزی :

ملا احمد د اسماعیل ابدالی قندهاری زوی د احمد شاه بابا

د عصر د قندهار له مشهور و علماوو او مؤلفینو څخه

او د قندهار قاضی وو . ملا احمد په عقلیه او نقلیه علومو کښې

د خپل عصر اعلم وو ، او ډېر نامدار شاگردان او مؤلفین ئې

روزلی او تعلیم ئې ورکړی دی لکه مشهور د قندهار محقق

مولوی حبیب الله او نور (۱)

ملا احمد د قندهار په ښار کښې اوسېدی ، او تل به علماء

او فضلاء ورڅه تول وه ، تر اوسه د ده د علم او فضل خبری

مشهوری دی .

د ده تألیفونه ډېر دی ، په اکثرو علمو کښې ئې نافع

کتابونه لیکلی دی ، چه له هغو څخه یو « تعلیم السلوک » ،

شرح پر « مقالهٔ عالیه » د مولانا نور محمد ده . په پارسی رسالهٔ

« کاشفه » او په عربی ئې « رسالهٔ فارقه »

(۱) د محقق قندهاری قلمی د رسائلو مجموعه ، او رجوع نمره (۱۳) ته .

په تصوف کښې لیکلی دی ، دغسې هم یو بل کتاب ئې
( بیان وافی الطوائف الصوفیه ) په عربی لیکلی ، او
په منطق کښې ئې دقطبئ پرمیرزا باندی شرح کړې ده.
ملا احمد داحمدشاه بابا ترعصر وروسته دېر عمر ژوندی ،
او په قندهار کښې دعلماوو مرجع وو ، دعید گاه دروازې
دباندی په عمومی هدیره کښې ښخ دی .

( ۹٤ ) ملا محمد نور توخی :

ملا محمد نور د محمد حسن زوی دعبدالحبیب لمسی نورخېل
توخی له هغو علما وو څخه دی ، چه داحمد شاهی عصر
په پای کښې وو ، او وروسته ئې زامن او لمسیان د تفسیر
په علم او د قرآن عظیم په ترجمه کښې دعامو مرجع وه او دی.
ملا محمد نور په طریقت کښې دمیان فرح الدین
(رجوع نمرهٔ ۸۵ ته) مرید وو ، له تألیفاتو څخه ئې په عربی
یو کتاب « جامع السلوك » سته .

( ۹۵ ) دنادرنامې ناظم :

داسړی اصلاً دخراسان ، او دیوه خراسانی ادیب

«قاسمی» له کورنۍ څخه وو، چه د مشهور مستشرق پرفسور براون انګلیس په قول ئې د فردوسی د شهنامې په ډول اشعار ویلي، او قلمی نسخه ئې د انګلستان د کیمبرج په دارالفنون کښې سته (۱)

د دې شاعر نوم نه دی معلوم، یو کتاب ئې د «نادرنامې» په نوم د شهنامې په ډول د خراسانی افشار نادر پر شرح حال په (۱۷) زره بیته د حسین خان فراهی په امر منظوم کړی دی، چه دغه حسین خان د احمدشاه بابا له خوا د خراسان حاکم وو، دا کتاب د اعلیحضرت احمدشاه په نامه د (۱۱۷۲ هـ)
ربیع الاول
د لمړي خور په میاشت پای ته رسیدلی دی.

په دې کتاب کښې د اعلیحضرت احمد شاه بابا د پلرو او نیکه ګانو کارنامې په هرات کښې ذکر شوی دی، او د احمدشاه بابا هغه لومړي اقدامات بیان شوی دی، چه د نادرشاه تر مرګ وروسته و کړه، د احمدشاه بابا ستاینه داسې کوی:

---

(۱) د براون د فارسی ادبیاتو تاریخ

کنم خامهٔ فکر را تازه سر بوصف شنهشاه نیکو سیر
جهاندار «احمدشه» سرفراز که در های دلهاست بروی فراز
خداوند دولت برایرانیان در درج اقبال در اینان
بعهد چنین خسروسر فراز (۱) بر ویم شد این باب معنی فراز
(۹۶) عبدالعظیم رانی زی .

عبدالعظیم دنورخان لمسی دسوات دی ، چه په (۱۱۶۷ ھ)
په سوات کښې زوکړی ، او تر (۱۲۵۳ ھ) وروسته
هلته مړدی .

عبدالعظیم له هغو پښتنو شاعرانو څخه دی ، چه
داحمدشاه بابا په عصر کښې لوی شوی ، او منځ ته راغلی
دی . عبدالعظیم دپښتو ژبې ښه شاعر ، او ددیوان خاوند
دی ، په سبک کښې رحمان باباته ورته دی ، دی دخپل
عصر ښه عالم هم و ، دابیتونه دده دی :

په جهان چه ستاد حسن کاروان پر بوت
له هیبته په گلونو خزان پر بوت

(۱) نادر نامه، قلمی

چه داستا ښکلی گلشن ئې په نظر شو

عندلیب له محبته حیران پر بوت

تور دستر گو می په د ښره ژړا سپین شو

لړ مانه وته می تاو د هجران پر بوت

خدای دی مر گ کاندی میلمه په « عظیم » باندی

چه له لاسه ئې د صبر میزان پر بوت

(۹۷) ملاز بر دست :

له هغو پښتنو ادباو څخه دی ، چه د احمد شاه بابا په عصر کښ روز لی شوی دی ، دی د کرم خان زوی د جلال لمسی او په قوم کاکړ وو ، چه د قندهار په شاو خوا کښ او سېدی . ملاز بر دست وروسته په ( ۱۲۲٦ هـ ) یو پښتو کتاب « روضته النعیم » په لنډه مثنوی نظم کړی ، او دده اشعار دینی او اخلاقی رنگ لری ، دی وایی :

من لم یظلم لم یظلم

څوك چه ظلم پر چا نکړی کله ظلم څوك پر ده کړی

چه بد نکړی بد نه مومی نیکان کله بدی مومی

کښته خپله هر څوک لوکا خپل کړلی هر څوک دروکا
نیکوکاره نیک رفتار کړه (۱) له هر چانیکی اختیار کړه

(۹۸) اخوند گدا:

اخوند گدا دپښتو ژبی یو مصنف او شاعر دی، چه داحمد شاه بابا په زمانه کښ ژوندی، او ده یو کتاب چه «نافع المسلمین» نومیږی، منظوم کړی دی.

اشعار ئې ډیر دینی او اخلاقی دی، تر (۱۱۷۲ هـ) پوری لا ژوندی وو، یو دغزلو مستقل دیوان هم اری، دا رباعی دده ده:

دسحر چرگه خوز شې په کومی
چه تا ناري کړې دلبر می درومی
یومی دلبرځی بل رانه زړه وړی
زړه می پداوړی چه دلبر نومی

(۹۹) قاسم علی افریدی:

داحمد شاه بابا دعصر یو مشهور پښتون ادیب دی،

---

(۱) روضة النعیم - قلمی

چه د (۱۱۵۰ هـ) تر (۱۲۰۰ هـ) پوری ژوندی وو راورټی مستشرق لیکی، چه د هند په فرخ آباد کښې زوکړی دی، په انګریزی او تورکی ژبه هم پوهیدی او هغه وخت چه انګریزان لمړی د پلا هند ته را غله، نو ده په یوه قصیده کښې دغه حال داسی تصویر کړی دی.

نصارا په هندوستان حکومت کاندی
چرته ولاړ هغه ځوانان شمشیر زنګی
بقالان وه سپاهی په هندوستان شوه (۱)
درو یزه کاندی اسراف چنګی چنګی

(۱۰۰۸) میاعمر څو کنی:

دامشهور شاعر او عالم او روحانی سړی د احمد شاه بابا معاصر وو، دی د پېښور په څوکنو کښې اوسېدی، او احمد شاه بابا دده سره علمی او روحانی روابط درلوده، هره پلا چه به احمد شاه بابا پر دغه لار هند ته تی، دده سره به ئې ملاقات تو نه کول.

(۱) دمستر راورټی د پښتو گرامر مقدمه ص ٤٦

میا عمر علاوه پر نورو تصانیفو یوه د پښتنو اقوامو شجره هم په پښتو منظومه کړې ده (۱)

(۱۰۱) مسعود گل پاسنی:

د پښتو ژبې ښه شاعر، او د احمد شاه بابا له معاصرینو څخه دی، دی د میاعمر څو کنی سره ډېر ارادت لری، او د هغه مشهور روحانی څنی مناقب ئې په پښتو ژبه په خورا سلاست منظوم کړی دی، چه یوه نسخه ئې د لندن په موزیم کښې سته (۲)

(۱۰۲) عبد الکریم کاکړ:

د قندهار له علماوو څخه وو، چه په (۱۱۵۱ هـ) زوکړی، او په (۱۲۳۵ هـ) چه د خلور اتیا کالو وو، په قندهار کښې وفات شوی دی، ده د عربی عین العلم ترجمه په پښتو نظم د « زین العلم » په نامه کړې او په (۱۲۳۴ هـ) ئې ختم کړې ده، هلته وایی:

(۱) صولت افغانی (۲) گلشن روه افغانی ص۸ ۳

د ښه خوی گټه ده ډېره — له گنهلو تراند تېره

هغه څوك چه اخلاقی وی — دهغه نوم به باقی وی

که دچا اخلاق ښه نه وی — دهغه به ژوند ښه نه وی

دا سلام خو ښه اخلاق دی — چه په درستا دیانو طاق دی

دا سلام دین دی راغلی — پیغمبر دی پاځېدلی

چه پوره کی ښه اخلاق — اوپر ځای کی دامیثاق

چه «انی بعثت» وروره — «لاتمم» هم گوره

## احمدشاه بابا داروپائی او نورو مؤرخینو

## په نظر کښی

لاندی لنډ لنډ داروپائی او نورو مؤرخینو او لویو مستشرقینو نظریات نسبت واحمد شاه بابا ته لیکو، چه هغو څنگه بللی دی؟ دمشرق وسطی په تاریخ کښی خودده منزلت او عظمت ښکاره دی، بده نه ده چه داروپا د محققینو په افکارو هم څه نه څه خبرشو:

دار و پــا مشهور پښتو شنـاس ایچ ،جی را ورتی چه داعلیحضرت امیر دوست محمد خان په عصر کښې ژوندی وو، پخپل پښتو گرامر کښې داحمدشاه بابا ډیر اشعار دمثال او سند په ډول ذکر، اووایی :

«احمدشاه ابدالی ، ددرانو دسلطنت لوی مؤسس ، او دپانی پت دمیدان لوی بریالی وو، اشعار ئي یوه عشقی د تصوف پیرایه لری، چه ډیر داحترام و ړدی(۱) »

مستر فریر فرانسوی مستشرق لیکلی دی: «احمدشاه بابا په ښند نه او سخاوت داسی کارونه و کړه ،چه په بل ډول گران وه »

کلنل جــی، بی ملـیسون G. B. Malleson انگلیس مورخ دافغانستان په تاریخ کښې لیکـی «احمد شاه یو اتحادی حکومت « فیوډل سیستم » جوړ کی، د ملت سرداران ئي پر کارونو مقرر کړه، اوله پښتنو شخه ئي دا خواست وکی ، چه « د خــدای د پاره ننگ

(۱) دپښتو گرامر دیباجه طبع د کلکتې ۱۸۵۶ ع

وکړی ، او یو موټی شی (۱) »

مستر مکمن Macmun انګلیس پخپل تاریخ کښې د احمد شاه بابا فتوحات د امپراطور افغان په نوم په ښه ډول ذکر کوی ، او دده فتوحات په ښه ژبه ستاییی (۲)

د فرانسه معروف مؤرخ او فیلسوف ډو کټور « ګوستاولوبون » لیکی :

« د مرهټا نو ملا د پانی پت پر میدان په ۱۷٦۰ ع کال پښتنو (احمد شاه) ورماته کړه ، او دوه لکه لښکرئې ور قتل کی ، اوله زورهٔئې وا چوله (۳) » مستر اې مارسډن انګلیسی مؤرخ لیکلی دی :

« احمد شاه په آسانی د ډهلی پاچا سو ، او لکه محمود غزنوی ، او محمد غوری ځوواره ئې پښتانه پر هندوستان

(۱) د ملیسون انګریزی د افغانستان تاریخ له قدیمی زمانې د ۱۸۷۸ ع ترجنګه ۲ طبع د لندن ۱۸۷۹ ع

(۲) افغانستان له دارا تر امان الله تألیف د مکمن طبع د د لندن ۱۹۲۹ ع ص ٦٤ ـ ٦۷

(۳) تمدن هند طبع د آګرې ۱۹۱۳ ع ص ۱٦۳

راو بهول او د مرېټانو دوه لکه لښکر ئې ووژل (۱) »

سر جان ملکم انګلیسی مؤرخ لیکی :

« احمد شاه ځو واره پر هند لښکرو کښښ ، هروار ئې بری وموند ، ده د قوم د فکره سره سم حکومت کاوه ، تو له ملت په احترام ورته کتل ، د هندوستان او افغانستان لوی فاتح دی ، مرېټا نو ته ئې لو ماته په پانی پت کښښ ورکړه (۲)

ګرانټ ډف انګلیسی مؤرخ لیکی :

« د پانی پت جګړه د هندوستان د مهابهارت تر جګړې وروسته لوه جګړه ده ، په دروورځو کښښ (احمد شاه) دوه لکه مرېټان مړه کړه ، او فقط شپږمه برخه ئې په ژوندو تښتېدلی (۳)

(۱) تاریخ هند ج ۲ ص ۲۶۷ طبع د ۱۹۲۸ کلکته

(۲) تاریخ سرجان ملکم ج ۲ ص ۱۲۷ بمبئی ۱۳۲۳ ه

(۳) هسټری آف دی مرهټاز

علاوه پردغو ځینو نورو ددې عصر مؤرخینو داسې لیکلی دی :

علامه شکیب ارسلان لیکی :

« د احمد شاه بابا د مخه د هندوستان اسلامی دولت په خطر کښې وو، په ۱۷۶۰ ع چه احمد شاه د ډهلې وینولی نو هندوانو لکه د غزنوی یا غوری حکومتو په ډول د هندیو نوی دولت و باله، له هری خوا ئې مقابله ورسره وکړه، مګر ده د پانی پت پر میدان په (۷) د ینا یر ۱۷۶۱ ع لکه پخوا بیرته اسلام ته بری ورکی (۱) »

علامه فرید وجدی د مصر مشهور عالم لیکی :

« احمدشاه بابا پر هغو مرېتا نوچه تیموری شاهانئې عاجزه کړی وه ښکاره بری و موندلی، او لویه ماتهئې ورکړه، دی زړه وراوپوه، او عادل اوزړه سواندی او حازم سړی وو، پښتنو لکه مهربان پلار داسې باله، او دبابا لقبئې ورکی (۲)

(۱) حاضر العالم الاسلامی ص ۳۴۲ ج ۲

(۲) دائرة المعارف دفریدو جدی ص ۸۴ ج ۶

علامه‌سید سلیمان ندوی دهندوستان مشهور محقق لیکی:

« احمد شاه ذاتاً اوی او لوالعزم ، او تجربه کار او فاتح سپه‌سالار وو ، اما لکه نور فاتحین په انتظام نه‌رسیدی ، دهندوستان مسلمانان پر دغه دده ډیر ممنون دی ، چه مرهټان ئې له شمالی هنده‌وایستل ، (۱) »

## داحمدشاه بابا کلام او مستشرقین

په اروپائې مستشرقینو ، او دمشرق دژبو په پوهانو کښې مستر راورتی Raverty انگلیس خورا مشهور ، او ددی ژبی لوی خادم دی ، ده‌دپښتو ژبی دوه‌مهم کتابونه نشر کړی دی ، یو کتاب ئې « گلشن روه » دی ، چه په ۱۸۶۰ ع ئې دهرتفرد په‌ښار کښې په حروفی طبع ، چاپ کړی ، او دپښتو ژبی د (۱۶) جلدو زړو قلمی آثارو څخه‌ئې انتخاب کړی دی ، په‌دغه کتاب کښې (۱۲) مخه داحمد شاه بابا له دیوانه نقل شوی دی ، اوراورتی

(۱) دعلامه سید سلیمان ندوی یاد داشتونه

احمدشاه بابا د پښتو یو ښه شاعر ګڼی ( لکه دمخه چه ذکر شوه )

بل کتاب دراورټی د پښتو ضخیم ګرامر دی ، چه په ۱۸۵۶ ع په کلکته کښې چاپ شوی او په دغه کتاب کښې راورټی د بېر دا حمد شاه بابا اشعار دسند په ډول ذکر کوی .

پادری هیوز انګلیس The Rend. T. P. Hughes په کلید افغانی کښې چه په ۱۸۹۳ ع په لاهور کښې چاپ شوی دی ، دا حمد شا بابا له دیوانه څنی بدلی انتخاب کړی دی .

اوعلاوه پر دغه ډار مستتر j. Darmesteter فرانسوی مستشرق چه د پښتو په ادب کښې ئې پلټنی کړی دی ، احمد شاه بابا د ملی شاعر په حیث پېژنی .

پارسی اشعار

احمد شاه بابا که څه هم پښتون وو ، مګر په پارسی او عربی کښې ئې هم ښه لاس درلود ، ویل کیږی ، چه ده یو

دافغانستان تاریخ په‌پښتو لیکلی، اوپه پارسی هم داشعارو دیوان لری، مگرافسوس چه ورك دی، دغه دوه بیتونه په پارسی وده ته منسوب دی (۱)

ما به صلحیم و فلك درپی جنگ است اینجا
دل ازین حادثه بسیار بتنگ است اینجا

ما تباهی زدگانیم درین بحر فنا
تختهٔ کشتئی ما پشت نهنگ است اینجا

دغه یو بیت هم داحمدشاه بابا په‌نوم اروېدل شوی دی، چه‌دده دپاچهۍ اصول‌اودعدالت‌افکار ښه‌ځنی ښکاره‌دی:

ای وای برامیری کز داد رفته باشد
مظلوم از در او نا شاد رفته باشد

په‌دې مطلع احمد شاه بابا دخپل معاصر پارسی شاعر شیخ علی حزین ددې مطلع استقبال کړی‌دی، مگر په‌مقصد کښې زموږ دپلار بیت ډېر لوړاوقیمت لرونکی‌دی، حزین وایی:

(۱) مجلهٔ کابل ج ٤ ص ۱۵۲

ای وای بر اسیری کز یاد رفته باشد

دردام مانده باشد، صیاد رفته باشد

داحمد شاه بابا د دغی بدلی نور بیتونه چه پخوا می اروېدلی وه، له یاده وتلی دی.

باڼه = مژگان

باڼو =

وژغله = [illegible]